پښتو نوی مصدر

مولف: ډاکټر عبدالرازق پالوال

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

پښتو نوی مصدر

مولف: ډاکټر عبدالرازق پالوال

کمپوز، ترتیب او اهتمام: محمدهارون صمیم

لومړی چاپ: ۱۳۵۰ل .

دوهم چاپ: ۱۴۰۵ل. ۲۰۲٦م.

خپرندوی: کندهار نشراتي مرکز

د موندلو ځایونه: صداقت خپرندویه ټولنه کندهار

کابل: (سروش کتاب پلورنځی، اکسوس کتاب پلورنځی، دانش کتاب پلورنځی)

ټول حقوق محفوظ دي.

haroonsamim۱۳۷۱@gmail.com

+۹۳۷۰۰٦۰۹۳٦۱

ketabton.com - The Digital Library

د پیل خبري

پښتو نوی مصدر د ډاکټر عبدالرازق پالوال اثر دئ، چي لومړی ځل په ۱۳۵۰ل. کال کي د کابل پوهنتون ژبو او ادبياتو پوهنځي د ورږمې مجلې د درو ګڼو پر ځای چاپ سوی او خپور سوی دئ. دا اثر د خپل ژبنيز او ګرامري ارزښت له مخي په يو ځل نه؛ بلکي په څو څو ځله چاپولو ارزي، چي خوشبختانه دا دئ اوس د دوهم ځل له پاره چاپيږي.

ښاغلي پالوال په دې کتاب کي د پښتو د نوي مصدر په اړه ډېر ګټور او مهم بحثونه کړي دي او د پښتو د پخواني مصدر، چي اصلاً د ګرامرپوهانو او ګرامرليکوالو له خوا د پښتو ژبي د نورو ګرامري قاعدو په څېر، د عربي ژبي په تقليد او پيروي ليکل سوی دئ، څېړلی او نقد کړی دئ او د پښتو د اصلي او نوي مصدر په اړه ئې د نورو اريايي ژبو سره په مقايسوي ډول علمي بحثونه او نوي خبري کړي دي.

دا کتاب د اول چاپ په څېر کټ مټ کمپوز او ليکل سوی دئ؛ که څه هم ليکوال د فعلي يا(ئ) استعمال د اوسني لوېديځ ليکدود په څېر ليکي؛ خو د نورو ياګانو استعمال ته بيا د هغه وخت د چاپي امکاناتو له وجي پام نه کيږي. په دې اړخ کي مي کوښښ کړی دئ، چي د ياګانو استعمال د اوسنۍ املاء او ليکدود په څېر وساتم او هم هغه سربلونه او د نفي او نهي توري، چي د نورو کلماتو سره په اول چاپ کي ګډ ليکل سوي دي، په دې چاپ کي سره جلا جلا وليکم.

د تېر (۱۴۰۴ل.) کال په شروع کي د مرحوم پالوال صاحب له زوی پاچا پالوال سره د دوی د پلار د مخکنيو چاپي آثارو د بيا چاپ او ناچاپو آثارو

ketabton.com - The Digital Library

د چاپ په اړه وږغېدم، چي خوشبختانه هغه په دې برخه کي د هر راز همکارۍ ډاډ راکړ او ما هم د مرحوم پالوال د مخکنیو چاپي آثارو پر بیا چاپ او د ناچاپو آثارو تر څنګ، د هیواد په مطبوعاتو کي د پالوال صاحب پر خپرو سوو لیکنو او شعرونو باندي د دوی په مشوره کار را شروع کړ، چي په دې سلسله کي دا دئ د پښتو نوی مصدر د چاپ له پاره آماده سوه. بدبختانه پاچا پالوال د ۲۰۲۵م. کال د اکتوبر پر ۳۱مه وفات سو او د خپل پلار د ناچاپو آثارو د خپرولو ارمان ئې له ځان سره ګور ته یووړ؛ خو بیا وروسته د مرحوم پالوال صاحب له پتمني لور جمیلې پالوال او زوم ښاغلي محمد هاشم مومند سره په تماس کي سوم، چي هغو هم په دې برخه کي د هر راز همکارۍ خبره وکړه او د پالوال صاحب د آثارو د چاپ له پاره ئې اجازه او مشوره راکړه.

دا کتاب د مرحوم پالوال د لور او زوم په مالي کومک تر تاسي پوري در رسیږي. د دوی ئې کور ودان چي د نېکو او صالحو اولادونو په توګه نه یوازي د خپل پلار آثار چاپوي؛ بلکي د پښتو ژبي د یو مهم او مغتنم اثر په چاپولو کي همکاري کوي.

په درنښت

محمدهارون صمیم ۱۴۰۵ل. کال د ثور شلمه

ketabton.com - The Digital Library

فهرست

١. پښتو نوی مصدر..٦
٢. پیللوستی ٧
٣. د گرامر کره او بشپړونه ١٣
٤. د مصدر Infinitive پېژندنه ١٦
٥. اینفینېټیو Infinitive: ٢٨
٦. د مصدري نخښي پېژندنه ٣١
٧. د مصدر څرنگوالی ٣٩
٨. ۴، ۳- فاعلي حالت: nominative case ٦٥
٩. ۴۴- مفعولي حالت Accusative case: ٦٧
١٠. ۴- ۵- مفعول الیه حالت Dative case: ٦٩
١١. ۴، ۷- سببي حالت(له- څخه) Causative case: ٧١
١٢. ۴- ۸- انضمامي حالت(له – سره) Commutative case: ٧٢
١٣. ۴- ۹- آلي حالت(په- سره) Instrumental case: ٧٢
١٤. ۴- ١٠- مکاني حالت (په- کښي) Inessive case: ٧٤
١٥. ۴- ۱۴: استیلائي حالت(تر- لاندي) Adessive case: ٧٧
١٦. ۴- ۱۵: استعلائي حالت(پر- باندي) Dominative case: ٧٨
١٧. ۴- ١٦: اضافي حالت(د-) Genetive case: ٧٩
١٨. د مصدر پلټنه ٨٩
١٩. لنډیز او نتیجه ١١٢
٢٠. کتلي کتابونه ١١٨

ketabton.com - The Digital Library

پښتو نوی مصدر

دغه کتاب چي اوس د درنو لوستونکو په مخ کي پروت دئ، د ښاغلي پالوال د ډېر زيار او زحمت په نتيجه کي منځ ته راغلی دئ.

د دغه کتاب د چاپولو په باره کي زه بايد په لنډ ډول دومره عرض وکړم چي: د ادبياتو او بشري علومو پوهنځي د وږمې مجلې د پرمختګ له پاره يو ګټور تصميم ونيو او هغه دا چي د دغي پوهنځي د استادانو علمي اثرونه دي د وږمې مجلې په عوض چاپ شي، چي د همدغي تصميم په اثر د ١٣٤٨ کال د څلورو ګڼو په عوض د(تاريخ څه ته وايي؟) کتاب د چاپ څخه راووت او د پوهنتون په علمي محيط او نورو ځايو کي ئې ډېر ښه استقبال وسو. دوهم اثر همدغه کتاب دئ چي د ١٣٤٩ کال د درې ګڼو په عوض کي منځ ته راووت.

په دغه نېک اقدام سره که موږ د يوې خوا نه د وږمې مجله پر مخ بېولې ده؛ نو د بل پلوه به مو د مجلې په عين مصرف باندي ګټور آثار چاپ او د علم او پوهي علاقمندانو ته وړاندي کړي وي.

زه د دغي پوهنځي استادانو ته د توفيق غوښتنه کوم، چي د علم لمن لا پسي ټينګه کړي او خپلي جامعې ته د علم په ساحه کي د ګټورو خدمتونو مصدر وګرځي.

په احترام

محمد طاهر علمي

د وږمې مجلې مسئول مدير

١٣٥٠/١/٢٠

ketabton.com - The Digital Library

پیللوستی

د دغي لنډي رسالې موضوع زاړه او نوي مصدرونه دي. نوې بلنه ئې دا معنی نه لري، چي دغه مصدري شکل لکه چي تر مخه په ژبه کښي نه ؤ؛ خو اوس جعلي یا نوی جوړ کړه سوي دي. پېښه داسي نه ده. دغه نوي مصدري شکل پخوا هم په ژبه کښي موجود ؤ. که تر زاړه مصدر زوړ نه وئ، نوی هم نه دئ.

نو ئې نوي له دې پلوه بولم، چي تر مخه مو په دغه نامه او صفت سره نه پېژندئ؛ څکه ئې نو داسي هم بللای سو، چي د پښتو نوي پېژندل سوي مصدر. یا تر دغه لا هم په صحیح عبارت د پښتو نوي مصدر څخه مراد د پښتو اصلي مصدر دئ.

اوس چي موږ د زاړه او نوي تر منځ قضاوت کوو؛ نو لیکونکی او لوستونکی باید تر توانه پوري دواړه خپل ځانونه بې طرفه وساتي. دغه کار که ئې غیرشعوري نه وي؛ نو اقلاً شعوري او ارادي خو دي وي. دمخه تر دې چي موږ د تضاد په منځ کښي ودرېږو، باید دا مو له ځانه سره منلې وي، چي موږ په ړندو سترګو د پخوانیو یا اوسنیو اصولو او احکامو طرفداري نه کوو؛ بلکي ځان ته د واقعبینو انسانانو په توګه قایل یو، چي د اثبات له پاره ئې اوس دغه پرنسیپ د زاړه او نوي تر منځ تطبیقوو. یعني د دغه کار نتیجه زموږ د حقانیت او واقعیت غوښتني معیاري ثبوت دئ.

موږ باید نه له زړو شیانو څخه نفرت ولرو او نه د نوو شیانو په مقابل کي حساسیت څرګند کو. دواړه موږ د ژوندانه د پرونیو او ننیو شرایطو محصول

ketabton.com - The Digital Library

دي. تېر ئې هېر او راغلي ئې پر سر سربېر. په ژبه کښي د يوې کلمې تغير او تحول دونه اهميت نه لري. ژبه په دغه راز يوه تحول سره نه کمال ته رسيږي او نه په خواريږي؛ خو دا چي په څکه څکه ئې ځان موړ کئ، معنی که څه نه وي بې څه هم نه دي. د يوې کلمې تحول د ژبي په شعوري پوهه کښي په خپله اندازه سره اغېزه ښندي، چي هغه هم بايد وسنجول سي څو د ښې پوهېدني وسيله گرځېدای سي که يه. دغه علت دئ چي يو گرامر په بل پسي کښل کيږي؛ څو روستني نسبت و دمخني ته د ژبي زده کړه او فهم نور هم اسانه کي. گرامر پوهان دغي غايې ته د رسېدو له پاره نوي لنډي او آسانه لاري لټوي؛ څو خپلو او پردو ته د ژبي لا شعوري اړخ په شعوري توگه سره صحيح، بشپړ او مجوزانه ور وپېژني.

د ژبنۍ پوهي له پاره د گرامر ليکنه هم بېلي سويې لري. په ابتدايي سويه له ډېرو عمومي اصولو څخه بحث کيږي. په منځنۍ سويه د ژبي دغه عموميات توسعه پيداکوي. حتی فرعي اړخونه لا هم ورسره شاملوي؛ مگر په نهايي سويه له مختصاتو څخه بحث کيږي. يعني د ژبي يوه ډېره خاصه موضوع تر څېړني لاندي راوستله کيږي. د هغې مختلف اړخونه بيانيږي؛ څو د دې له پاره ئې اماده کي، چي د عمومياتو په کمه ډله category بايد ور کښېوزي. د گرامر دغه وروستنۍ برخه يوازي د گرامر د زده کوونکو له پاره وي، نه د ژبي د زده کړيانو له پاره؛ يعني د هغو کسانو له پاره چي دوی غواړي په ژبه وپوهېږي، نه د هغو کسانو له پاره چي دوی ژبه زده کوي.

زما دغه اوسنۍ ليکنه هم د گرامر په طبقاتي سيستم کي په وروستنۍ جنبه اړه لري. مطلب دا چي موضوع ئې اختصاص ده او د تدريس گرامر

ketabton.com - The Digital Library

شکل نه لري؛ ځکه نو لوستونکي باید د ژبپوهني له اوسنیو اصطلاحاتو سره اشنایي ولري، چي ځیني ئې ما بېله توضیح څخه استعمال کړي دي.

د محصلینو له پاره د دغي لیکني ښېګڼه یوازي دا نه ده، چي دوی د زاړه او نوي مصدر په ماهیت او اصالت وپوهېږي؛ بلکي مهم اړخ ئې د دوی له پاره لا بل دئ. څرنګه چي دوی د سبا ورځي لیکوال دي او تحول هم له دوی سره اړه لري؛ نو ئې ځینو خواوو ته توجه ور اړوم. دغه تحول او تجدد که څه هم کلچري وي یا اجتماعي او که مجرد لساني؛ خو څېړنه ئې په عمومیاتو کي نسبتاً مشترک روش غواړي؛ ځکه نو د دغي په لاس کي لیکني په لوستنه کي، هیله ده چي د نورو موضوعاتو له پاره دغه لاندنۍ نکتې په نظر کي وساتلي سي.

۱. په جامعه کي د موضوع د مجرد فهم مطالعه په سرسري بیا د تاریخي تسلسل په سیوري کي.
۲. د موضوع یا شي د مختلفو اړخو څېړنه او واقعیت ئې په محیط context کي، یا په هر څو بېلو بېلو محیطو کښي چي دی واقع کیږي.
۳. د پورتنیو دوو خواوو تطبیق او نتیجه اخستنه.
٤. د څېړني موضوع اشتراکي یا اختلافي او یا دواړو مقایسه له ځینو نورو سیالانو سره.
۵. زموږ په ژوندانه کي لږ داسي شیان یا توکي پیداکیږي، چي بېله معاوضې څخه له منځه ځي؛ مګر ډېر ئې باید د دغي پېښي د تر سره کېدني له پاره تعویض سي. که نه تر شدیدو او پر ځای باندي انتقاداتو لاندي لا هم نه له منځه تللي دي او نه ښورځوري. د مثال

ketabton.com - The Digital Library

په توګه موږ د خرافاتو تر نامه لاندې ډېر بې ځايه او غير ضروري توکي لرو، چې دغه واقعيت خلک هم مني؛ خو څرنګه چې ئې موږ مناسب او موزون عوض نه دئ پيداکړی؛ نو دوی هم د موږکانو، لړمانو او نورو خسمانانو په دود دننه په کور کې را سره اوسيږي. مطلب داسې دئ: هر څه چې موږ د تحول وړ بولو، بايد د اوښتني له پاره ئې عوض ولرو څو ځای ئې ونيسي. دغه د مناسب عوض موجودونه نسبت و نورو دلايلو او اعتراضاتو ته د تحول موثرترين عامل دئ.

په متن کې نورې کوچنۍ او فرعي نکتې هم سته، چې فهم او استعمال ئې د لوستونکو ادراک او استفادې ته ور پرېږدم. د دغو فرعي نکتو اهميت پر خپل ځای باندې تر نوموړو عمومي نکاتو په کمه نه دئ.

د دغې رسالې په ليکنه کې مې فقط هغه څو دانې پښتو ګرامرونه تر نظر لاندې وه، چې پښتنو مشرانو د مټه په وچ زور او د تندې په خولو ليکلي دي. يعنې د دوی له پاره مأخذ موجود نه وه. د دوی په وخت کې ژبپوهنې دونه انکشاف نه ؤ کړئ؛ نو هر څه مواد او اصول چې ئې را غونډ کړي او ترتيب کړي دي، هغه ئې د خپل همت او زيار نخښه او نتيجه ده. ما دغه پښتو آثار دمخه تر دې ليکنې لوستلي وه او ځينې مې ئې وروسته تر بشپړېدو لوستلي دي. په ځينو ځايو کې مې مستقيمه استفاده څنې کړې ده؛ مګر په نورو ځايو کې مې په ارادي ډول سره دغه کار نه دئ کړئ. سبب ئې هم دا ؤ، چې ما غوښته خپله ذهني آزادي وساتلای سم او د عصري ژبپوهنې په رڼا کښې د پښتو يوه سلسله داسې عناصر، چې هغه د ژبې د

ketabton.com - The Digital Library

دوو عمده ډلو، اسمي او فعلي عناصرو تر منځ د اتصال کړی وي، څېړني او مطالعه وکم. د دغه کار په نتیجه کښې زه رشتیا هم له عنعنوي لاري څخه اوښتی او بېخي پر بله خوا باندي تللی یم؛ نو طبعاً زما د لیکني او زما د متقدماتو د آثارو تر منځ اختلاف موجود سو، چي هغه ته ما په متن کښې مستقیمه اشاره نه ده کړې.

دغه اختلاف یوازي د علمي نظر مولود دئ او بس.

که موږ د مقدمو مشرانو آثارو ته د قضاوت په سترگه وگورو، هغه هر یو د خپل وخت یوه بې ساري پدیده ده، چي دغه اوسنی رساله ئې حتی د سلمي برخي ارزښت لا هم نه سي موندلای. دا ځکه چي په هغه وخت کي پښتانه د علمي شخصیتو له پلوه څخه ډېر بې کسه او بې کاسې وه؛ نو له طبیعي ماغزو څخه د چا یو کاسه میدان ته را ایستنه د وچخولو منتظرینو اوبه ور تېرونه وه. دوی لومړنی اساس کښېښناوه، چي موږ باید اوس پر هغه باندي ماڼی بنا کو. نن که څوک په ژبه کښې بېخي یو شهکار ولیکي، بیا به ئې هم واقعي اهمیت د پخوانیو آثارو په نسبت کم وي. ولي چي نن په دنیا کي ژبپوهنه او نور علوم ډېر پرمخ‌تللي دي او زموږ هر نوی کار به د نورو یو زوړ کار وي. په هغه برخه کي چي ما له احساساتو یا په ځان له ډېره باوره څخه کار اخستی وي او پر موضوعاتو باندي مي قطعي حکمونه کړي وي، له خپلو لوستونکي څخه بخښنه غواړم؛ ځکه چي نه د متقدماتو او نه زما حکمونه د کاڼي کرښې دي. ژبه له ټولني سره سمه تحول کوي او تر تاریخي زمانو تېریږي.

ketabton.com - The Digital Library

ژبي لکه ژوی ژبړي، لوئیږي، خواریږي او مري او یا د استحالې تر اصل لاندي یو بل شکل اخلي. د ژبي ځیني برخي ژر ژر او ځیني ئې سوکه سوکه تحول کوي. دغه رنګه ئې نو ګرامر او اصول هم ورسره اوړي. دا چي نوموړي ډول حکمونه به د ژبي په تاریخي مرحله او تاریخي ژبپوهنه کي خپل اهمیت نه بایلي، سمه خبره ده؛ مګر که حکمونه رشتیا هم په قطعي ډول سره صحیح وي؛ ځکه چي زموږ پوهنه د تکامل په جریان کي ده او بشپړه سوې نه ده، چي مطلق حکمونه وکړای سو.

له نېکه مرغه څخه موږ د ژبپوهني په برخه کښي د تخصص خاوندان لرو، چي په عصري تحصیلاتو مجهز دي. زه له دوی او هم له مجربو مشرانو لیکوالو څخه هیله کوم، چي د دغي رسالې تر سره کتني په هاخوا کره کتنه وکي؛ څو د نورو لیکنو له پاره لار سمه سي او هم له لوستونکو څخه بیا بله نیمه پېړۍ لار ورکه نه وي.

پالوال د انتروپالوجي موسسه – د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی

کابل پوهنتون.   ۱/وږی ۱۳۴۸

ketabton.com - The Digital Library

د ګرامر کره او بشپړونه

ژبې د انسانانو سره یو ځای پیداسوې دې. کله چې انسان له لومړې حاله مدني ژوندانه ته رسېدلی دئ؛ نو ژبو هم د ده له اجتماعي او عقلاني ارتقا سره سمون کړئ او پر مخ ورسره تللې دې.

مګر په ابتدایي انسانانو کې ژبې په خپل لومړې شکل کې وې؛ خو د هغو د اجتماعي پېشرفت اغېزې وې، چې ژبې هم له خپله لومړني حاله ورو ورو د بشپړتابه پر خوا رهي سوې او د تکامل تر ناموس لاندې ئې وده او سمېدنه ومنله.

د ژبو قواعد او ګرامر هم طبعاً په خپله په ژبو کې پټ وو؛ مګر کله چې انسان د تفکر او تعقل دې پوړ ته ورسېدئ، چې په خپله وینا سره وپلټي او په څېړنه او شننه ئې بخت سي؛ نو هلته د ګرامر بنیاد هم موجود سو او داسې څېړونکي پیداسول، چې دوی د ژبو قواعد سره را ټول کې او له هغو څخه په مرتبه منطقي نتیجې واخلې.

له دې جهته پوهان وايي: چې اول ژبه پیداسوې ده، بیا نو د هغې ګرامر جوړ سوئ دئ. یعني ژبه له ګرامره نه ده راوتلې؛ نو ځکه د ژبې ګرامر تل د ژبې د څېړنو او پلټنو سره بشپړېدونکی دئ او هر وخت د کره کړني او کتني وړ دئ او باید چې د هرې ژبې ګرامر د په خپلې هغې ژبې پر بنیاد مطالعه سي.

په پخواني افغانستان کې د ژبو د مطالعې دودونه او علمي اساسونه موجود ؤ او کله چې د اټک د غاړې پاڼیني لوی پوهاند خپل ګرامر ۲۵ قرنه دمخه کېښ، په نور بشریت کې لا د ژبو د څېړني او شنني تلاښ نه ؤ پیداسوئ.

په اووم میلادي قرن کې د عربو فتوحاتو زموږ خلک له پخوانو تهذیبي روایاتو څخه را پرې کړه او د عربو او اسلامي روایاتو او تفکراتو په کړۍ پوري ئې ونښلول.

ketabton.com - The Digital Library

ځکه چي عربو د خپل اقتدار او تمدن په وختو کي (٨-٩ پېړۍ) د خپلي ژبي د ګرامر څېړني او ليکني ته هم مخه کړه او حتی ځينو عجمي پوهانو هم په دې لار کي ډېر درانه کارونه وکړل، کتابونه ئې وليکل؛ نو کله چي عجمو د خپلو ژبو له پاره د ګرامر کتابونه ليکل، د دوی و مخي ته د عربو د ګرامري کتابونو يعني د صرف او نحو آثار خورا ډېر پراته وه او په هغو کي د ګرامري رواياتو او اصطلاحاتو يوه غوره ذخيره هم خوندي سوې وه.

نو زموږ پوهانو چي مثلاً د فارسي يا پښتو يا ترکي يا اردو له پاره ګرامرونه کښل، د دوی پر فکر باندي د عربي د ګرامر ليکونکو تقليد داسي غالب ؤ، چي اکثرو د خپلو ژبو ګرامرونه د عربي په تقليد ترتيب کړل. که نه وي دغه ژبي خو آريايي وې او عربي ژبه سامي وه او د ژبو دغه دوې مختلفي څانګي يو له بله ډېري سره ليري دي.

د عربو په سامي ژبه کي د اشتقاق له پاره ډېر مجرده او لنډه ماده او تومنه اسم فعل ؤ، چي له هغه څخه د نورو حروفو په نښلونه نور کلمات راوتل. لکه ضرب چي ضارب او مضرب او يضرب او نور افعال او اسمأ ځني اشتقاق سوي دي؛ نو ځکه هغه «مصدر» بلل سوئ دئ.

زموږ د ګرامر ليکوالو هم په خپلو ژبو کي کټ مټ د عربي مصدر معنوي مقابل را واخيست او هغه ئې مصدر وګاڼه. لکه د ضرب معنوي مفهوم په فارسي کي زدن او په پښتو کي وهل. په اردو کي مارنا.

د عربو دغه تقليدي روايات زموږ په عنعنوي ګرامر کي ځای سول او چا دا فکر ونه کئ، چي پښتو په طبيعت کي يوه آريايي ژبه ده او ګرامر ئې د عربي سره نه سي سمېدای.

ketabton.com - The Digital Library

دلته زه دا نه وایم چي زموږ د اسلافو ټوله سعیه بېکاره وه او څه چي ئې لیکلي دي، اوس هغه ټول په کار نه راځي؛ مگر دا ضرور وایم: چي د پښتو هغه عنعنوي گرامر د کره کتني وړ دئ او ښایي چي د اوسني علم تر اساساتو لاندي کره سي.

ځیني داسي خلک اوس هم سته، چي نوو نظریاتو او انتقادي کتنو ته هیڅ لار نه ورکوي او نه غواړي، چي کومه نوې خبره واوري؛ مگر اوس خو ژبه لابراتوار ته تللې ده او د نوي ساینس په دقیقه څېړنه کي لوېدلې ده او موږ که غواړو یا نه غواړو، علم خپل کار کوي او علمي انتقاد هر ناوړه فکر ځپي.

د پښتو په گرامر کي د «مصدر» ټاکنه یوه داسي خبره ده، چي باید د علم او آزادي څېړني پر اساس حل سي او دغه رساله، چي ښاغلي پالوال لیکلې ده، د دغي څېړني لومړی کړی ده.

زه د دې کتاب کره کتنه ښاغلو لوستونکو ته پرېږدم او که نور پښتنانه هم په دغه خبره کي غور وکي او خپل فکر په انتقادي او علمي رنگ پر ښکاره کي، ښایي چي له دغو څېړنو څخه د ژبي د گرامر په آینده علمي ترتیب کي ښه گټه ورسیږي.

دا کتاب وروستنی او نهایي تحقیق نه دئ؛ بلکي یوه نوې مسئله په نوي څېر منځ ته را اچوي، چي پښتانه ئې په کره سترگه وگوري. که د منلو وړ وي وئې مني، که نه وي رد ئې کي.

موږ په خپل تهذیبي او ادبي ژوندانه کي ډېري داسي خبري لرو، چي د څېړني او شنني وړ وي؛ مگر د دې جرأت نه سته، چي څوک په مسلماتو گڼل سوو شیانو باندي انتقاد وکړي یا څه ووایي او دغه حال یو راز «فکري جمود» را پیدا کړئ دئ. اوس باید دغه جمود مات سي او په آزاد فکر پر ادبي او علمي او اجتماعي خبرو څېړني وسي، چي دغه کتاب به دا ور وپرانیزي.

جمال مېنه – کابل د حمل لسمه شپه ۱۳۵۰عبدالحی حبیبي

ketabton.com - The Digital Library

د مصدر Infinitive پېژندنه

١،١- مصدر يوه عربي کلمه ده، چي د لغت له مخي څخه د وتلو ځای[١] معنا ورکوي؛ مګر په اصطلاح کي يو خاص فعلي نامه ته ويل کيږي، چي دغه دواړه اړخونه به ئې وروسته په مختلفو تعريفاتو کي وليدل سي.

زموږ تر منځ مروج ګرامري کتابونه[٢] د مصدر تعريف راز راز کوي؛ خو سره له دې بيا هم دغه لږ ؤ ډېر سره نژدې او تقريباً يو شاني وي، چي په عمومي توګه دغه درې لاندنی ډلي جوړوي:

لومړی: ځيني ګرامريان ئې د مصدر کلمې د لغوي معنی له مخي څخه تعريفوي.

دوهم: بعضي ګرامريان د ژبي هغه فعلي نومونه تعريفوي، چي معين کړه وړه لري او مصدرونه بلل سوي دي. دغه پېژندنه هم درې رازه ده:

الف: هغه چي يوازي ئې له اصطلاحي اړخه څخه تعريفوي.

ب: هغه چي يوازي ئې له لفظي اړخه څخه پېژندنه کوي.

ج: هغه چي د پورتنيو دواړو په مرسته ئې مشترکاً تعريف کوي.

---

[١] الانصاف فی مسائل خلاف – ١٣٠شم مخ اردو کريمر - ٣٠شم مخ.

[٢] پښتو، دري، عربي او اردو.

ketabton.com - The Digital Library

درېیم: نور گرامریان بیا د مصدر تعریف د فعلي نومو د خصوصیاتو او هم د مصدر کلمې د لغوي معنی دواړو له مخې څخه وړاندي کوي.

سره له دې چي دوی د مصدر تعریف له پورتنیو اړخو څخه کوي؛ خو دغه تعریفونه ئې بیا هم د اغیارو او افرادو مانع او جامع نه دي. یعني د قناعت وړ نه گرځي. که ئې څه هم بېل بېل معرفي کړي او یا ئې له پورتنیو اړخو څخه مشترکاً وښووي.

۱،۲- لومړی هغه تعریفونه وړاندي کوم، چي د مصدر کلمې پېژندنه په خپله د دغي مصدر کلمې په لغوي معنی سره کوي:

الف- «هغه اصل چي مشتقات له ده څخه صدور پیداکي، مصدر بلل کیږي.»[۱]

ب- «مصدر ځکه مصدر نومېدلئ دئ، چي له ده څخه فعل صادر سوی وي. لکه هغه ځای چي اوښان ځني راوزي، د دوی د صدور مصدر بلل کیږي.»[۲]

ج- «مصدر هغه اسم ته وایي، چي فعل او نور داسي مشتق نومونه له ده څخه جوړ سي.»[۳]

د لوړو تعریفاتو له مخي څخه هغه کلمات، چي مصدرونه بلل کیږي د نورو هغو مسلسلو کلماتو له پاره، چي له دوی سره لفظي او معنوي مشترکي رابطې لري، منشاءوي جوړوي. یعني هغه فعلي، فعلي اسمي او فعلي صفتي

---

[۱]: شرح فصول اکبری- ۳۶شم مخ.

[۲]: الانصاف فی مسائل خلاف د بصریونو نظریه. ۱۳۱شم مخ.

[۳]: دروس نحویه (کتاب سوم) ۳۹شم مخ.

ketabton.com - The Digital Library

مسلسل کلمات، چي د يوې معنی او مفهوم مختلف وجوهات ښووي او هم د شکل له مخي سره ورته او تړلي وي. له يوې هغي کلمې څخه چي هغه مصدر بلل کيږي نشأت کوي؛ مگر نه ښکاريږي چي دغه مصدر کلمه به د فعلو، فعلي نومو او فعلي صفتو غوندي کلماتو په منځ کي[1] کمه يوه وي؟ يعني هغه خصوصيات چي مصدري کلمات په پېژندل کيږي، نه دي ښودل سوي.

د ړومبني تعريف له مخي څخه نه معلوميږي، چي دغه د مشتقاتو اصل کلمه به اسم وي که فعل او کله لا څرنگه؟ سره له دې چي دوهم او دريېم تعريفونه ئې اسم ښووي؛ مگر اسم هم په خپله کمه يوازينۍ ټاکلې کمله نه ده؛ خو د دې له پاره چي دغه مصدري اسم مو پېژندلی وي، ځينو نورو دغه راز پېژندنو ته، چي نسبتاً ئې مصدر په کښي واضح کړی وي، ضرورت پيداکيږي.

۳،۱ – (دوهم- الف) د مصدري کلماتو پېژندنه له اصطلاحي اړخه څخه داسي وړاندي کيږي:

۱ – «مصدر هغه نوم دئ، چي پر حالت يا د فعل پر حدوث باندي بېله زمانې څخه دلالت وکي.»[2]

---

[1] : د بصريونو په برخلاف کوفيون مصدر له فعله څخه مشتق بولي، دا ځکه چي فعل بسيط دئ.(الانصاف فی مسائل خلاف).

[2] : صرف و نحو اموزگار- ۴۸تم مخ.

ketabton.com - The Digital Library

۲ - «مصدر هغې کلمې ته وايي چې د فعل او کار نوم وي او زمانه ترې نه معلوميږي. په همدې وجه مصدر ته(فعلي نوم) هم ويل کيږي.»[۱]

د دغو پېژندنو په ذريعه سره مصدري اسم له خپله عامه مفهوم څخه يوه نسبتاً خاص مفهوم ته را کښته کيږي؛ څو يو فعلي اسم ځني مراد سي. ولي دغه بيا هم يو ټاکلی دلالت نه دئ؛ ځکه چې د فعلي اسماؤ له جملې څخه به مصدر عبارت له څرنگه فعلي نامه څخه وي؛ په داسي حال کي چې فعلي نومونه د مصدر غوندي، لکه په تعريف کي چې ئې يادونه سوې ده، بېله زماني دلالت څخه د فعل پر حدوث او پېښېدني باندي صدق پيداکوي او هم د حالت درلودونکي وي. د دغي نيمگړتيا د ليري کولو له پاره موږ ته داسي ښاييږي، چې بايد سربېره پر پورتنيو راوړل سوو تعريفاتو باندي يو دربيم راز داسي پېژندني ولرو، چې هغه مصدري فعلي نوم له نورو فعلي نومو څخه را بېل کړي او شرط پر کښېږدي.

۱، ۴ – (دوهم، ب) هغه تعريفونه چې د مصدر پېژندنه له لفظي اړخه څخه کوي:

۱ ـ «مصدر هغه دئ، چې په وروسته کي ئې مصدري نخښې[۲] راسي.»[۳]

---

[۱]: د پښتو اشتقاقونه او ترکيبونه. ۳۴شم مخ.

[۲]: د لوړو راوړو پېژندنو مصدري نخښې مي ځني ايسته کړې، د دې له پاره چې عمومي جنبه ئې پيداکړې وي.

دغه نخښې عبارت له هغو علامو څخه دي، چې د پښتو، دري او هندي ژبو د مصدرو له پاره پېژندلي سوي دي.

[۳]: دستور پهلوي. ٦ړم مخ.

ketabton.com - The Digital Library

۲ـ «مصدر هغه کلمه ده، چي مصدري نخښي ولري او که د ئې نخښو وروستنۍ برخه ایسته سي[1]؛ نو د ماضي معنی ورکي.[2]

د پورتنیو درو رازو مصدري پېژندنو په مرسته سره موږ تش دونه وکړای سوای، چي د متداول مصدر په باره کي دي یوه نسبتاً بشپړه مفکوره پیداکړای سو، داسي:

مصدر هغه اسم دئ، چي له ده څخه نومونه او فعلونه اشتقاق کیږي. دغه اسم عبارت له فعلي نامه څخه دئ او فعلي نوم بیا هغه دئ، چي ټاکلي نخښي ولري.

له پورتنۍ څېړني څخه دغه له ورایه څرګندیږي، چي راوړي درې سره رازه تعریفونه هیڅ یو هم د مصدر د پوره پېژندني له پاره کفایت نه کوي؛ مګر واړه سره را غونډ کړل سي او یو بشپړ تعریف ځني جوړ سي. مطلب دا دئ، چي اوس نو باید په یوه داسي تعریف پسي وګرځو، چي هغه له پورتنیو مشخصاتو څخه جوړ وي؛ خو دا چي نوموړي مشخصات به ګرده په کښي ځای سوي وي که ځیني په لاندي ډول سره کتل کیږي.

۱، ۵ ـ (دوهم، ج) هغه تعریفونه چي د معنی او لفظ دواړو له مخي څخه د مصدر پېژندنه کوي:

۱ـ «ځیرنده(مصدر) هغه کلمه ده، چي بې له ملاحظې د ذات او زمان پر یوه شي دلالت وکي. مصدر د درستو افعالو ځیرنده ده. په پښتو کي ئې

---

[1]: لکه په دري ژبه کي له ګفتن څخه ګفت او له کردن څخه کرد.

[2]: ضیاالصرف. ۲هم مخ.

ketabton.com - The Digital Library

نخښه که څه هم يواځې(ل) ده؛ خو تر دغه لاجوته درې نخښې لري: (ل، ول، يدل) مګر د اشتقاقاتو په ملاحظه ټول مصادر پر پنځو برخو بېليږي.»[1]

۲- «مصدر هغه لفظ دئ، چې له ده څخه د فعل اظهار کيږي؛ مګر فعلي لوازم ور سره نه وي او مصدري نخښه ولري.»[2]

۳- «مصدر هغه کلمه ده، چې بېله زمانې څخه يو فعل او کار ښووي او زمانه ځنې نه معلوميږي. په پښتو کې مصدر د لفظ او آخر په لحاظ پر پنځه ډوله دئ.»[3]

۴- «مصدر د اسم معنی يوه نوع ده، چې کار او کيفيت ښکاره کوي او له زمانې څخه مجرد وي. نښانې ئې په وروسته کې د مصدري نخښي راتلنه ده.»[4]

هغه درې ګون خصوصيات چې مو پر ته له مخنيو تعريفو څخه(۱، ۲؛ ۱، ۳؛ ۱، ۴) د مصدر د پېژندني له پاره په لاس راغلي دي، په وروستو درو پورتنيو تعريفاتو (۱، ۵) کې ئې لومړی خصوصيت، چې عبارت له اشتقاق څخه ؤ، کورټ نه ليده کيږي؛ خو هر څه چې ئې دوه نور خصوصيتونه دي، هم خپل کور پوره نه ډکوي. حتی بېله دمخنيو درو ډلو مصدري پېژندنو څخه، چې زموږ د پوهې اساس بردي، بېخي نيمه خوا کيږي. مثلاً يو خو مصدر لفظ او کلمه بولي، چې د ټولو ژبنيو اداؤ له پاره عامي افادې

---

[1]: د پښتو ژبې لياره ۱۳۹شم مخ.

[2]: اردو صرف و نحو ۵۰سم مخ.

[3]: ژبښودنه ۴۱تم مخ.

[4]: قواعد فارسی ۳۵شم مخ.

ketabton.com - The Digital Library

يعني د لفظ او کلمې تر مفهوم لاندي اسم، فعل، صفت، قيود، حرف او نور گرده راځي. سره له دې چي ښېله زمانې څخه د فعل اظهار کونگ ئې د لفظ او کلمې مفاهيم تحديدوي؛ مگر هغي اندازې ته ئې نه سي رسولای؛ څو مصدر دي بشپړ داسي معرفي کړي، لکه له دمخنيو درو رازو تعريفاتو څخه چي په گډه پېژندلی کيږي.

د دغي ډلي وروستنی تعريف ئې د اسم معنی يوه نوع بولي، چي يوه راز نوې افاده ده؛ مگر په خپله دغه ټکی چي وايي کار او کيفيت ښکاره کوي، د اسم معنی له جنبې څخه باسي.

دغه لا هم بايد پر زياد سي، چي فعلي نومونه د اسم معنی او مصداق لرونکي[1] اسماؤ تر منځ راتلای سي؛ ځکه چي فعلي نومونه اکثره پر داسو واقعياتو باندي اطلاق کيږي، چي هغه خارجي شکل لري او موږ د هغو احساس کولای سو؛ مگر له اسم معنی څخه فقط په ذهن کښې پوهيږو. يوازي لومړی تعريف مصدر د (۱، ۲) د اشتقاق په خصوصيت سره هم را پېژني.

۱، ٦- (درېيم) هغه تعريفونه چي د مصدر پېژندنه د مصدر کلمې د لغوي معنا او د هغه د اصطلاحي فهم له مخي کوي.

الف- «هغه الفاظ چي په خپله له تورو څخه نه وي جوړ سوي؛ مگر له دوی څخه نوم او متصرف فعل جوړ سي او دغه الفاظ په ناټاکلې زمانه کي د هر کار کولو، کړلو يا کېدلو معنی ورکي؛ نو دغه ته مصدر ويل کيږي.»[2]

---

[1]: substantive

[2]: قواعد عربی (اردو) ١٦سم مخ.

ketabton.com - The Digital Library

ب- «ټول افعال له مصدر څخه جوړیږي. مصدر هغي کلمې ته وايي چي د یوه کار پر کولو باندي دلالت کوي او په زمانه پوري تعلق نه لري او په خپله له بلي کلمې څخه جوړ سوی نه وي.»[۱]

ج- «مصدر هغه اسم دئ، چي د کم کار یا فعل نوم وي او له ده څخه ځیني قسمونه اسمأ او فعلونه راووزي.»[۲]

د- «مصدر هغه اسم دئ، چي پر حالت یا د فعل پر حدوث باندي بېله د زمانې له قیده څخه دلالت وکړي او د ټولو فعلو او مشتقونو منشأ وي.»[۳]

هـ- «فعلي اسم هغه دئ، چي د کم کار یا فعل نوم وي او خپله معنی بې د زمانې له تعینه څخه اظهار کي. له فعلي نامه څخه یو شمېر نوري کلمې قانوناً استخراج او صادریږي. بنا پر دغه فعلي اسم د فعلي مشتقاتو مصدر دئ او په اصطلاح کښي زېږنده(مصدر) ورته وايي.»[٤]

و- «مصدر په صرف او نحو کي معمولاً د افعالو هغه برخه ده، چي زمانه او شخص په کښي دخالت نه لري او د اسم غوندي استعمالیږي؛ په داسي حال کي چي د فعل پر حدوث باندي بېله دې چي پر زمانه مشخص او د فعل پر نورو صورتو لکه ماضي او استقبال باندي، اسم، فاعل او نورو چي له ده څخه جوړیږي دلالت وکړي، صادقیږي.»[۵]

---

[۱]: پښتو قواعد ۵۷سم مخ.

[۲]: اردو گویمر ۳۱شم مخ.

[۳]: صرف آموزگار.

[٤]: پښتو گرامر ۱۴۸اتم مخ.

[۵]: دستور جامع زبان فارسی ۸۹یم مخ.

ketabton.com - The Digital Library

ز- «مصدر هغه اسم دئ، چي د کار د واقع کېدني یا د صفت او حالت د ښکاره کېدني په معنا وي، بېله دې چي پر زمانې باندي دلالت وکړي. مصدر له دې پلوه مصدر بلل سوی دئ، چي فعل او مشتق نومونه له ده څخه صادریږي.»[1]

د دغي ډلي د لومړنیو دوو تعریفو دغه نقطه، چي مصدر به قائم بالذات وي یعني جامد اسم دئ، چي په خپله به له نورو کلماتو څخه نه وي جوړ سوی؛ مگر له ده څخه به نور کلمات جوړیږي. په بله توگه سره مشتق نه دئ؛ بلکي مشتق منه دئ، چي د دغي ادعا له پاره ئې د معنی هیڅ ثبوت نه سته(وروسته به توضیح سي).

په دغه پورتنیو پېژندنو کښي د وړاندنیو په دود یوه عامه ورانی سته، چي هغه د فعلي نومونو ټاکنه ده؛ یعني د مصدري فعلي نامه او نورو فعلي نومو تر منځ توپیر نه دئ ښووه سوی؛ خو کم خصوصیات چي ئې بیان سوي دي، هغه د ځیني فعلي نومو تر منځ سره مشترک دي. مثلاً د زمانې قید ورسره نه وي او د فعل پر حدوث دلالت کوي؛ مگر په دغه وروستني تعریف کښي، چي بیا نوموړې ورانی له منځه وړه سوې ده، نوري ورانی ئې را پیداکړي دي. لکه مصدر محض اسم ښووي، یعني فعلي نوموالی او فعلي حدوثیت(د زمانې بې قیدي) ئې هیڅ درک نه لري. داسي: «اسم مصدر هغه دئ، چي له ده څخه یو شی مشتق سي او په اخر کي مصدري نخښې ولري.»[2] دغسي ډېر اسمونه سته، چي یو شی ځني مشتق کیږي او

---

[1]: کتاب صرف و نحو و قرائت عربی کتاب صرف ۳یم مخ.

[2]: مقدمه بدان.

ketabton.com - The Digital Library

مصدري نخښې هم په کښې وي. لکه په دري ژبه کښې له گردن څخه گردنه او گردی؛ له خویشتن څخه خوشیتن، خویش، خویشاوندي او په پښتو کي له گومل څخه گوملی؛ کوتل، کوتلی، کوتلونه؛ کډهل، کډهلونه او نور. یعني سربېره پر هغې سلسلې کلماتو، چي له فعلي مصدره څخه اشتقاق مومي، نور خورا ډېر کلمات سته چي د اشتقاق له پاره علیحده مصادر لري.

۱، ۷- دا چي دمخني گرده تعریفونه نیمگړي او د افهام ساحه ئې یا تر ضرورت کوچنۍ او یا لویه ده؛ نو ښاییږي چي د پورتنیو پېژندنو په روښنایي کښې ئې نسبتاً یو جامع او مانع تعریف وړاندي کړه سي. داسي: مصدر هغه ټاکلی نخښې لرونکی نوم دئ، چي په ژبه کښې فعلي اداء او د استعمال ټاکلي اسمي خواوي ولري.

الف- د دغسي پېژندني بدودی: که چیري موږ د یوې ژبې له ساختمان او څرنگوالي څخه پر مخ ناپوه اوسو او دغه تعریف را وړاندي کړه سي، له سره څخه به تر پایه پوري داسي اوډلي کلمات په کښې وي، چي مصداق او مفهوم به ئې مغشوش لا څه؛ بلکي ورک به هم وي. لکه:

۱ – ټاکلي نخښې ئې څه او څرنگه دي؟ ولي دغه دي او نوري نه دي؟

۲ ـ په داسي توگه چي مصدري نښې له سوالیې سره مخامخي وي؛ نو فعلي نوم د پخوا په شاني یو عمومي اطلاق لري، چي نور دغسي فعلي اسمونه هم په کښې شامليږي.

۳ـ فعلي اداء هم د فعلي نامه غوندي کم ټاکلی اطلاق نه لري.

ketabton.com - The Digital Library

۴ـ تر څو چي څوک د یوې ژبي د مختلفو کلماتو په صرفي او نحوي وېشنو او اداؤ کښي بلد نه وي، د هغو له پاره د مصدر د استعمال ټاکلي اسمي خواوي کم معین مصداق نه لري.

ب ـ د وروستنۍ پېژندني ښېګڼي: کله چي څوک د خپلي ژبي په ګرامري ترکیب او جوړښت وپوهیږي؛ نو د دغسي پوهني پر اساس باندي کولای سي، د یوې بلي ژبي کلموي کټګورۍ له پورتني تعریف څخه دمخه د ژبي تر مطالعې تر یوې اندازې پوري وپېژندلای سي؛ مګر بیا هم دغه راز پېژندني هغه وخت مؤثري او مفیدي ثابتیږي، یا په بل عبارت سره ښه تر فهمول کیږي، چي د ژبنیو ګرامري کټګوریو تر مطالعې وروسته وړاندي سي.

۱ ـ د مصدر له پاره فعلیت قید راوړنه، دی د افعالو په سلسله کښي دروي، چي پر کړنه باندي صدق مومي؛ خو داسي اشارې لکه د فعل پر حدوث دلالت او نوري ئې له زوایدو څخه شمېرلي کیږي، چي په توضیح پوري ئې اړه لري.

۲ ـ د ټولو موجوداتو له پاره اکثره نومونه او ډېري لږ نوري اداوي په ژبو کښي وضع سوي، چي د هغو له جملې څخه مصدر د فعل او کړو نوم دئ. دغه اسمیت یا اسم بلنه ئې فعلیت ته تغیر ورکوي؛ داسي چي د زمانې قید ځني ایسته کوي، شخص ئې له مفهومه څخه باسي او د نیمو مجردو اسماؤ خصوصیات وربخښي، چي بیا ئې په تعریف کښي ورسره ځایونه تر ضرورت دباندي دي.

ketabton.com - The Digital Library

۳ ـ له دغه وروستني تعريف څخه د اشتقاق صفت په دې نيامت ايسته سوی دئ، چي په خپله مصدر کلمه دغه د اشتقاق معنی افاده کوي؛ يعني د مصدر د اشتقاقيه صفت ذکر ته په تعريف کښي ضرورت نه سته، ولي چي مصدر په خپله دغه معنی لري. له يوې خوا څخه د مصدر د اشتقاقيه صفت لرنه او له بلي خوا څخه ئې جامد اسم والی په وروسته کښي څېړل کيږي.

۴ ـ د نورو فعلي نومو په سلسله کښي د مصدر ټاکني له پاره د مصدر کلموي شکل او استعمال پېژندنه لازمي ده. په ځينو ژبو کښي مصدرونه د معنی له اختلافه سره مختلف شکلونه اخلي او د مختلفو نخښو لرونکي وي؛ مگر نحوي استعمال ئې يو له بله سره ورته وي.

په ځينو نورو ژبو کښي بيا مختلف فعلي نومونه د استعمال په ساحه کښي سره مشترک وي، که به څه هم هر فعلي نوم په هر نحوي ساختمان کښي د بل هر فعلي نامه په څېر ولوېدلای سي؛ مگر معنوي جوړښت او تطابق به نه سي کولای. دغه راز عدم تطابق د ځينو ژبو، مثلاً عربي د فعلي نومو او خصوصاً مصادرو په شکلي اختلاف کښي څرگندېدلای سي. يعني د نخښو بېلوالي له مخي څخه ئې دغه شکلي اختلاف يو راز معنوي توپير هم د فعلي نومو تر منځ پيداکوي؛ ځکه نو د هر فعل مصدر چي د نخښو واحده سلسله لري، معنوي او شکلي کره وړه ئې سره يو شاني وي.

ketabton.com - The Digital Library

اینفینېټیو Infinitive:

۱، ۸ ـ په ژبه کښې یو ټاکلی کلموي شکل، چې موږ ئې په مصدر سره پېژنو او تقریباً ورته شکل ئې په انگلیسي او پر ځنگ یا مربوطو ژبو کې اینفینیټیو Infinitive بولي. دغه دوې کلمې چې د ژبو تر منځ د مصداقونو د قرابت له مخې ځخه یوه په بلې سره ترجمه کیږي، د دوی د نومو پر معنوي اشتراک باندې دلالت نه کوي؛ بلکې د دواړو معناوې او مفاهیم فرق سره لري. د مصدر هغې مو ئې دمخه په تعریفاتو کښې ولیده او د اینفنیټیو هغې به هم اوس پسې بیان سي.

د انگلیسي اینفینیټیو Infinitive کلمه له لاتین اینفینیټیوس Infinitus ځخه راوتلې ده، چې د ناټاکلي او بې تعینه معنی ورکوي. په گرامر کښې هم اینفینیټیو داسي ډول فعلي نومو ته ویل کیږي، چې د ټاکلي شخص او عدد لرونکي نه وي. له دغو نومو ړو مشخصاتو ځخه بالعموم د یوې وضعي یا وجهي Mood په توگه کار اخیستل کیږي. گرامریانو په لاتیني کې هم دغه فعلي نوم اینفینیټیوس Infinitus یا اینفینیټیوس موډس Infinitus modus بللی دئ[1]. دغه اینفینیټیو اساساً یو اسم ؤ او اسمي حالات ئې لرل.[2]

سربېره پر دغو یادونو باندې د اینفینیټیو پېژندنه داسي کیږي: دغه د فعلي نومو یو داسي شکل دئ، چې د اسم په توگه وظیفه دا کوي او په عین

---

[1]: Encyclopedia Britannica, vo ۱. ۱۲, p ۳٤۰.

[2]: English grammer – p. ۲٦٦.

ketabton.com - The Digital Library

حال کښې فعلي کړه وړه یا صفات هم لري. لکه د مفعول لرنه او هم د قیدي صفاتو Adverbial qualifiers د اشکالو ښوونه.[۱]

موږ له پورتنیو کرښو څخه پوهېږو، چې اینفینیټیو هم فعلي او هم اسمي خصوصیتونه لري. یعني داسي نه وي لکه فعل چي فاعل غواړي او په شخص او عدد پوري منحصر وي. د دغو یادوونو په وسیله سره نو د مقید فعل finite verb او غیر مقید فعل Infinite verb یا په ساده توګه سره د ناټاکلي یا بې تعینه Infinitive تر منځ تمیز کیږي.[۲]

له دغه راز بیانو سره سم اینفینیټیو کلمه د ژبني موصوفي کلمې، یعني پر هغې باندي چي اطلاق کیږي، موجود او بشپړ شکل را معرفي کوي. دغه هغه پخواني دوه فعلي او اسمي اړخونه لري. لومړی که دغه پېژندنه یوازي له یوه منفي اړخه څخه وګورو؛ نو هغه د فعل تمیز تعین او ناټاکلوالی دئ. یعني په شخصي، عدد او زمانه پوري اړه نه درلودنه ده. په دغسي صورت کښې نو اینفینټیو یو هغسي فعل دئ، لکه ذکر چي ئې د بې قیدی تر صفت لاندي وسو او هغه دا، چي فعلي خصوصیات نه لري؛ یعني یو محض فعل دئ. که له دوهم مثبت اړخه څخه ورته وکتل سي؛ نو د پورتنیو مشخصاتو د نفي پر ځای باندي ئې د نورو خصوصیات زیادتوب راځي، چي دغه عبارت له اسمي مشخصاتو څخه وي. له دغه سببه څخه نو اینفینیټیو فعلي نوم verbal noun هم ویل کیږي. دغه وروستنی دلالت واضح دئ؛ مګر

---

[۱]: Websters new international dictionary, ۲nd ed. And websters new collegiate dictionary ۱۹۶۱.

[۲]: High school English grammer, p.۱۱۵.

ketabton.com - The Digital Library

ټاکلی او معین نه دئ؛ ولي چي د فعلي نامه تر عنوان لاندي محض اسم gerund او محض فعل supine غوندي فعلي نومونه هم راتلای سي.

دغه وړاندینی دوه اړخیزه وېشنه د دې له پاره وه، چي په ځینو ژبو کي اینفینیټیو اسمي خصوصیات نه لري؛ بلکي یو صرف فعل وي، لکه په انګلیسي کي او هم په روسي کي اسم ډېر خصوصیتونه لري، چي هغه ئې په اینفینټیو کښي نه سي موجودېدلای؛ یعني د نوموړي ژبي اینفینیټیو اسم نه؛ بلکي یو محض فعل دئ.

اوس چي د مصدر د اطلاق او معنی ساحه د مختلفو افکارو په رڼا کي تر ممکني اندازې پوري را څرګنده سوه؛ نو به ئې د شکل او وظیفې له مخي څخه هم مطالعه کړو، چي دغه څرنګه تشکل او استعمال لري.

ketabton.com - The Digital Library

د مصدري نخښي پېژندنه

د تعريفاتو له مخي څخه چي د مصدر يوه مشخصه بيان سوې ده، هغه ئې د لفظي نخښي وجود دئ، چي د مصدر په خصوصياتو کي دغه ټاکلی مورفيمي واحد اساسي وظيفه لري. دغه نخښه په مصدر کښي ځيني مميزات را پيداکوي، چي يادونه ئې تر مخه سوې ده. اوس به د دغي نخښي په پېژندنه پسي هڅه وکړو؛ څو وپوهېږو چي په پښتو کښي دغه نخښه يوه، که اوز او څرنگه دئ.

۲، ۱: تر اوسه پوري چي په پښتو کي د مصدر له پاره کومي نخښي ښودلي سوي دي، هغه عبارت له دغو لاندنيو پنځگونو څخه دي.

لومړی: /-ل/ al/. دوهم: /-ول/ wal/. درېيم: /يدل/ edal/. څلورم: (کول) او پنځم: (کېدل). د لومړنيو درو نخښو مثالونه لاندي په لنډه توگه وړاندي کيږي:

۱ - /-ل/ والا مصدرونه: دغه داسي مصدرونه دي، چي د فعلي مادې په وروسته کي ئې يوازي /-ل/ راسي. لکه: بلل، وېشتل، چيښل، نيول، کښېنستل، پرې ايستل.

۲ ـ /يدل/ والا مصدرونه: دغه مصدرونه د دوهمي ډلي له فعلي مادو څخه داسي جوړيږي، چي د /-ول/ د نخښي پر ځای باندي د /-يدل/ نخښه ور واچوله سي. لکه: لمبېدل، اوږدېدل، پاڅېدل، کړېدل، سوځېدل، غوړېدل....(د پښتو له متداولو گرامرو څخه).

ketabton.com - The Digital Library

د پورتنیو پنځګونو نخښو په لړ کې مو د لومړنیو درو نخښو مثالونه وکتل او اوس د هغو له جملې څخه ئې دوهمه او دریيمه؛ یعني د /-ول/ او /-یدل/ نخښې تر څېړنې لاندې نیسو: ۲-۲ – د ګرامر په کتابو کښې ئې راوړې دي، چې له مصدره څخه د مختلفو صیغو اشتقاق او تصریف په داسې توګه وي، چې د مصدري نخښې پر ځای باندې د فاعلیت /-ونکی/ د مفعولیت /-لی/ د زمانې شخص او نورو نخښې راوړلای سي؛ نو د فاعل، مفعول... ماضي، حال... متکلم مخاطب او نورې مفردې او جمع صیغې ځنې جوړیږي. لکه:

	له سوځل څخه[1]	**له سوځول څخه**	**له سوځېدل څخه**
فاعلیت صفت	سوځونکی	سوځوونکی	سوځېدونکی
مفعولي حالت	سوځلی	سوځولی	سوځېدلی
حال	سوځي	سوځوي	سوځيږي

---

[1] باید بې یادوني پاته نه سي، چې په عمومي توګه د سوځل کلمه د سوځل او سوځېدل کلمو دواړو پر ځای باندي مستعمله ده؛ یعني هم د متعدي او هم د لازمي افعالو اجرا په کیږي. مثلاً سوځي، سوځيږي او سوځي ئې، سوځوي ئې. دغه رنګه ئې هم نور شکلونه سره مساوي کیږي. که د پورتنیو مثالو راوړنه د معنوي ملحوظ له مخې څخه وای؛ نو ښاییدله چې پر ځای باندي مې ئې یوه بله کلمه مثال راوړې وای؛ خو څرنګه چې زه پر لفظي تغیراتو او الیشېدنو باندي بړغیږم؛ ځکه مې نو تر نورو دغه صیغه غوره کړه، چې د موضوع په افاده کښې سوواني پیښوي. بل دا چې د سوځل کلمه د سوځول او سوځېدل کلمو پر ځای باندي نسبتاً نوې درېدلې ده او د ژبې د یوه وروستني انکشاف شکل ښووي.

ketabton.com - The Digital Library

د پورتني بيان او مثالو د تطبيق په صورت کښي د مصدري نخښو تبديل په فاعلي مفعولي زمانې او شخصي نخښو سره، د وروستنيو دوو(ول) او (يدل) والا مصدرو په باره کښي نه صحيح کيږي. ولي موږ ئې وينو چي د لومړني مصدر (سوځل) غوندي ئې يوازي (-ل) په نوموړو فاعلي، مفعولي، زماني او شخصي نخښو سره اليش سوی دئ؛ مگر هر څه چي د /-ؤ-/ او /-يد-/ نخښي دي په خپلو ټولو مشتقاتو او تصريفاتو کښي خپل ځان نه بې ځايه کوي.

دا چي له مصدري/-ؤل/ او /-يدل/ نخښو څخه يوازي/-ل/ په نوموړو ورو ستړونو سره اليشيږي؛ نو داسي يوه پوښتنه را پيداکوي، چي د/-ول/ او /-يدل/ هره مصدري نخښه له دوو مورفيمو څخه جوړه ده او که يوازي يو يو مورفيم دئ؟ که ئې هره يوه ټوټه دوه مورفيمونه ولري؛ نو يوه مصدري علامه يوازي يو مورفيمه وي او دوه مورفيمه کېدای نه سي؛ مگر که د /-ول- wal-/ او يدل/edal/ هره نخښه يوازي يو يو مورفيم وي؛ نو بيا په صرفي اوښتنو کښي تجزيه نه مني. که تجزيه سي؛ نو به ئې هره ټوټه خوشي نامفهومه او بې معنی وي؛ ځکه چي د يوه واحد مورفيم تجزيه له دغه راز واقعيته سره مخامخ کيږي.

په داسي صورت کښي چي د /-ول/ او /-يدل/ لومړنۍ ټوټې /-و/ او /-يد/ په خپله په مشتقاتو کښي پاته کيږي. هر څه چي وروستنۍ ټوټې دي، هغه د حال، مستقبل، فاعل او داسو نورو صيغو له مورفيمو سره اليشيږي، چي دغه پېښه د نوموړو ټوټو د بې مفهومۍ په صورت کښي ممکنه نه ده. دا ځکه چي لومړی خو د فونيمو يوه داسي سلسله، هغه چي معنی ونه لري،

ketabton.com - The Digital Library

له يوې ربښې يا تنې سره ئې تړنه په کلمه کښي څه تحول نه راولي. په دغه صورت کښي ئې وجود بې ضرورته او ايسته کونه ئې د کلمې په معنی کښي څه اغېزه نه ښندي. دوهم دا چي يوه بې معنی ټوټه د يوې بامعنی ټوټې سره نه اليشيږي.

اوس نو دغه په ټينگه سره ويلای سو، چي دا /-ول/ او /-يدل/ ټوټې دواړي يو يو مورفيم نه؛ بلکي هره يوه ئې دوه دوه مورفيمونه دي، چي مصدري مورفيم يا مصدري نخښه ئې يوازنی وروستنی /-ل/ دئ، چي تصريف مومي.

۲، ۴- مصدري تجزيه: موږ په متداول ډول سره د /-ؤل/ والا او /-يدل/ والا مصدرونه پېژندلي او دغه پېژندنه مو هم ډېره د مصدري نخښو /-ول/ او /-يدل/ په وسيله سره ده. لکه په سوځول، غوړول... او سوځېدل، غوړېدل... غوندي صيغو کښي. دغه دوې نخښي د دې باعث گرځي، چي موږ د دغو مصدرو او د دوی د افعالو تر منځ و يو راز نحوي او معنوي وېشني ته قايل سو؛ ځکه چي بېله دغو نخښو څخه نوري فعلي مادې سره مشترکي دي. لکه: /سوځ- swadz/ د سوځول (swadzawal) او سوځېدل (swad zedal) په مصدرو کښي.

که موږ دغه دوه مصدرونه د دغي ډلي د نورو مصدرو په نمايندگي تجزيه او سره مقايسه کو؛ نو به سربېره پر پورتني اشتراک باندي، چي /سوځه-/ دئ، نور مشترک اجزاء به هم په کښي پيداکو، چي هغه به پرته له پورتني فعلي يا اسمي مادې څخه وي. د مثال په توگه:

/سوځول: swadzawal

ketabton.com - The Digital Library

په /سوځېدل: swadzedal/ دواړو مصدرو کښي لومړنی /سوځـ - swadz/ او روستنی /-ل: al-/ دواړي برخي سره مشترکي دي؛ مګر منځنۍ برخي ئې توپير سره لري.

دغه عبارت له /-و-/-aw-/ او /-يد-/-ed-/ برخو څخه دئ. له دغه اختلافه څخه هغه ټوټې څرګنديږي، چي د افعالو په معنوي توپير کښي اغېزه لري. د /-ۀ-/ يا /-ed-/ مورفيم د فعل په بېلو حالاتو کښي د تعدي او معلوموالي مفهوم ښووي؛ مګر د /-يد/ يا /-ed-/ مورفيم بيا د لزوم او مجهولوالي هغې. د دغه تحليل له مخي څخه دغه واقعيت، چي /-ۀ-/ او /-يد-/ دواړي ټوټې د مصدري نخښو برخي نه دي؛ بلکي هره ټوټه ځان ته بېله معنی لري او بېل بېل مورفيمونه دي. د دوی ځانمن موجوديت ثابتيږي. له دغه لحاظه څخه نو دوی د خپلي بشپړي صيغې په معنی کښي تغير راولي؛ ځکه چي د پورتنيو دوو مصدرو په مقايسه کښي نوري ټولي برخي سره يو شاني؛ مګر د /ۀ- او/ -يد-/ برخي سره بېلي دي. د نوموړو دوو مصدرو تر منځ، چي هم کم معنوي اختلاف موجود دئ، هغه ئې د يوه تعدي او معلوموالي او د بل هغې لزوم او مجهولوالی ښووي. پس دغه معنوي اختلاف بېله دې څخه، چي پر نوموړي لفظي اختلاف باندي حمل سي، بله چاره نه سته. د دغه واقعيت په نتيجه کښي د /-ۀ-/ مورفيم د معلوموالي او تعدي معنی ښندي؛ مګر /-يد-/ د مجهولوالي او لزوم هغې. اوس نو پورتني دواړه ډوله مصدرونه له درو مورفيمو څخه جوړ سوي دي، چي لومړی: ريښه root دوهم: تنه والا مورفيم stem formative morpheme او دريېم: مصدري نخښه ده.

ketabton.com - The Digital Library

نتیجه دا چي پښتو (ول) او (یدل) والا مصدرونه نه لري او نه ئې نوموړي مصدري نخښي دي. هغه نخښي چي ترمخه د (۱)سوځل، (۲)سوځول او (۳)سوځېدل غوندي مصدرو د پېژندني له پاره بیان سوي دي، /-ول/ او /-یدل/ ئې مصدري نخښي نه؛ بلکي د درو سرو له پاره مصدري نخښي وروستنی مورفیم /-ل al-/ دئ.

پورتنی نتیجې ته موږ پس له نژدې نیمي پېړۍ څخه او په ډېرو دلایلو سره رسیږو؛ مګر د پښتو مرکې په بدیهي او قطعي ډول سره دغه مطلب داسي بیان کړی دئ: په افغاني ژبه کي د مصدر نخښه مطلق(ل) ده، چي ترمخه حرکت ئې مجهوله فتحه وي.[1]

سربېره پر دغه باندي د پښتو مرکه لیکي، چي په افغاني کي درې ډوله مصدرونه سته. یو وضعي، چي بسیط وي. لکه: تلل، خوړل. بل ترکیبي، چي د متعدي یا لازمي کولو له پاره ئې د کوم اسم یا صفت په آخر کي د -ول- او -دل- نخښي ور اچولي کیږي. که موصوف اسم یا صفت جامد او غیر مشتق وي، پر ځای ئې -کول- او -کېدل- راځي او درېیم ئې ځینو معنوي نومو ته اشاره کوي، چي تر موضوع دباندي وزي.

۲،۵: سربېره پر پورتنیو درو ډولو مصدرو باندي، دوه ډوله نور مصدرونه پېژندل سوي دي، چي هغه (کول) والا او (کېدل) والا مصدرونه بلل کیږي. د دغو جوړښت هم لکه د دمخنیو هغې د (-کول) او (-کېدل) مصدري نخښو په توګه له نورو کلماتو سره تړل کیږي او دغه راز مصدرونه ځني

---

[1]: د پښتو پښویه ۳۳شم مخ ۱۳۰۲.

ketabton.com - The Digital Library

جوړېږي. لکه: پرېکول، پرېکېدل، پخولا کول، پخولا کېدل، غلا کول، غلا کېدل او داسي نور.

د نوموړو مصدرو له جملې څخه یوازي دا (پرېکول) او (پرېکېدل) مصدرونه د مثال په توګه تر څېړني لاندي نیول کیږي. کله که دغه مصدرونه تجزیه کړل سي؛ نو به د څلورو بېلو بېلو برخو درلودونکی وي. لکه:

پرې- ک- ؤ- ل: pre-k-aw-al

پرې-ک-ید-ل: pre-k-ed-al

پورتني تجزیه سوي مصدرونه نسبت و دوو دمخنیو(سوځول او سوځېدل) غوندي مصدرونه یوه ټوټه اضافه لري. دغه اضافه توب نور هم پسي ډېرېدلای سي. لکه: غوټ پرېکول، غوټ سره پرېکېدل او نور داسي ترکیبي شکلونه؛ مګر د تجزیې او تحلیل د اسانی له پاره به ئې یوه مختصر شکل تر څېړني لاندي ونیول سي، چي هغه به دغه څلور ټوټه ایز شکله مصدر وي. د مثال په توګه:

غلا-ک-ؤ-ل: ghla-k-aw-al

غلا-ک-ید-ل: ghla-k-ed-al

د (غلاکول) او (غلاکېدل) مصدرونه په تجزیه کښي له څلورو ټوټو څخه درې ټوټې مشترکي او یوه ئې مخالفه په لاس راځي. دغه ټوټه عبارت له هغې برخي څخه ده، چي په (۲، ۳ او ۲، ۴) کښي هره یوه د بېل مورفیم په توګه وپېژندله سوه.

ketabton.com - The Digital Library

له نورو درو مشترکو برخو څخه ئې لومړی ټوټه(غلاghla) یو دوه مورفیمه اسم دئ؛ خو هر څه چي دوهمه ټوټه /ک-ka-/ ده، عبارت له یوه فعلي ریښه ایزه مورفیمه څخه ده. /-ka-/ او /-aw-/ یا د /-ka-/ او /-ed-/ واولونه یا د علت حرفونه د مشابهت ادغام assimilative replacement لري او یا دا چي /-k-/ یو مورفو فونیم دئ.

د دغه راز مصدرو د پېژندني په خوا کي لومړنی څرک موږ ته له دې ځایه څخه په لاس راځي، چي یو اسمي آزاد شکل له یوه فعلي مورفیمه سره په ترکیبي قید کښي راغلی دئ؛ یعني بېله (غلا) څخه (کول) او (کېدل) مصدري نخښي نه؛ بلکي په خپله دوه هغه راز مصدرونه دي، چي ترمخه توضیح سول.

ketabton.com - The Digital Library

د مصدر څرنګوالی

۳، ۱- له دمخنیو څېړنو څخه موږ ته دغه نتیجه په لاس راغله: هر هغه فعل، چي مختوم په /-ل/ وي مصدر دئ. لکه: کتل، ویل، غورځول، غورځېدل او نور.

مګر اوس به بنا پر دغه نتیجه په خپله په ژبه کښي وګورو، چي د دغه راز صیغو د استعمال څرنګه ثبوت او مدلول سته. مثالونه:

۱- ده ډېر کتابونه ولوستل. ۲- ما خپل څو تنه ملګري ولیدل.

۳- دې کوچنیان وژړول. ۴- دوی په ډنډه کښي ولمبېدل.

په لوړو جملو کښي هغه فعلي صیغې، چي په وروسته کښي ئې مصدري نخښه /-ل/ راغلې ده، عبارت له ولوستل، ولیدل، وژړول او ولمبېدل څخه دي؛ مګر موږ ئې لومړی په بدیهي ډول له استعماله څخه پوهېږو، چي دغه ډول صیغې که څه هم مصدري نخښه په کښي سته؛ خو مصدري مشخصات نه لري. دوهم دا چي د سرتړنی /و-/ مورفیم، چي پر مطلقي ماضي اطلاق کېږي، د مصدر ګرده اسمي خصاصیات ور نفي کوي او پر ځای باندي ئې یوازي فعلي خصوصیات ور تائیدوي. له دې پلوه نو پورتنۍ صیغې د مطلقي ماضي جمع افعال دي او دغه رنګه ئې فاعلان او مفعولان، چي ډېر کتابونه، څو تنه ملګري، کوچنیان او دوی دي، هم جمع دي.

په لنډه توګه داسي ویلای سو، چي د ولوستل، ولیدل، وژړول او ولمبېدل غوندي افعال، چي په سر کي ئې د مطلقي ماضي مورفیم /و-/

ketabton.com - The Digital Library

راغلی وي، له لوستل، ليدل، ژړول او لمبېدل مصدر څخه مأخوذ دي. په بل عبارت هغه مصدري شکلونه، چي که ئې په سر کښي /و-/ ودرلودئ، هغه له مصدروالي څخه وزي او يو بشپړ ماضي فعل ځني جوړيږي.

۳، ۲- پورتنی بيان پوره واضح نه دئ؛ ولي سربېره پر دې چي د مصدري شکل په سر کښي دي د /و-/ موجوديت مطلق ماضي افعال له مصدريته څخه وباسي، يوه ډله نوري صيغې هم په ځان کښي ور سره شاملوي. لکه: ويل، وژل، ودول او وهل غوندي کلمات. مگر دغه راز صيغې که څه هم په ابتداء کښي /و-/ لري؛ خو د بشپړي ماضي جمع فعلونه نه؛ بلکي مصدرونه گڼل سوي دي.

په دغه باره کښي يوه داسي پوښتنه پيداکيږي، چي موږ څرنگه کولای سي د ولوستل او ويل غوندي کلماتو د (و) وو تر منځ دي داسي تميز ځله وکړای سو، چي يو ئې د مطلقي ماضي مورفيم دئ او بل د اصل صيغې صرف يو بږغ يا فونيم دئ. د دغي پېژندني له پاره دوې لاري سته، چي يوه ئې معنوي semantic او بله ئې لفظي morphological ده.

الف- دغه لومړنی معنوي معيار، چي ابتدايي او د ژبي د بږغېدونکو له پاره اسانه دئ، د صيغو پر نحوي استعمال باندي اتکأ لري. له دغي لاري څخه د دوی تر منځ د معنی توپير واضح کيږي. د مثال په توگه دغه لاندينۍ دوې جملې سره مقايسه کوو:

۱- ده ډېر کتابونه ولوستل.

۲- ده ډېر کتابونه ويل.

ketabton.com - The Digital Library

په لومړۍ جمله کي د کتابو لوستلو کار په ماضي کي بشپړ سوی دئ؛ مګر په دوهمه جمله کي دغه کار په تېره زمانه کي بشپړ سوی نه دئ؛ بلکي دوام لري. ځکه نو لومړۍ د مطلقي ماضي او دوهمه د جاري ماضي صيغه ده.

ب- د نوموړو دوو (و) وو د تميز کونګ له پاره بل معيار عبارت له مورفيمي تجزيې څخه دئ. داسي:

که چيري /و/ مورفيم نه؛ بلکه يو داسي فونيم وي، چي د فعلي مادې يا فعلي مورفيم يوه برخه جوړوي؛ نو د تجزيې په نتيجه کښي ئې فعلي مورفيم بې معنی کيږي او نور نو د مورفيموالي څخه وزي. لکه:

مورفيمونه	فونيم	بې معنی
وژل	/و-/	/-ژل/
ويل	/و-/	/-يل/
ويښول	/و-/	/-يښول/
ودول	/و-/	/-دول/
ويښېدل	/و-/	/-يښېدل/
ودېدل	/و-/	/-دېدل/

په هغه صورت کښي، چي /و-/ مورفيم وي؛ نو د تجزيې په نتيجه کښي فعلي ماده خپله ذاتي معنی خوندي کوي او له مورفيموالي څخه نه په وزي؛ يعني بې معنی کيږي نه. لکه:

ketabton.com - The Digital Library

مورفیمونه	مورفیم	معنی داره
ولوستل	/و-/	لوستل
ولیدل	/و-/	لیدل
وژړول	/و-/	ژړول
وژړېدل	/و-/	ژړېدل

د پورتنی تجزیوي مقایسې په نتیجه کښي د لومړني معنوي معیار له معنی څخه داسي ویلای سو، چي د ړومبنی تجزیې بشپړ اشکال یا ناتجزیه سوي صورتونه، لکه وژل، وهل، ویل، ویښول او ودول له دوهمي برخي له تجزیه سوو منتجو صورتو، لکه لوستل، لیدل، ژړول او ژړېدل سره برابر دي. یعني واړه په یوه کټه گوري category کښي سره راځي. څرنگه چي دغو وروستنیو صورتو ته د مطلقي ماضي مورفیم /و-/ ور اچول کیږي او ولوستل، ولیدل، وژړول ځني جوړیږي؛ دغه رنگه لومړنیو، وژل، ویل او وهل غوندي صیغو ته هم نوموړی (و-) مورفیم ور لوېدای سي او مطلق ماضي افعال ځني جوړوي. په دغه صورت کښي نو دغسي صیغې په سر کښي دوه (و) وو نه مومي. لکه ووژل، وویل او ووهل، چي د دغو وروستیو اشکالو موجودیت په خپله په ژبه کښي د وژل، ویل او وهل غوندي کلمو واوونه د مطلقي ماضي د مورفیموالي له اشتباه څخه باسي.

۳،۳- له دوهم تجزیوي مورفیمي معیاره څخه یو بل مشکل را پیداکیږي او هغه د ولاړل په کلمه کښي دئ.

دغه کلمه باید چي د وروستني /-ل/ مورفیم په ذریعه سره مصدر وي؛ مگر څرنگه چي په سر کښي /و-/ لري؛ نو باید د مطلقي ماضي یو جمع

ketabton.com - The Digital Library

غایب فعل وي او (و) ئې تجزیه ومني. ولي واقعیت دغسي نه دئ؛ ځکه چي یو خو د ولاړل کلمه مصدر نه دئ؛ بلکي د تلل له متداول مصدره څخه د مطلقي ماضي جمع غایب یو بې قاعدې فعل دئ او بل دا چي د (و) تجزیه هم نه مني. که ئې تجزیه ومنله یعني (و-) مو ځني بېل کړای سوای؛ نو په دغه صورت کښي به (لاړل) د نورو پورتنیو صیغو په څېر مصدر وي او د استمراري ماضي جمع غایب فعل په توګه به هم کار ورکوي؛ مګر پېښه دغسي نه ده. د (لاړل) شکل د استمراري ماضي جمع غایب فعل کار نه ورکوي؛ بلکي دغه وظیفه هم د (تلل) د متداول مصدر په خوا ده. مطلب دا چي نه د ولاړل صیغه مصدر کېدای سي او نه ئې د (لاړل) صورت، چي دغه وروستنی ئې د لومړني یو لهجوي شکل دئ او داسي ایسي، چي د ولاړ wlar په ساکن واو او ولاړ walar په متحرک واو له غیر موافقت dissimilation په نتیجه کښي دي له (ولاړ) څخه (لاړ) منځ ته راغلی وي. (ولاړل) د مطلقي ماضي جمعي یو داسي شکل دئ، لکه د وختل او ویل غوندي صیغو، چي ټولي ئې په سر کښي د مطلقي ماضي مورفیم /و-/ لري.

د پروفیسور مارګنسټرن له قوله څخه دغه کلمه په اوستا کښي ویدارته vedarta ده.

۳، ۴- له پورتني بیانه څخه دغه استنباط کیږي، چي بې د مطلقیت له (و) څخه نور هغه فعلي شکلونه؛ کوم چي مصدري نخښه ولري واړه مصدرونه دي. مګر دغه حکم بیا هم پر ځای نه دئ؛ ولي چي ننوتل، پرېوتل، کښېوتل، کښېنستل، کښېښودل غوندي صورتونه ټاکلي او واضح نه

ketabton.com - The Digital Library

دي؛ يعني دغه نه ځني را ښکاريږي، چي دوی مطلق ماضي جمع غايب افعال دي او که هغه صورتونه، چي مصدرونه ګڼل کيږي. د دغي ټاکني له پاره يوه معياري وسيله د خج stress د موقعيت تشخيص دئ. داسي که چيري خج د کلمې پر لومړنۍ سيلابي syllable باندي ؤ؛ نو پورتني واړه صورتونه مطلق ماضي جمع غايب افعال دي. مګر که پر وروستني سيلابي باندي خج راغلئ؛ نو صورتونه ښووي، چي مصدرونه بلل سوي دي او هم د استمراري ماضي جمع غايب افعال جوړوي. پس د مطلقي ماضي مورفيم، چي په دمخنيو صورتو کښي /و-/ ؤ، په دغو وروستنيو شکلو کښي خج دئ. په بل عبارت سره که خج پر لومړني سيلابه وي؛ نو د مطلقيت د مورفيم /و-/ يو الومورف جوړوي، چي دغه supersegmental دئ. که دغه خج پر وروستني سيلابه وي؛ نو استمراري ماضي جمع غايب افعال او هم متداول مصدري شکلونه منځ ته راولي. په واضح ډول سره په دغه راز مصدرو کښي شرط دا دئ، چي خج به ئې پر وروستني سيلابه باندي وي.

٣، ٥- دمخنيو مصدري اشکالو لکه کښېنستل، د خجي موقعيت تغير درلودئ، چي د هغه له مخي څخه ئې موږ ماهيت معلومولای سوای او تر دغو د وړاندي بيان سوو اشکالو له پاره مو د مطلقي ماضي د مورفيم /و-/ له موجوديته څخه استفاده کوله؛ ولي داسي کلموي صورتونه هم سته، چي دغه دواړه معيارونه په کښي مغشوش دي. لکه د بوتل او يووړل کلمات. دوی مصدري نخښي او شکلونه لري؛ مګر مصدرونه نه دي؛ بلکي هغه د مطلقي ماضي جمع غايب افعال دي؛ خو د دغي خاصې نخښي په کښي وضاحت سره نه ليدل کيږي.

ketabton.com - The Digital Library

لومړی خو دغه دواړي صيغې د /بو-/ او (تلل)، /يو-/ او (وړل) د اجزاؤ مرکبات دي، چي لفظي او معنوي ثبوت ئې د وروستنيو اجزاؤ په استقلال او بې قيدئ کښې پروت دئ. دوهم د دواړو صيغو تر منځ د دغه خصوصيت اشتراک دوی په يوه کټه ګوري کښې يا تر يوې قاعدې لاندي نه راولي؛ ځکه چي د دوهمي کلمې يووړل او سترې برخه(وړل) مصدر او د /يو-/ په ملګرتيا سره د مطلقي ماضي جمع غايب فعل صيغه جوړوي.

دغه رنګه هم د يووړل صيغه د استمراري ماضي جمع غايب فعل هم دئ، چي د مطلقي ماضي متناظره صيغه ده.

د (يو-) معنوي وظيفه او لفظي موقعيت دغه را څرګندوي، چي دی د مطلقي ماضي مورفيم (و-) يو بل الومورف دئ. /يو-/ د /و-/ يو متحول شکل دئ، چي د لفظي غير موافقت يا عدم توافق dissimilation په پېښه کښې منځ ته راغلی دئ؛ په داسي ډول چي له استمراري ماضي جمع غايب فعل(وړل) څخه د مطلقي ماضي جمع غايب فعل د /و-/ په اضافه توب سره (ووړل) نه جوړيږي؛ دا ځکه چي د (وړل) د کلمې اصلي فونيميک /و-/ ساکن يا بې حرکته دئ او هم پنډه اوښتی /د/ په پسې ده. له دغه پلوه نو د (ووړل) پر ځای باندي د (ويوړل) شکل، چي لهجوي موجوديت لري، منځ ته راځي. دغه د ويوړل صورت د قلب يا تېروبېر په پېښه کښې اوسنی (يووړل) شکل و ځان ته غوره کړی دئ، چي متداول مصدر ئې(وړل) دئ.

د (بوتلل) صيغې تحليلي توضيح پېچلې او مغلقه ده. په لومړي نظر د (يووړل) کلمې پر قياس باندي داسي څرګنديږي، چي د (بوتلل) صيغه دي مطلقه ماضي جمع غايب فعل وي او هم دي ئې د (يووړل) په څېر دوهمه

ketabton.com - The Digital Library

برخه(تلل) مصدر وي. لومړی حکم صحیح دئ؛ مگر دوهم ئې صحت نه لري؛ ځکه چي یو خو د (تلل) استمراري ماضي جمع غایب فعل تناظري ټول د مطلقي ماضي جمع غایب فعل(ولاړل) صیغه ده، چي تر مخه ئې هم یادونه سوې ده. بل دا چي د (تلل) صیغه لازمي فعل اداء لري؛ مگر د (بوتلل) هغې متعدي ده. بېله کوم گرامري څرکه د ژبي له استعماله څخه دا رامعلومه ده، چي د (بوتلل) د مطلقي ماضي جمع غایب فعل متناظر د استمراري ماضي جمع غایب فعل(بېول) صیغه ده او دغه په خپله هم عبارت له متداول مصدره څخه ده؛ مگر دا چي د بېول او بوتلل تر منځ څرنگه لفظي رابطه موجوده ده، کم کرښپل ئې وهلای نه سم.

دوهم مشکل ئې دا دئ، چي (بوتلل) خو د مطلقي ماضي جمع غایب فعل صیغه ده؛ مگر د (وویل) د /و-/ او د کښېښوول د (ا) خج په څېر ئې د مطلقي ماضي مورفیم څه دئ، چي باید د /و-/ څلورم الومورف جوړ کړای سي. د تلل، بوتلل او بېول کلمات د معنی او لفظ له مخي څخه مناسبت سره لري؛ مگر بې نظمي ئې د یوې تاریخي عملیې په ترڅ کښي منځ ته راغلې ده، چي بیان به ئې بېله ثقه شواهدو څخه یو تش گمان وي.

٦،٣ – تر اوسه پوري مو یوه ډېره ساده موضوع تر څېړني لاندي نیولې وه، چي هغه د مطلقي ماضي صیغې تشخیص ؤ له مصدري څخه. د دغي څېړني له پاره مو دوې عمده او څو فرعي یا استثنایي لاري پیداکړې. عمده لاري ئې د مطلق ماضي مورفیم /و-/ او /٣/ خج تشخیص دئ. هغه صیغې چي د نمونې په ډول تر څېړني لاندي راغلي وي، لاندي ذکر کیږي:

مصدري صیغې: لوستل، کښېښول، تلل، وړل، بېول.

ketabton.com - The Digital Library

مطلقي ماضي صيغې: ولوستل، کښېښودل، ولاړل، يووړل، بوتلل.

په پورتنۍ موضوع کښې موږ له دوو پوښتنو سره مخامخ کېږو، چې هغه داسي دئ:

لومړی- آيا که د مصدر صيغې ته د /و-/ مورفيم ور واچوه سي؛ نو د مطلقي ماضي صيغه ځني جوړيږي او که اصلاً له دغي صيغې څخه نوموړی مورفيم ايسته کړه سي؛ نو مصدر را پاتيږي؟

ساده جواب ئې داسي دئ، چې دواړه صورتونه ئې صحيح دي؛ مگر پېچلی او تحقيقي جواب به ئې وروسته وځېړه سي.

دوهم- د مطلق ماضي صيغه ولي مصدري نخښه لري؟ يعني ولي ئې د مصدر غوندي په پای کښې د /-ل/ مورفيم راغلی دئ؟ دغه پېښه و موږ ته دوې اشتباه‌وي را پيداکوي.

يوه ئې دا ده، چې پښتو به د يوې فعلي سلسلې له پاره دوه مصدرونه لري. لکه بېول او بوتلل، يا لوستل او ولوستل. د مثال په توگه: دوهمه اشتباه ئې دغه ده، چې د /-ل/ نخښه به مصدري مورفيم نه وي؛ بلکي د يوه بل خصوصيت لرونکی به وي. د دغي مسئلې د حل له پاره ئې ژبني استعمال ته مراجعه کوو:

۱ – ما ليکونه لوستل.	۱ – ما ليکونه ولوستل.
۲ – دوی په اتڼ ور کښېوتل.	۲ – دوی په اتڼ ور کښېوتل.
۳ – دوی کور ته تلل.	۳ - دوی کور ته ولاړل.
۴ – موږ بوداگان بېول.	۴ – موږ بوداگان بوتلل.
۵ – تاسي کالي وړل.	۵ - تاسي کالي يووړل.

ketabton.com - The Digital Library

د ښځې خوا او د کينې خوا د جملو تر منځ توپير د مطلقيت يا بشپړتوب په مورفيم کښې دئ، چې عمده شکل ئې /و-/ او نور مختلف فرعي شکلونه يا الومورفونه لري، چې تر مخه ئې يادونه سوې ده. د ښی خوا د جملو تر بحث لاندي صيغې، چې د مطلقيت يا بشپړتوب مورفيم نه لري، څنګه اشکال جوړوي.

۷،۳ – څرنګه چې د ښی خوا د جملو مصدري شکلونه د مطلقي ماضي مورفيم /و-/ نه لري؛ نو البته مصدرونه به وي؛ مګر ګرامريانو پر مصدر باندي داسي قيد ايښی دئ، چې بايد اسمي خصوصيت ولري. دغه قيد ته د مصدر په تعريفو کښي اشاره سوې ده؛ مګر پورتنۍ صيغې چې تر څېړني لاندي دي، هيڅ يوه ئې هم اسمي خصوصيت نه لري؛ بلکي برعکس د ښی خوا هغې د استمراري ماضي جمع غايب افعال دي. که دغه افعال د کينې خوا له افعالو سره مقايسه کوو، موږ ته دغه نتيجه په لاس راځي، چې د فعل بشپړتوب يا مطلقيت مورفيم که نفي او ايسته سي؛ نو عين فعل استمراري حالت غوره کوي. نتيجه دا چې د فعلي بشپړتوب د مورفيم په نه والي کښي مصدر په لاس نه راځي. هغه صيغه چې را پاتيږي واړه خصوصيتونه ئې فعلي وي.

ذکر سوي صيغې چې زموږ تر څېړني لاندي دي، ګرده د عدد له نقطه نظره څخه يو شکل لري او هغه عدد جمع دئ. دغه واقعيت موږ ته د پورتنيو جملو له فاعلانو او مفعولانو څخه، چې ټول جمع دي راښکاريږي؛ نو خود به ئې افعال جمع وي. که ئې چيري فاعلان او مفعولان مفرد کړل سي؛ نو افعال ئې سمدلاسه د جمع حالت ور سره بايلي.

ketabton.com - The Digital Library

د مثال په توګه:

۱ – ما لیک لوستی.	۱ – ما لیکونه لوستل.
۲ – دی په اتڼ ور کښېوتئ.	۲ – دوی په اتڼ ور کښېوتل.
۳ – دی کور ته تلی.	۳ – دوی کور ته تلل.
۴ – موږ بوده بېوی.	موږ بودګان بېول.
۵ – تاسي کالي وړئ.	۵ – تاسي کالي وړل.

له پورتنۍ مقایسې څخه موږ ته دغه نتیجه په لاس راځي، چي /-ی/ د افراد مورفیم او /-ل/ د جمع مورفیم دئ. دغه نتیجه زموږ د پخوانۍ پوښتني چي د مطلق ماضي صیغه ولي مصدري نخښه لري، جواب وایي. هغه داسي چي د مطلقي ماضي صیغه مورفیم نه لري؛ بلکي په واقعیت کښي د جمع مورفیم /-ل/ لري. دغه سبب ۇ، چي هم د مطلقي ماضي غایب افعال فاعلان یا مفعولان جمع او هم د استمراري ماضي غایب افعال فاعلان یا مفعولان جمع وه. یعني د دوی تر منځ د جمع مورفیم /-ل/ مشترک ۇ.

د پورتنیو مصدر نما اشکالو فعلوالی به ښایي، چي ځینو لوستونکو ته ډېر ساده ایسي؛ مګر موږ مجبور یو چي وئې ازمویو. ځکه په کتاب کښي ئې راوړي دي، چي دغه راز اشکال مصدرونه دي. د مثال په توګه: بوتل، لاړل، راغلل او ګورل ئې د اشتقاق او تصریف له مخي څخه قیاسي مصدرونه او بېول، تلل، راتلل او کتل ئې غیر قیاسي مصدرونه ګڼلي دي.[1]

[1] د پښتو پښویه ۵۶سم مخ.

ketabton.com - The Digital Library

۳، ۸ – تر مخه د دې یادونه وسوه، چي ښایي پښتو دي د یوې فعلي سلسلې له پاره دوه مصدرونه ولري.

دغه پېښه هغه وخت امکان پیداکوي، چي لوستل او ولوستل غوندي کلمات دي سربېره پر استمراري او مطلق ماضي جمع فعل والي باندي نور مصدري خصوصیتونه هم ولري. لومړی دا چي باید دواړه موازي یا تناظري تصریفي او اشتقاقي اشکال وښووي. د دغه مطلب د افادې له پاره یو کوچنی مقایسوي جدول وړاندي کیږي:

نوع	مصدر	ماضي	حال	مستقبل
استمراري	لوستل	لوستی	لولي	لولي به
	ویل	وایه	وایي	وایي به
بشپړ	ولوستل	ولوستئ	ولولي	ولولي به
	وویل	ووایه	ووایي	ووایي به

اوس که نو (ویل) غوندي اشکال مصدر وبلل سي، (وویل) غوندي به سم ور سره مصدر کیږي. دغه ځکه چي اوسترې شکل د لومړني غوندي خپله سلسله مستقل تصریفات لري. د دغي ادعا په مقابل کښي د یوه داسي اعتراض کېدنه، چي دوهمه ډوله د (وویل) افعال هم د (ویل) له مصدره څخه مشتق دي. د تردید له پاره ئې دغه لاندي دوه دلیلونه وړاندي کېدای سي.

۱ـ گرامریانو د مصدر په تعریف کښي له ده څخه د نورو کلمو راوتل داسي مقید کړي دي، چي باید د مصدري نخښي په الیشېدنه سره ئې د نورو صیغو تصریف او اشتقاق صورت مومي. تر دغه قید او قاعدې لاندي

ketabton.com - The Digital Library

که مثلاً (لوستل) مصدر سي (ولوستل) ځني مشتق کېدای نه سي؛ ولي چي مصدري علامه ئې نه ده تغير سوې او د گرامريانو شرط نه دئ په کښي پر ځای سوی؛ نو کېدای سي چي د (لوستل) او (ولوستل) غوندي صيغې دي د يوې فعلي سلسلې دوه متناظر مصدرونه وي.

۲ـ که د تناظر و اصل ته اهميت ورکړه سي او يو معياري شکل اختيار کړي؛ نو د هر استمراري فعل مصدر به لکه (لوستل) په خپل تول[1] کښي د بشپړ فعل مصدر لکه (ولوستل) ولري. د افعالو تصريف که له استمراري مصدره څخه صورت ومومي؛ نو ئې له بشپړېزه مصدره څخه هم په متناظره توگه مومي. په کومه توگه چي د مصدرو تر منځ تناظري تصريف paradigmic parallelism موجود وي. دغه رنگه ئې د تصريفي فعل اشکالو تر منځ هم ساتل کېږي او دغه د متناظر بشپړيز مصدر قياسي موجوديت ثابتوي. يعني لکه څرنگه چي د استمراري افعالو مصدر سته، دغه رنگه هم د بشپړو افعالو مصدر وجود لري، چي لاندي ئې د مثال په توگه يوه تناظري او موازي سلسله وړاندي کېږي:

لوستل	ولوستل
لوستئ	ولوستئ
لوستلم	ولوستلم
لولم	ولولم
لولي	ولولي

تر پايه...

---

[1] تول د (ت) په سکون د هم وزن او هم برابر په معنا دئ.

ketabton.com - The Digital Library

د (لوستل) مصدر متناظر مصدر (ولوستل) دئ او له دوی دواړو څخه یوه یوه موازي سلسله افعال تصریف مومي، چي مثال ئې پورته ذکر سو. د دغو دوو مصدرو او د دوی د فعلي تصریفاتو تر منځ توپیر تش د بشپړیز یا مطلقیت د مورفیم /و-/ په وجود او عدم کښي پروت دئ.

له پورتني تناظره سره سم که (لوستل) غوندي صیغې مصدر سي؛ نو (ولوستل) غوندي صورتونه ئې هم د خپلي تصریفي سلسلې پر اساس باندي ورسره مصدر کیږي. سربېره ئې پر دغه تصریفي خصوصیت، چي گرامریانو د مصدر په تعریف کښي هم شامل کړی دئ؛ دوه نور علتونه سته، چي موږ د (ولوستل) غوندي صیغو له مصدروالي څخه پښېمانه کوي. لومړی علت دا دئ، چي موږ په عنعنوي ډول سره چي هغه هم گرامریانو را باندي تحمیل کړی دئ، (ولوستل) غوندي صیغې د بشپړو (مطلقو) ماضي جمع غایبو افعالو په توگه پېژنو. دوهم علت ئې دا دئ، چي د (ولوستل) رنگه مصدرونه د گرامریانو یو بل شرط، چي هغه اشتقاق دئ په بشپړ ډول سره نه سي یو ځای کولای. یعني له دوی څخه فاعلي او مفعولي صفات لکه walwastunkey ولوستونکي او walwastaley ولوستلي نه سي جوړېدای. که موږ د دغو عللو له مخي څخه د (ولوستل) صیغه له مصدریته څخه وباسو او یوازي ئې د مطلقي ماضي جمع غایب فعل وبولو؛ نو د (لوستل) غوندي صیغې هم خپل مصدروالی بایلي او یوازي د استمراري ماضي جمع غایب فعل حالت غوره کوي. دغه ځکه که یوه صیغه فعل سي او بله مصدر؛ نو د پښتو افعالو تر منځ تناظري ساختمان ورانیږي. د دې له پاره چي دغه فعلي تناظر مو ساتلی وي؛ نو ویلای سو

ketabton.com - The Digital Library

چي له دواړو څخه به یو لا هم مصدر نه وي؛ بلکي دواړي یو د استمراري او بله د مطلقي ماضي جمع غایب فعل صیغې دي.

۳، ۹ـ ګرامریانو دغه موضوع چي لوستل، ویل، ویول او وییدل غوندي صیغې مصدرونه او /-ل/ ئې مصدري نخښه ده، موږ په مغز کي را کښېنولې ده. له بله اړخه څخه موږ ولیدل، چي دغه نخښه له استمراري او مطلقو ماضي جمع غایبو افعالو سره هم مله وي. په داسي صورت کښي نو موږ څرنګه پوهېدلای سو، چي کمه صیغه مصدر او کمه ئې نه ده؟ د دغي پېژندني له پاره زموږ لومړی معیار د دغه راز صیغو ترکیبي استعمال دئ. لکه ویل کیږي، ویل سوي دي، ویل سوي وه، وبه ویل سي او نور داسي. په دغو ترکیبو کښي د (ویل) صیغه د ګرامریانو له قوله سره سم اسمي خصوصیت ښکاره کوي، چي په مفرد او جمع حالت کښي دغه رنګه هم په حال، ماضي او مستقبل کښي خپل یوازنی مصدري شکل تر پایه ساتي. یعني د ماضي غیاب او جمع یا افراد خصوصیتونه نه لري او بل که ئې چیري په مضمونه کښي پراته هم وي، هغه په دوی پوري منحصر نه؛ بلکي په وروستنیو ترکیباتو پوري ئې اړه لري.

په (۲، ۵) کښي مو مصدرونه لکه وهل کول، نیول کېدل او نور داسي مصدرونه څېړلي دي او دغه موضوع، چي (ویل) غوندي صیغې په فعلي ترکیبي استعمال کي د جاري ماضي جمع غایبو افعالو صیغې نه دي، په خورا وضاحت سره تصدیق کوي.

اوس چي پورتنۍ غوندي صیغې په ترکیبي حالت کښي د استمراري ماضي جمع غایبو افعالو له قیده څخه آزادي سولې؛ نو کېدای سي چي

ketabton.com - The Digital Library

مصدرونه دي وي؟ یه نه! ځکه چي په لومړي صورت کښي ئې ترکیبي یا مصدر والا مصدرونه جوړ کړي او پورتني اشکال هم د (ویل کول) له مصدري مصدره څخه مشتق دي. د دغه ترکیبي مصدر (ویل کول) دوهمه برخه (کول) بیا هم د استمراري ماضي جمع غایب فعل تر اشتباه لاندي راځي. دا چي لومړۍ برخه ئې له دغه قیده څخه ازاده سوې ده؛ تر یوه بل قید لاندي راځي، چي هغه ئې ترکیبي صورت دئ. دغه شرط د نوموړي صیغې مصدروالی په واقعیت کښي ور ورانوي. دغه ځکه که چیري مصدر تر دغه راز شرایطو لاندي، چي یو خو به فعلي اسم وي او بل به د بشپړوونکو auxiliary افعالو په ترکیب کښي عمده برخه جوړوي، ومنلای سي؛ نو د وروستني شرط له پلوه څخه به دغه یوازي د پښتو ژبي مصدري خصوصیت او بیله بشپړوونکو افعالو څخه به مصدر کم مستقل موجودیت ونه لري. بل دا چي د مصدري نخښي موجودیت او د هغې تصریفي او اشتقاقي خواص، چي گرامریان ئې د هغو له مخي څخه پېژني له منځه ځي. په دغه صورت کښي داسي صیغو ته څه مصدروالی هم نه ور پاتیږي. سربېره پر دغه باندي داسي اشکال له پورتنۍ تناظري پوښتني سره مخامخ کیږي، چي لاندي ئې تر نظر باسو.

۳، ۱۰- مصدر په ترکیبي شکل لکه ویل کېدل، لمبول کېدل، نیول کېدل او نور داسي د (۳، ۸) په څېر تناظري ساختمان لري. تر مخه مو هم د دې یادونه کړې ده، چي مثلاً (لمبول کېدل) غوندي مرکبه صیغه د وروستنۍ برخي (کېدل) په ذریعه سره د جاري ماضي جمع غایب فعل جوړوي؛ نو ځکه په مقابل کښي د مطلقي ماضي جمع غایب فعل صیغه (ولمبول سول)

ketabton.com - The Digital Library

دریږي. په دغه موضوع کښي یوه بله باریکي سته، چي هغه د مطلقیت د مورفیم /و-/ موجودیت د ترکیبي مصدر په لومړنۍ برخه کښي دئ او د دوهمي برخي (سول) سره یو ځای کېدنه ده. د مثال په توگه د دوی تناظري سلسله په لاندي ډول ده:

لمبول کېدل	ولمبول سول/شول
لمبول کېدلم	ولمبول سوم/شوم
لمبول کیږي	ولمبول سي/شي
لمبول کېدی به	وبه لمبول سو/شو

تر پایه....

د پورتني تناظري ساختمان توپیر د (۳، ۸) له تناظري سلسلې سره دوه اړخه لري او دواړه ئې غبرگون ښووي. لومړی دا چي په دغه اوسني تناظر کښي نسبت دمخني ته صیغې ترکیبي یا غبرگي دي. دوهم دا چي د فعلي بشپړتوب یا مطلقیت مورفیم په (۸،۳) کښي یووستوی او په تر بحث لاندي سلسله کښي غبرگ دئ.

یو له دغو دوو مورفیمو څخه دمخه تر څېړني لاندي نیول سوی او هغه د بشپړتوب مورفیم /و-/ دئ. د فعلي مطلقیت دوهم مورفیم د (سول) په صیغه کښي پروت دئ. دغه واقعیت مور ته هغه مهال په ثبوت رسیږي، چي د (سول) سره د (ولمبول) پر ځای باندي یو صفت راوړه سي. لکه (غوځار سول) او (خوړ سول)، که څه هم په دغو دوو مثالي ترکیبو کښي د (ولمبول) د مطلق فعل مورفیم (و-) نه سته؛ مگر بیا هم د (سول) په صیغه سره د غوځارېدو او خوړېدو واقعه بشپړه سوې ده. دغه معنی دا چي د (سول)

ketabton.com - The Digital Library

صیغه په ځان کښي د فعلي بشپړتوب مورفیم لري، چي هغه عبارت له فعلي ریښې /سه-/ څخه دئ. پس نو /سه-/ د مطلق فعل مورفیم /و-/ یو بل الومورف دئ.

یو بل واقعیت دا دئ، چي (لمبول) او (ولمبول) صیغې یوه د بلي متناظره ده؛ مگر په پورتني مثال کښي خپله تناظري تصریفي سلسله نه تعقیبوي؛ بلکي خپل واحد شکل تر پایه هغسي ساتي؛ مگر هر څه چي د ترکیبو وروستۍ برخي دي، یعني (کېدل) او (سول) خپل تناظري تصریفي سلسلې تر پایه په موازي ډول سره برابر خوندي کوي. له دغه پلوه نو خپل مصدروالی له دوو لارو څخه له لاسه ورکوي. یوه لار ئې ترکیبي ده او تر مخه ئې هم یادونه سوې ده، چي په ترکیبي مصدرو کښي له (لمبول کېدل) دوهمه برخه پر جاري ماضي جمع غایب فعل باندي اطلاق کېږي. یو علت خو دغه د (لمبول کېدل) د وروستۍ برخي (کېدل) جمع والی دئ، چي د تناظر له مخي څخه د (ولمبول سول) وروستنۍ برخه (سول) له مصدریته څخه باسي. دوهم علت ئې دا دئ، چي موږ د (سول) په صیغه کښي د فعلي بشپړ مورفیم /سـ s/ چي د /و-/ الومورف دئ، پیداکړ.

له دوهمي لاري د تناظري تصریفي موازیوالي له مخي څخه پر (سول) باندي هم د (ولمبول) په توگه د بشپړي ماضي جمع غایب فعل حکم کېدلای سي. دغه ځکه چي په مقابل کښي ئې د (کېدل) استمراري ماضي جمع غایب فعل موجودیت لري. که چیري یو له دوی دوو څخه مصدر وبلل سي، دوی داسي نتیجې ورکوي، چي یوه ئې د تناظر وراني او بله ئې بالعکس د دواړو د مصدریت مننه ده. یعني که چیري (کېدل) مصدر سي؛

ketabton.com - The Digital Library

نو (سول) هم ورسره مصدر کيږي او له دغو سره سم به (لمبول) او (ولمبول) غوندي صيغې هم مصدرونه سي.

د دغي نتيجې حاصل به دا وي، چي د پښتو افعال که منظم وي او که غيرمنظم، دوه بېل مصدرونه به لري. يو به ئې استمراري Imperfect لکه (لمبول) او (کېدل) او بل به ئې مطلق يا بشپړ Perfect مصدرونه وي. لکه (ولمبول) او (سول).

۳، ۱۱- تر پورتنيو ترکيبي شرايطو لاندي د نوموړو صيغو مصدر کېدنه موږ ته له يوې خوا څخه لا هم قناعت نه سي راکولای؛ ځکه چي د دوی له مصدري منني سره بايد نور شرطونه هم قبول کړو. که نه وي مننه به مو ئې ناقصه وي. د دغي موضوع د پوهېدني له پاره بايد دغه لاندنی پوښتنه را برسېره کړو، چي مصدرونه له ټولو بشپړوونکو Auxiliary افعالو سره ترکيبيږي او که له يو څو محدودو سره؟ او يا بشپړوونکي فعلونه له ټولو مصدرو سره ترکيبونه جوړوي او که له يو څو ټاکلو سره. په لومړي صورت کښي خو يوازي(کول) او (کېدل) له مصدر څخه ترکيبيږي. هر څه چي نور بشپړوونکي افعال دي، هغه بيا له دغو ترکيبو سره په ځينو ټاکلو ځايو کښي ترکيبونه جوړوي، چي دغه هم د نوموړو افعالو تر منځ ذاتي اختلافونه ښووي. په دوهم صورت کښي چي کم مصدرونه له (کول) او (کېدل) سره ترکيبيږي، شمېر ئې ډېر محدود دئ او د خصوصياتو له مخي څخه ټاکل کېدای سي. لکه:

۱. لازمي مصدرونه له (کول) او (کېدل) سره نه ترکيبيږي.

ketabton.com - The Digital Library

۲. ډېر متعددي مصدرونه د (کول) له بشپړوونکي مصدره سره ترکیبونه نه جوړوي او ډېر لږ ئې په ځینو خاصو صورتو کښې له ځو محدودو افعالو سره راتلای سي؛ خو له (کېدل) سره په عمومي توگه نه ترکیبېږي.

۳. ډېر معلوم متعدي مصدرونه له (کېدل) سره ترکیبېږي؛ مگر له (کول) سره نه سي ترکیبېدلای.

٤. هر څه چي مجهول متعدي مصدرونه دي، له (کېدل) سره نه راځي او له (کول) سره په داسي ډول راتلای سي، چي عمومیت نه لري.

له پورتني بیانه څخه دغه له ورایه څرگندېږي، چي د مصدرو ترکیب عمومیت نه لري؛ ځکه نو یو څو دغسي محدود شکلونه تر ترکیبي شرایطو لاندي مصدر کېدای نه سي.

۳، ۱۲- که چیري پورتنۍ نتیجه بیا هم تر اشتباه لاندي وي او پر دغو تر بحث لاندي صیغو باندي بیا هم د مصدریت گومان موجود وي؛ نو ئې تاریخي او لهجوي اړخ ته مخ ور اړوو.

زما پر لیکني باید ځینو دقیقو لوستونکو انتقاد کړی وي، چي دغه دمخني مثالونه ما ولي لوستل کیږي، لمبول سوي دي او ویل کېدای غوندي کښلي دي. یعني په لوی لاس مي د مصدري شکل خوا ته ور پوري وهلي دي. د دوی اصلي اشکال د مثال په توگه لاندي وړاندي کیږي:

ketabton.com - The Digital Library

الف- ب- ج	د- هـ
غایب مفرد مذکر: لمبولئ سوئ دئ	لمبولئ دئ
غایب مفرد مونث: لمبولې سوې ده	لمبولې ده
غایب جمع مذکر: لمبول سوي دي	لمبولي دي
غایب جمع مونث: لمبولي سوي دي	لمبولي دي

په پورتني مثال کښې (الف) سلسله صیغې، چې په متداول ډول سره له (لمبول) څخه مشتقي بلل کیږي، ټولي مفعولي صفتونه دي. دغه وجیهه ئې هغه وخت ښه څرګندیږي، چې د (سول) سلسله ئې له منځه څخه ځني وایستله سي؛ نو به د (لمبولی دئ) غوندي پاتي سي. لکه (د او هـ) سلسلې.

دا چې د پورتنيو غوندي مفعولي صفاتو د مختلفو مورفیمي وروستړنو مراعات مي په خپله لیکنه کښې ولي نه دئ کړی، علتونه ئې په دې شاني دي:

۱. د (الف) صیغو وروستني مورفیمونه موږ ته شخص او عدد راښووي، چي څو او څوک دي؛ مګر کله چي د (الف) صیغو دغه مورفیمونه ایسته کړل سي، موږ په خپله افاده او استفاده کښې څه تکلیف نه حسوو. ځکه چي (ب) سلسله او دغه رنګه (ج) سلسله کلمې هم دغه وظیفه اداء کوي.

۲. نن په ږغېدنه، لیکنه او لوستنه کښې عمومي تمایل دې خوا ته دئ، چي (الف) سلسله یعني مفعولي صفتونه له مختلفو شکلو څخه و یوه شکل ته را کم کړي؛ یعني یو شاني ئې کړي. د اختلاف مراعات ئې د کندهار په شاؤخوا کښې، ځیني نوري لهجې او څو لیکوال کوي؛

ketabton.com - The Digital Library

خو په عمومي توگه په /-ل/ او حتی په زوره‌کي /-ه a/ سره تخفيف کيږي.

له پورتنی کتني څخه بيا هم موږ ته مصدر په ترکيبي صيغو کښي په لاس را نغلئ؛ بلکي عدم او نه والی ئې د مفعولي صفت له پېژندني څخه ښه ترا واضح کيږي.

۳، ۱۳- اوس موږ څه کولای سو؛ څو وپوهېږو چي د لوستل او تلل صيغې به چيري او څرنگه مصدرونه وي. دغي پوښتني ته موږ نحوي جواب ورکولای سو او هغه داسي: که چيري لوستل او تلل غوندي صيغې د جملو يا کلام په داسي برخو کښي راغلې، چي هورې د (ولوستل) او (ولاړل) غوندي صيغې همه راتلای سوای؛ نو په دغسي ځايو کي د (لوستل) او (تلل) په شاني کلمې مصدرونه نه؛ بلکي د (ولوستل) او (ولاړل) مطلقو ماضي جمع غايبو افعالو تناظري موازي جوړې دي. يعني د استمراري ماضي جمع غايب افعال دي. که ئې د مطلقي ماضي غايب جمع فعلي شکلونه پر ځای باندي نه سوای درېدلای؛ نو هورې مصدرونه دي. لکه:

١ـ د ده لوستل زده دي. ٣ـ پاخه لوستل سړی رسوي.

٢ـ ستا نور تلل ښه نه دي. ۴ـ تلل دي تر نه تللو گټور دي.

په پورتنيو جملو کښي لوستل، تلل او نور هم نوع ئې داسي صيغې دي، چي د مطلقي ماضي جمع غايب فعل اشکال ئې لکه ولوستل، ولاړل او هم مثله ئې پر ځای باندي نه سي درېدلای. پس نو د تناظر له مخي څخه دوی

ketabton.com - The Digital Library

هم د استمراري ماضي جمع غايبو افعالو صيغې نه دي؛ نو ښايي چې مصدري شکلونه به وي.

بيا هم يوه داسي پوښتنه سته، چې د پورتنيو جملو فاعلان مفرد؛ مگر فعلي اشکال يا صفات ئې نو ولي راغلي دي؟ د دغي پوښتني د جواب له پاره په وړاندنيو جملو کښي بله د استفسار مرجع نه سته، بېله دې څخه چې وپوښتو: آيا مصدرونه په خپل ذات کښي جمع وي او که مفرد؟ که دوی له لويه سره څخه مفرد وي، په پورتنيو جملو کښي استعمال سوي اشکال مصدرونه نه دي؛ ولي چي د جملې وروستنی او يوازنی فعل او هم ئې صفتونه د جمع والي اطلاق پر کوي. که چيري مصدر په خپل ذات کښي د جمع خصوصيت ولري؛ نو آيا دغه جمعوالی ئې د استمراري جمع غايبو افعالو سره څه اشتراک نه ښووي؟ يا که به ئې جمع والی يو مصدري خصوصيت وي؟ که وروستنی صورت صحت ولري؛ نو بايد چي د مصدر په پېژندنه کښي ئې دغه د جمعوالي مشخصه هم ور اضافه کړه سي. که نه وي نو ئې د وړاندني څرک له مخي څخه داسي ويل کېدای سي، چي په پورتنيو جملو کښي د لوستل، تلل او هم مثالي صيغې د استمراري ماضي جمع غايبو افعالو انتقالي اشکال دي. يعني دغو مصدر بلل سوو اشکالو په واقعيت کښي له استمراري جمع غايبو افعالو څخه وده کړې او يعني دغو مصدر بلل سوو اشکالو په واقعيت کښي له استمراري جمع غايبو افعالو څخه وده کړې او فعلي اسمي حالت ته ئې انتقال موندلی دئ. په واضح ډول سره استمراري جمع غايب افعال او نور فعلي او فعلي صفتونه اشکال له دغه راز متداول مصدره څخه نه دي راوتلي؛ بلکي په خپله دغه مصدر

ketabton.com - The Digital Library

نومېدلی شکل لا هم له استمراري جمع غایب فعلي شکل څخه منځ ته راغلئ دئ. پس نو د متداول مصدر دغه موجوده شکل د استعمال او تشکل له مخي څخه د جیرنډ gerund موقعیت اختیاروي. جیرنډ هغه فعلي نوم دئ، چي له فعلي حالته څخه او یا په بل عبارت له فعله څخه اسمي حالت ته وده او تکامل کوي. (دویبسټر قاموس).

۳، ۱۴- لنډه دا چي په پښتو کښي د مصدري نخښي په لحاظ مصدرونه اوز ډولونه نه لري؛ بلکي فقط یو دئ.

د پښتو ژبي افعال د لزوم او د تعدي د مورفیم له جهته څخه پر دوو قسمو باندي وېشل کیږي.

د پښتو ژبي مصدرونه ټول یوه نخښه لري، چي هغه (-ل) ده. ډاکټر پنزل په خپل (د کندهار د پښتو گرامر) کښي هم پخوا لا دغه نتیجه اخستې ده.

د متداول مصدر دغه (-ل) نخښه، چي مصدري علامه بلله سوې ده، په واقعیت کښي داسي نه؛ بلکي د فعلي جمع مورفیم دئ.

(-ل) د فعلي جمع مورفیم دئ، نه د اسمي جمع؛ نو کله که ځیني کلمې چي مختومي په (-ل) سره وي او د اسم په توگه استعمال سي، فعل او صفت به ئې هرومرو جمع وي؛ مگر د اسمیت له پلوه څخه ئې د جمع مورفیم صفر دئ.

کله چي په (-ل) سره مختومي کلمې نحوي اسمي حالت ومومي؛ مگر صرفي اسمي حالت ئې نه وي غوره کړی، داسي کلمې مشتق منه نه وي. یعني له دوی څخه اشتقاق نه کیږي؛ بلکي دوی په خپله مشتقي دي. یعني له فعله څخه منځ ته راغلي دي. دغه راز کلمو ته مور څه نوم نه لرو؛ خو د

ketabton.com - The Digital Library

نورو فعلي نومو سره ئې د حاصل مصدر په ډله ور کښې ایستلای سو؛ خو په انګلیسي کښې ئې جیرنډ بولي، چې کلمه هم په خپله لاتیني ده.

څرنګه چې مصدر یو فعلي نوم پېژندل سوی وو او د مصدروالي نخښه ئې (-ل) وه؛ مګر زموږ د دغي څېړني او مطالعې په ترڅ کښې په خورا ښکاره او ثابت ډول سره معلومه سوه، چې (-ل) د مصدریت مورفیم نه دئ؛ بلکي د فعلي جمعوالي مورفیم دئ. پس نو د پښتو مصدري نخښه کومه ده او په خپله مصدر څه راز دئ؟

نحوي او صرفي اصولو له مخي څخه اټکلوو یا ازمویو. د نحوي استعمال موارد به ئې و موږ ته دا راښووي، چې یو فعلي نوم د کومو حالاتو خاوند دئ. یعني فاعلي، مفعولي، اضافي او نور داسي، چې وروسته به ولیدل سي. د دغو حالاتو له مخي څخه یو فعلي نوم په جمله کښې کوم موقعیت اشغالوي او څه وظیفه لري. باید په یاد ئې ولرو، چې د فعلي نومو، فاعلي، مفعولي او نورو حالاتو څخه په نحو syntax کښې زموږ د دغه نامه یوازنی یا محض موقف په کار دئ او د معاني علم semantics یا فلسفي منطقو له مخي څخه ئې د فاعلیت یا مفعولیت په واقعي مفهوم پسي نه ګرځو. مثلاً لمبېدنه سړی تیاروي. په دغه جمله کښې لمبېدنه د موقعیت په لحاظ فاعلي او سړی مفعولي حالت لري او تیارونه ئې فعل دئ. د فلسفي منطقو له مخي څخه واقعاً پېښه داسي نه ده، چې لمبېدنه د تیاروني فعل پر سړي باندي اجراء کوي. پورتني غوندي مثالونه په ژبه کښې واقعیت او رواج لري. یعني وینګ ئې جایز دئ او څوک ئې پر جوړښت باندي اعتراض نه سي کولای. که ئې څوک تر ژبنیو منطقو په هاخوا په فلسفي

ketabton.com - The Digital Library

منطقي شکل پسي ګرځي؛ نو بیا عین مطلب په یو بېل نحوي ترتیب سره داسي افاده کېدلای سي. سړی په لمبېدنه سره تیاریږي. په دغه صورت کښي نو لمبېدنه نور فاعلي حالت نه لري؛ بلکي د آلې حالت ځای نیسي او فعل ئې چي په لومړني مثال کښي متعدي ؤ، په دوهم مثال کښي په لازمي سره اوړي او له ده وروستني څخه په مجهول متعدي سره الیشیږي، یا دغسي مطلب افاده کوي.

۴، ۲- د صرفو له مخي څخه زموږ پنځګون کاندید فعلي نومونه څخه دونه متعدد اشکال نه لري؛ بلکي ډېر محدود دي. دغه هم په جمله کښي خورا لږ د موقعیت تابع دئ او په عمومي ډول سره د سربل preposition او اوستربل postposition متابعت لري. دغه سربل او اوستربل به په مجموعي یا ترکیبي ډول سره (سر او ستربل یا ستر او ستربلونه) بولو. ځکه چي په پښتو کښي بالعموم سربلونه او اوستربلونه سره لازم او ملزوم دي.

د هر حالت له پاره به لومړی د نوموړو پنځګونو فعلي نومو نحوي مثالونه او وروسته به ئې صرفي شکلونه او څېړنه ئې وړاندي کیږي. د دغه کار په تر سره کولو کښي به ځیني نخښي د فهم د سوواني له پاره استعمالوو. (الف او ب) نخښي په ترتیب سره د فعلي نومو د مفرد اصلي او مفرد مغیره اشکالو ښکارندوی دي. دغه شاني (ج) او (د) نخښي به بیا د دوی اصلي جمع او مغیره جمع شکلونه را ښووي. لومړی ستون اعداد د حالاتو پر له پسې شمېر څرګندوي؛ خو د دوهم ستون عددونه پنځه دي، یعني د پنځګونو فعلي نومو ښکارندوی دي، چي عبارت له (-ل) (;) (;) نګ (;) (ښت) او (-نه) څخه دي.

ketabton.com - The Digital Library

۴، ۳- فاعلي حالت: nominative case

۱ـ ۱ الف: لوستل معلومات ډېروي.

۲ـ ۱ د: لوستلو معلومات ډېر کړي دي.

۳ـ ۲ الف: شرمېده سړی له امتیازاتو څخه بې برخي کوي.

۴ـ ۲ د: شرمېدو سړی په ژوندانه کښي له ډېرو شیانو څخه بې برخي کړي دئ.

۵ـ ۳ الف: لوستنگ وخت ښه تېروي.

٦ـ ۳ ب: لوستنگی مي زړه را تنگ کړی دئ.

۷ـ ۳ د: لوستنگو وخت ښه تېر کړی دئ.

۸ـ ۴ الف: اوربښت کښتونه خړوبوي.

۹ـ ۴ ج: اوربښتونه مځکي خړوبوي.

۱۰ـ ۴ د: اوربښتو(نو) مځکي خړوبي کړي دي.

۱۱ـ ۵ الف: لوستنه علم روزي.

۱۲ـ ۵ ب: لوستني علم پاللی دئ.

۱۳ـ ۵ ج: لوستني او علم ته انکشاف ورکوي.

۱۴ـ ۵ د: لوستنو د علم یو شمېر نیمگړتیاوي ور بشپړي کړي دي.

د ټولو فعلي نومو له پاره د فاعلي حالت مورفیم په حال زمانه کښي صفر یا پټ دئ؛ نو ئې ځکه اتکأ پر نحوي موقعیت باندي کیږي، چي تر مفعول دمخه یا د جملې په سر کښي راوړه کیږي. له ماضي افعالو سره دغه فعلي نومونه ټول په جمع کښي او ځیني په مفرد کښي مغیره شکلونه اخلي. څرنگه چي په /-ل/ مختوم فعلي نوم جمع فعلي شکل لري؛ نو ئې مغیره

ketabton.com - The Digital Library

حالت یا ئې فاعلي ماضي شکل هم د جمع مورفیم لري، چي هغه /-وo او../ دئ. دوهم فعلي نوم د لومړي فعلي نامه مخفف شکل دئ، چي د /-ء/ یا /هـ ه/ نخښه لري. دی هم یوازي په ماضي کښي د جمع په مغیره مورفیم سره، چي /-وo-/ دئ اوړوي. دغه /-وo../ د دمخني مغیره جمع مورفیم /وo/ الومورف دئ. هغه فعلي نومونه چي د /-ښت/ وروستړونی لري، مفرد مغیره شکلونه نه اخلي. هر څه چي /-نګ/ او /-نه/ وروستړوني والا فعلي نومونه دي، هغه هم په مفرد او هم په جمع کښي له ماضي افعالو سره مغیره شکلونه اختیاروي. څرنګه چي په /-نه/ مختومه فعلي نومو کښي د مفرد اصلي حالت مورفیم زوره‌کی /-ء/ او د جمعي هغې معروفه /-یi-/ ده، چي اساساً دواړه تانیثي افاده هم لري. دغه د اصلي حالت جمع مورفیم، چي /-یi/ دئ، د اختصاصي پېژندني له پاره ئې په عددي نخښه /ی۱ i۱/ سره نښاني کوو؛ ځکه چي په ماضي کښي د فاعلي حالت مفرد مغیره مورفیم هم معروفه /-ی/ ده. د دې له پاره چي التباس پېښ نه سي او مغشوش نه سو؛ نو دغه وروستنی مورفیم په /-ی۲ i۲/ سره نښاني کوو.

د دوی تر منځ کوم شکلي توپیر نه سته، هر څه چي دئ هغه د مفرد او جمع او هم د حال او ماضي نحوي حالاتو تابع دئ. د پوهېدني د اسانی له پاره د ټولو فعلي نومو اصلي او مغیره نخښي لاندي په مجموعي ډول سره ښوولي کیږي.

ketabton.com - The Digital Library

فعلي نومونه	الف: اصلي	ب: مغیره	ج: اصلي	د: مغیره
مختوم په:	مفرد	مفرد	جمع	جمع
۱- /-ل/	-	-	/پ/	/-و/
۲- /-ء/	-	-	/پ/	/-و/
۳- /-نګ/	/پ/	/-ی/	-	/-و/
۴- /-ښت/	/پ/	-	/-ونه/	/-و/
۵- /-نه/	/پ/	/-ی ۲/	/-ی ۱/	/-و/

وروستنۍ نخښه والا فعلي نوم تر نورو سیالانو ئې د فاعلي حالت مکمله سلسله لري او هم فاعلي حالات لکه څرنګه چي د یوه عادي اسم له پاره لازم وي، هغسي جوړوي.

۴۴- مفعولي حالت Accusative case:

۱- ۱- الف: دی ډېر لوستل کوي.

۲- ۲- الف. دا ډېر زهیرېده کوي.

۳- ۳- الف: دا بل شاني کتنګ کوي.

۴- ۴- الف: پر دغه ودانۍ ډېر لګښت کیږي.

۵- ۴- ج: پر دغي مانۍ ډېر لګښتونه سوي دي.

٦- ۵- الف: دی ډېره لوستنه کوي.

۷- ۵- ج: ته ډېري لوستني کوې.

ketabton.com - The Digital Library

مفعولي حالت په پښتو کښي د هیڅ فعلي نامه له پاره کوم ټاکلی لفظي شکل یا نخښه نه لري. پېژندنه ئې ډېره معنوي semantic معیار او تر ښې اندازې ئې په نحوي موقعیت پوري اړه لري. د وروستني معیار له مخي څخه مفعولي صیغه باید تر فاعل وروسته او تر فعل دمخه راوړه سي. یعني باید د فاعل او متعدي فعل تر منځ وي. که چیري موږ دغه نحوي ترتیب وران کوو، بیا هم مفعولي صیغه په آسانۍ سره نه راڅخه ورکیږي. ځکه یو خو تر څو چي فاعلي حالت موجود وي، دغه تمیز کېدای سي. د تمیز دوهمه لار ئې معنوي ده او حتی په بدیهي توګه پوهېږو، چي مثلاً: احمد لیکنه کړې ده. که مو څه هم کښلي وي چي: لیکنه احمد کړې ده؛ مګر نه داسي چي: لیکني احمد کړي دي.

هغه ډله فعلي نومونه چي مختوم په /-ءل/ او د دغه په تخفیفي زوره‌کي /-ء/ سره وي، مفعولي صورت ئې د جمع غایب فعل شکل لري؛ که ئې څه هم فاعل مفرد وي. یعني مفرد حالت نه لري. د /-نګ/ وروستړونی والا فعلي نومونه یوازي د مفرد مذکر استعمال په ثابت او بې تصریفه شکل لري. هغه فعلي نومونه چي په وروسته کي ئې /-ښت/ راځي، په همدغه شکل د مفرد مذکر او د /-ونه/په وروستړوني سره د جمع مذکر په توګه استعمالیږي. هر څه چي /-نه/ والا فعلي نومونه دي، د مفرد او جمع مفعولي حالتونه د خپلو اصلي شکلو په شاني لري. نتیجه دا چي هیڅ فعلي نوم په مفعولي حالت کي مغیره شکل نه اخلي، مفرد یا جمع.

ketabton.com - The Digital Library

فعلي نومونه مختوم په:	الف: اصلي مفرد	ب: مغیر مفرد	ج: اصلي جمع	د: مغیره جمع
۱ - /-ءل/	-	-	/ې/	-
۲ - /-ء/	-	-	/ې/	-
۳ - /ـ نګ/	/ې/	-	-	-
۴ - /-ښت/	/ې/	-	/-ونه/	-
۵ - /-نه/	/ې/	-	/-ی/	-

یادونه: پرته له پورتنیو فاعلي او مفعولي حالاتو څخه په نورو حالاتو کښې فعلي نومونه آزاد لفظي او نحوي حالات نه لري؛ بلکې د سر او ستربلو تابع وي، چې غبرګه وظیفه اداء کوي.

۴- ۵- مفعول الیه حالت Dative case:

په دغه حالت کښې فعلي نوم مستقیم مفعولي نه وي. دغه پېښه هغه مهال ښه روښانه کیږي، چې فعل ئې لازمي وي. له دغه سببه څخه نو ارتباطي حالت هم ورته ویل کیږي. مغیره شکلونه ئې د (و- ته) د سر او ستربلو معلول وي.

۱- ۱ - د: د نجونو و روزلو ته پاملرنه په کار ده.

۲- ۲ – د: د کوچنیانو غتېدو ته لویان انتظار لري.

۳- ۳ -ب: مور د ټولني پوهېدونګي ته اړتیا لرو.

۴- ۳ – د: د خلکو و پوهېدونګو ته باید شرایط برابر کړل سي.

۵- ۴- الف: د وړو ښورښت ته زاړه امنا کوي.

۶- ۴- د: د وړو ښورښتو ته زاړه ګوته په غاښ نیسي.

ketabton.com - The Digital Library

۷- ۵- ب: پردیسي د سلامو لیږني ته لار سموي.

راځي د مفعول منه شکل د مغیره جمع وي؛ ځکه چي د مفرد اصلي او مغیره شکلونه نری د (-ښت) مختومه فعلي نومونه یوازي مفرد مغیره شکل مومي، نه جمع.

کله چي د /-نگ/ او /-نه/ وروستړونی والا فعلي نومونه د (له- څخه) په منځ کښېوزي، دواړه هم مفرد او هم جمع مغیره شکلونه اختیاروي. د دوی مجرد مثالونه داسي دي:

فعلي نومونه مختوم په:	مفرد شکل		جمع شکل	
	الف: اصلي	ب: مغیره	ج: اصلي	د: مغیره
۱- /-ءل/	-	-	-	/-و/
۲- /-ء/	-	-	-	/-و/
۳- /-نگ/	-	/-ي/ یا /-ء/	-	/-و/
۴- /-ښت/	-	/-ء/	-	-
۵- /-نه/	-	/-ي/	-	/-و/

ketabton.com - The Digital Library

۴، ۷- سببي حالت(له- څخه) Causative case:

۱- ۱- د: د مځکي له څرخېدلو څخه شپه او ورځ پيداکيږي.

۲- ۲- د: پر لمر باندي د مځکي له گرځېدو څخه موسمونه په وجود راځي.

۳- ۳- ج: د لمر له لوېدنگه څخه رونړا ورځ راباندي شپه سي.

۴- ۳- د: له ډېرو خوړنگو څخه ئې پر نس درد دئ.

۵- ۴- ب: تر هر چا د ښايسته وو له زړښته څخه ډېره کرکه کيږي.

٦- ۵- ب: آس ئې له ترهېدني څخه سر واخيستئ.

۷- ۵- د: څوک ئې له ليدنو څخه خوند اخلي، څوک ئې له لرنو څخه.

دغه حالت هم د مفعول منه په توگه د (له-څخه) له سر او ستربلو څخه پيداکيږي؛ مگر توپير ئې په دې کي دئ، چي سببي حالت عموماً د اصلي مفعول لرونکی وي، چي هغه د فعلي نامه د سببي حالت معلول واقع کيږي؛ خو مفعول منه د يوه بل اصلي مفعول وجود نه ايجابوي او که چيري ور واچول هم سي، هغه به د فعلي نامه د فعليت معلول نه وي، سربېره پر دغه باندي د (له- څخه) سر او ستربلونه غبرگه وظيفه اداء کوي. د دوی د وظيفوي توپير علت د جملې د فعل او مفعولي منسوباتو له استعماله سره د فعلي نومو معنوي مطابقت دئ. څرنگه چي سر او ستربلونه او سببي حالت دواړو تر منځ سره مشترک دئ؛ نو ئې د فعلي نومو صرفي اشکال سره ورته دي.

ketabton.com - The Digital Library

۴- ۸- انضمامي حالت(له – سره) Commutative case:

۱- ۱- د: ژوندون له هوسېدلو سره خوند کوي، نه له زوکلېدلو سره.

۲- ۱- د: دا له ویښېدو سره پر هوښ راغله.

۳- ۳- ب: تازي د ښکار له نیونکي سره مینه لري، نه له خوړونکي سره.

۴- ۳- ب: د اور له بلونګه سره خطر ملګری وي.

۵- ۳- د: د پیالې له ماتونګو سره ئې اوبه توی کړې.

٦- ۴- ب: خونه ئې له پوښښه سره بشپړه سوه.

۷- ۵- ب: د کوچنیانو له روزني سره یوه ټولنه مدني او اصلاح کیږي.

۸- د- د: له پوهېدنو سره سم و خلکو ته د مسئولیت احساس ور پیداکیږي.

د دغه حالت سربل Preposition د مفعول منه او سببي حالت له سربلو سره یو شاني دئ؛ مگر اوستربل postposition ئې توپیر ور سره لري. د معنی او حالت تغیر ئې هم د دغه اوستربل او هم د فعل او فعلي منسوباتو له معنوي مطابقته څخه موجودیږي. د نوموړي حالت سر او ستربلونه، چي له (له- سره) څخه عبارت دي، ټوله فعلي نومونه په کښي مغیره شکلونه غوره کوي. لکه په (له- څخه) کښي. له لفظي پلوه څخه د دوی شکلونه او تصریف سره ورته دئ؛ مگر له معنوي پلوه څخه ځله بېل دي.

۴- ۹- آلي حالت(په- سره) Instrumental case:

۱- ۱- د: بیهو په ترټلو سره نه پر لار کیږي.

۲- ۲- د: زړه په ټالېدو سره نه سترې کیږي.

ketabton.com - The Digital Library

۳- ۳- الف: په ښکنځنګ سره و چا ته کوم عضوي ضرر نه رسيږي.

۴- ۳- د: په ښکنځنګو سره د انسان شخصيت او احساسات دردول کيږي.

۵- ۴- ب: د کوچنيانو په لويښت سره ټولنه لوئيږي.

٦- ۵- الف: په ښوونه سره پوهه نه کميږي.

۷- ۵- ب: د جرم په منني سره مجازات هم ډيريږي او هم کميږي.

۸- ۵- د: په ښوونو سره پوهه پخيږي.

په دغه حالت کښي بيا اوستربل د انضمامي حالت له اوستربله سره يو شاني دئ؛ مګر سربل ئې توپير ځني لري. دواړه په ګډه د(په- سره) سر او ستربلونه دي، چي ځيني فعلي نومونه په کښي مغيره شکلونه اخلي او ځيني ئې پر خپل اصلي حالت پاتيږي. د معنی او تصريف توپير ئې د سربل او نورو افعالو او فعلي منسوباتو تابع دئ.

هغه فعلي نومونه چي په /-ءل/ او /-ء/ زوره‌کي سره مختوم وي، د نورو حالاتو په څېر ئې د جمع مغيره شکل غوره کوي؛ مګر /-نګ/ سرتړوني والا فعلي نومونه هم اصلي مفرد او هم مغيره مفرد شکل اخستلای سي. يعني دواړه ئې بې توپيره دي؛ خو ډېر د دغي ډلي په فعلي نومو پوري اړه لري. د جمع صورت ئې يوازي مغيره شکل اختياروي. هغه فعلي نومونه چي په وروسته کي ئې /-ښت/ وي، يوازي اصلي مفرد شکل اخلي. هر څه چي /-نه/ وروستړوني والا فعلي نومونه دي، هغه اصلي مفرد او مغيره مفرد شکلونه بې توپيره غوره کوي، ښېله دې څخه چي معنوي اغېزه دي وښندي؛ مګر د جمع له پاره اصلي شکل نه؛ بلکي يوازي ئې مغيره شکل مني.

ketabton.com - The Digital Library

فعلي نومونه مختوم په:	مفرد		جمع	
	الف: اصلي شکل	ب: مغيره شکل	ج: اصلي شکل	د: مغيره شکل
۱- /-ءل/	-	-	-	/-و/
۲- /-ءل/	-	-	-	/-و/
۳- /-نګ/	پ	یا/-ي/	-	/-و/
۴- /-ښت/	پ	-	-	-
۵- /-نه/	پ	یا /-ی/	-	/-و/

۴- ۱۰- مکاني حالت (په- کښي) Inessive case:

۱- ۱- د: دا په مسېدلو کښي ډېل نزاکت لري.

۲- ۲- د: ته په لمبېدو کښي ستړی سوې.

۳- ۳- د: مینه مو په پټونګو کښي رسوا سوه.

۴- ۴- الف: دی د غم په زغمښت کښي تکړه دئ.

۵- ۵- الف: دا د کالو په اغوستنه کښي د ډېل ذوق خاونده ده.

٦- ۵- ج: دی د شیانو په ساتنو کښي تر تحویلدار لا ټینګ دئ.

د دغه او د آلي حالت سربلونه هم سره ورته دي؛ مګر اوستربلونه ئې توپیر سره لري. کوم معنوي او وظیفوي فرق، چي د دوی تر منځ سته، هغه ئې و اوستربلو ته راجع کېدای سي.

ketabton.com - The Digital Library

د /-ءل/ او /-ء/ والا فعلي نومونه د پخوا په شاني جمع مغیره شکل اخلي؛ خو هغه فعلي نومونه چي په پای کښي ئې /-نګ/ او /-ښت/ راغلی وي، یوازي اصلي مفرد شکلونه اختیاروي. مګر /-نه/ وروستړوني والا فعلي نومونه، چي د (په- کښي) تر منځ راسي، د اصلي مفرد او مغیره جمع شکلونه غوره کوي، چي په لاندي ډول سره ښوول کیږي:

فعلي نومونه مختوم په:	الف: اصلي مفرد	ب: مغیره مفرد	ج: اصلي جمع	د: مغیره جمع
۱- /-ءل/	-	-	-	/-و/
۲- /-ء/	-	-	-	/-و/
۳- /-نګ/	/پ/	-	-	/-/
۴- /-ښت/	/پ/	-	-	-

۲- ۲- د: د ژوند سمون په خوځېدو پوري تړلی دئ.

۳- ۳- د: د دې تګ د ده پر پښوونګو پوري اړه لري.

۴- ۴- الف: انسان خپل په جوړښت پوري حیران دئ.

۵- ۵- الف: ښایست ئې څه خو ډېر ئې په پسولونه پوري زړونه شکیل کړي دي.

٦- ۵- ب: زما د زړه مراندي د ښایست په نمانځني پوري نجتي دي.

۷- ۵- د: ده ستا په بخښنو پوري لاس نیولی دئ.

د دغه حالت او د اتصالي حالت اوستربلونه سره مشترک؛ مګر سربلونه ئې ځله بېل دي. سربېره پر دې چي سر او ستربلونه د فعلي نومو پر صرفي

ketabton.com - The Digital Library

تشکل اغېره ښندي، له افعالو او د هغو له منسوباتو(قیودو) سره ئې هم نحوي رابطه قایموي. یعني فعلي نوم لکه په فاعلي او مفعولي حالاتو کښې؛ مگر په غیر مستقیم ډول سره تر نحوي مطابقت هم لاندي وي. د دوی د ارتباط ساحه کله وسیع او کله محدوده وي. فعلي نومونه چي د الحاقیه حالت په (په- پوري) سر اوستربلو کښې ولوېږي؛ نو له ډېرو لږو افعالو سره ارتباط نیسي. یعني د استعمال ساحه ئې په دغه حالت کوچنۍ کیږي.

د /-ءل/ او /-ء/ وروستړنو والا فعلي نومو هغه مکرر جمع مغیره شکل دئ او په ټولو سر او ستربلیزو حالاتو کښې خپل اصلي شکل هیڅ نه سي ساتلای. د /-نگ/ نخښه والا فعلي نومونه هم په دغه حالت کښې یوازي جمع مغیره شکل لري؛ مگر د /-ښت/ نخښه والا بیا یوازي خپل اصلي مفرد شکل خوندي کوي. هر څه چي /-نه/ وروستړونی والا فعلي نومونه دي، هغه هم اصلي مفرد، مغیره مفرد او هم مغیره جمع شکلونه اخلي. د دوی تجرید سوي اشکال داسي دي:

فعلي نومونه مختوم په:	الف: اصلي مفرد	ب: مغیره مفرد	ج: اصلي جمع	د: مغیره جمع
۱- /-ءل/	-	-	-	/-و/
۲- /-ء/	-	-	-	/-و/
۳- /-نگ/	-	-	-	/-و/
۴- /-ښت/	/پ/	-	-	-
۵- /-نه/	/ـه/	/-ی/	-	/-و/

ketabton.com - The Digital Library

۴- ۱۴: استیلائي حالت(تر- لاندي) Adessive case:

۱- ۱- د: غل تر وهلو لاندي بې هوښه سو.

۲- ۲- د: د نازوکړي کالي تر رغېدو لاندي دي.

۳- ۳- ب: اوړه تر خښنګي لاندي سرکه سول.

۴- ۳- د: اور تر پوکونګو لاندي مړ سو.

۵- ۴- الف: خسیل تر اورښت لاندي چپه سول.

٦- ۴- د: تر ازمیښتو لاندي مه راسې!

۷- ۵- ب: ستا کتاب مي تر لوستني لاندي دئ.

۸- ۵- د: هلک ئې تر ازموینو لاندي نیولی دئ.

د دغه حالت سربل د اتصالي او نسبي حالت په توګه دئ؛ مګر استربل ئې توپیر لري. فعلي نومونه چي د استلائي حالت د سر اوستربلو (تر- لاندي) په منځ ور کښېوزي، په لاندي ډول سره متاثر کیږي. لومړی دوه فعلي نومونه خپل وړاندني مغیره جمع شکل ساتي. ور پسې ئې مغیره مفرد شکل اخلي. تر دغه وروسته فعلي نوم پر خپل اصلي مفرد حالت باندي پاتیږي. اخري/-نه/ نخښه والا فعلي نومونه مفرد مغیره او جمع مغیره شکلونه جوړوي، چي مجرد اړخ ئې داسي دئ:

فعلي نومونه مختوم په:	الف: اصلي مفرد	ب: مغیره مفرد	ج: اصلي جمع	د: مغیره جمع
۱- /-ءل/	-	-	-	/-و/
۲- /-ء/	-	-	-	/-و/
۳- /-نګ/	-	/-ی/	-	/-و/

ketabton.com - The Digital Library

۴- /-ښت/	/پ/	-	-	/-و/
۵- /نه/	-	/-ی/	-	/-و/

۴- ۱۵: استعلائي حالت(پر- باندي) Dominative case:

۱- ۱- د: ده ئې پر خوړلو باندي ځان را ورساوه.

۲- ۲- د: دی ئې پر تمامېدو باندي خوابدی سو.

۳- ۳- ب: دا ئې د محبت پر مننگي باندي پښېمانه ده.

۴- ۳- د: هغه ټولنه به هم وياړي، چي تاريخ ئې پر جنگېدونگو او وژنگو باندي بنا وي.

۵- ۴- الف: په خواره جامعه کښي ډېر عوامل سته، چي د عمر پر کمښت باندي اغېزه کوي.

٦- ۵- الف: ده د ملگرو پر ننگونه باندي ننگ کاوه.

۷- ۵- ب: ځوک د شخصيت پر پالني باندي درانه تاوانونه مني.

۸- ۵- د: د شخصيت جوړښت د کورنۍ پر روزنو باندي ولاړ دئ.

په استلائي حالت کښي د (پر- باندي) سر اوستربلونه د فعلي نومو شکلونه په داسي ډول ټاکي، چي په /-ءل/ او /-ء/ مختومه فعلي نومو خپل جمع مغيره شکل د پخوا په څېر ئې مغيره ساتي. د /-نگ/ وروستړونی والا فعلي نوم مغيره مفرد او مغيره جمع شکلونه اخلي. هغه فعلي نومونه چي په وروسته کښي د /-ښت/ نخښه لري، خپل اصلي مفرد شکل نه بايلي او د /-نه/ وروستړونی والا فعلي نومونه هم د اصلي مفرد او هم د مغيره مفرد

ketabton.com - The Digital Library

شکلونه او هم دغه راز د جمع مغیره شکل اختسلای سي. تجریدي بڼه ئې داسي ده:

فعلي نومونه مختوم په:	الف: اصلي مفرد	ب: مغیره مفرد	ج: اصلي جمع	د: مغیره جمع
۱- /-ءل/	-	-	-	/-و/
۲- /-ء/	-	-	-	/-و/
۳- /-نګ/	-	/-ی/	-	/-و/
۴- /-ښت/	/پ/	-	-	-
۵- /-نه/	/ـه/هم	/-ی/	-	/-و/

۴-۱٦: اضافي حالت(د-) Genetive case:

۱- فعلي نوم د مضاف په توګه(ز-؛-؛ی-و):

۱- ۱- الف: ستا پوښتل ښه مؤدبانه وه.

۲- ۲- د: پوښتلو دي خوند راکی.

۳- ۲- الف: د دې ژړېده د ارمان دي.

۴- ۲- د: ژړېدو دي ارمان راته ودراوه.

۵- ۳- الف: د آغلو لیدنګ راته کیمیا بوټی دئ.

٦- ۳- د: ستا لیدونکو مي سترګي را روښي کړې.

۷- ۴- الف: د غمجني د مړښت پیمانه کوچینۍ او د خوښی دا ئې لویه ده.

ketabton.com - The Digital Library

۸- ۴- ج: تر هر څه ئې سپاربښتونه ډېر دي.

۹- ۴- د: سپاربښتو دي ملګري له شناخته بېزاره کړي دي.

۱۰- ۵- الف: د علم خپرونه د عالم وجداني وظيفه ده.

۱۱- ۵- ج: د بيدو ښکلو ليدني له بله رازه کيفه ډکي وي.

۱۲- ۵- د: د چا ؤ چا ليکنو پر ټولني باندي اغېزې ښندلي دي.

په دغه حالت کښي هم د مقايسوي حالت په شاني يوازي سربل preposition وظيفه ادا کوي او اوستربل له لويه سره څخه هيڅ نه لري. کله چي فعلي نومونه د مضاف په توګه واقع کيږي؛ نو د اضافت عناصر ئې له ضمايرو سره دوه رازه وي. يو ئې اصلي او بل ئې مغيره. اصلي عناصر يا د اضافت مورفيمونه د ضمايرو د سرتړونو په توګه او مغيره عناصر ئې د ضمايرو د وروستړونو په توګه وي. يعني دوی هم يو متناضر structure parallel paradigmic ساختمان لري، چي ښوودنه ئې بې ګټې نه ده.

وروستړوني اضافي مورفيمونه	سرتړونی اضافي مورفيم
/-ي/، /-و/: (مي)، (مو)	/ز-/: (زما)، (زموږ)
/-ي/، /-و/: (دي)، (مو)	/س-/ستا/، (ستاسي)
/-ي/: (ئې)	/د-/: (د ده)، (د دې)، (د دوی)

اصلاً موږ په پورتني ساختمان کي درې اضافي مورفيمونه لرو او نور ئې الومورفونه دي. داسي چي د /ز- س- د/ سرتړوني درې سره د يوه مورفيم الومورفونه دي. د/-ي/ وروستړونی مفرد مغير اضافي مورفيم او د /-و/ وروستړونی جمع مغيره اضافي مورفيم دئ.

ketabton.com - The Digital Library

فعلي نومونه چې د مضاف په توګه واقع سي، صرفي شکلونه ئې له دمخنیو ټولو حالاتو سره توپیر لري. عمده اختلاف ئې دا دئ، چي پنځه سره ډلي فعلي نومونه خپل اصلي مفرد حالت خوندي کوي. سربېره پر دغه باندي لومړۍ او دوهمه ډله فعلي نومونه مغیره جمع شکلونه لري. درېیمه ډله فعلي نومونه بیا سربېره پر خپل اصلي مفرد شکل باندي د مفرد جمع شکل اخلي. څلورمه او پنځمه ډله فعلي نومونه اصلي مفرد او اصلي جمع شکلونه او هم دغه راز مغیره جمع شکلونه اخلي. د دوی د مجردو شکلو مثالونه داسي دي:

فعلي نومونه مختوم په:	الف: اصلي مفرد	ب: مغیره مفرد	ج: اصلي جمع	د: مغیره جمع
۱- /-ءل/	/پ/	-	-	/-و/
۲- /-ء/	/پ/	-	-	/-و/
۳- /-نګ/	/پ/	-	-	/-و/
۴- /-ښت/	/پ/	-	/-ونه/	/-و/
۵- /-نه/	/ـه/	-	/-ي/	/-و/

۲- فعلي نومونه د مضاف الیه په توګه(د-):

۱- ۱- د: د لوستلو سیستم په مطالعه کښي خورا ضروري دئ.

۲- ۲- د: که پر آس باندي د سپرېدو چم د چا نه وي زده؛ نو سپراو بایلي.

۳- ۳- ب: نور د افسانوي نړۍ د مننګي کابو نه دئ پاته.

ketabton.com - The Digital Library

۴- ۳- د: واقعیت د فکر پر شاؤخوا باندي د تږنگو خرافي ځنځیرونه ماتوي.

۵- ۴- الف: د ستاینښت پر ځای برابر استعمال څو گرایه اغېزه ښندي.

۶- ۴- د: د اورښتو له برکته څخه سرکال آباد دئ.

۷- ۵- ب: طبیعت د نمانځني مقام نه غواړي.

۸- ۵- د: یوازي انسان د نمانځو لاري پرانیزي.

فعلي نومونه چي مضاف الیه واقع سي، ټول د مغیره جمع شکلونه د پخوانیو حالاتو په شاني اخستلای سي. سربېره پر دغو باندي/-نگ/ او /-نه/ ډلي فعلي نومونه مغیره مفرد او /-ښت/ ډله فعلي نومونه اصلي مفرد شکلونه غوره کوي.

د دوی مقایسه له هغو اشکالو سره، چي فعلي نومونه ئې مضاف واقع سوي وي، له دغو لاندنیو مجودو مثالو څخه ښه ترا کېدلای سي.

فعلي نومونه مختوم په:	الف: اصلي مفرد	ب: مغیره مفرد	ج: اصلي جمع	د: مغیره جمع
۱- /-ال/	-	-	-	/-و/
۲- /-ء/	-	-	-	/-و/
۳- /-نگ/	-	/-ي/	-	/-و/
۴- /-ښت/	/پ/	-	-	/-و/
۵- /-نه/	-	/-ي/	-	/-و/

ketabton.com - The Digital Library

یادونه: په ټولو سر اوستربلیزو حالاتو کښې د فعلي نومو د مغیره جمع شکلو/-و/ مورفیم دوه صورته لري. یو ئې د مجهول /-وo-/ او بل ئې د معروف /-وu-/ دئ. دغه یو صرف صوتي تغیر دئ، چي د سیلابو تر منځ د خج له اوښتني څخه پیداکیږي. که خج پر وروستني سیلابه یعني د جمع پر مغیره مورفیم باندي ؤ، له دغه څخه یو اوږد مجهول /-وo-/ جوړوي. که خج پر ماقبل‌الاخر سیلابه باندي وي؛ نو د جمع له مغیره مورفیم څخه لنډ معروف /-وu-/ جوړوي. دغه دواړه شکلونه یو د بل الومورفونه دي.

۴- ۱۷: په دمخنیو پنځلسو حالاتو کښې (د مضاف او مضاف الیه په شمول) مو د فعلي نومو اشکال ولیدل. دوی د حالت له مخي څخه دوه اړخونه لري. یو ئې آزاد اړخ دئ، چي فاعلي او مفعولي حالات په کښې شاملیږي؛ که څه هم فعلي نوم په مفعولي حالت کښې کوم داسي شکل نه غوره کوي، چي موږ دي ئې د هغه له مخي څخه مفعولیت وپېژندلای سو؛ مگر په واقعیت کښې ئې دغه د اصلي حالت ساتنه تر ډېري اندازې پوري دی له نورو څخه متمایز کوي. بل دا چي دغه حالت نحوي ترتیب او له معنوي اړخه څخه او هم دا چي فاعلي صیغه د فاعلیت د نخښې لرونکې وي؛ نو مفعولي صیغه د مفعولیت له نخښې څخه مستغني کیږي. دغه معنی دا چي موږ دوه داسي فعلي اسمي حالتونه په پښتو کي لرو، چي هغه تر خارجي لفظي عواملو لاندي نه دي راغلي.

د حالت دوهم اړخ دا دئ، چي تر خارجي لفظي عواملو لاندي و منځ ته راغلي وي. دغه خارجي لفظي عوامل عبارت له سر اوستربلو pre- postposition څخه دي، چي تر فعلي نومو وړاندي او وروسته راځي. که

ketabton.com - The Digital Library

چیري دغه سربلونه preposition او اوستربلونه postposition د سترتړونو prefixes او وروستړونو suffixes په شاني د فعلي نومو د صیغې برخه وګرځي، یعني ټینګ پوري وموښلي؛ نو به دغه حالات هم د لومړنیو حالاتو په څېر وي. ځکه چي سر اوستربلونه ئې نور خارجي لفظي عوامل نه شمېرل کیږي؛ بلکي د سروروستړونو غوندي به د صیغو اجرا جوړوي؛ مګر اوس چي واقعیت دغسي نه دئ، نو موږ لومړني عمده حالات او وروستني (راوستریلز) فرعي حالات بولو. د دوی تر منځ یو بل توپیر داسي دئ، چي pre-postpositional cases په فاعلي حالت کښي اصلي جمع او مغیره جمع شکلونه تناظري ساختمان لري؛ مګر په سر اوستربلیزو حالاتو کښي اصلي جمع شکلونه پرته له مضاف څخه نور هیڅ موجود نه دي. یعني چیله مضاف واقع کېدلو څخه نور ټوله فعلي نومونه یوازي مغیره جمع شکلونه اخلي. له دغه او نورو مقایسوي توپیره څخه، چي د جدولي مثالو په مقایسه کښي لیدل کېدای سي، و موږ ته د دوی حالت د مورفیمو تر منځ د یوه بل توپیر څرک په لاس راتلای سي. هغه دا دئ چي د عمده یا نحوي حالت مورفیم مثلاً د مغیر جمع شکل /-و/ د فرعي یا سر اوستربلیز حالت د مغیره جمع مورفیم /-و/ سره یو شاني نه دئ. یعني دوی دوه که څه هم د نخښي، د فونیټیکي او مورفومي نیموالي له خواوو څخه سره ورته دي؛ مګر بیا هم دواړه نه یو مورفیم دئ او نه د یوه مورفیم الومورفونه دي؛ بلکي دواړه بېل بېل مورفیمونه شمېرل کیږي. نور شکلونه ئې چي د /-ی۱/ او /-ی۲/ او داسو نور په څېر دی هم خپلي آزادۍ ساتي. د مثال په توګه د اضافي حالت د فعلي نومو مورفیمونه، چي مضاف الیه واقع سوي دي، د فاعلي حالت له

ketabton.com - The Digital Library

مورفيمو سره چي فعلي نومونه په کښي مضاف واقع سوي دي، د دمخنيو جدولو له مخي څخه مقايسه کړئ. د دوی د وروستړونو نخښو توپير له نحوي او صرفي مناسبته څخه په لاس راځي، چي د هغو له مخي څخه شکلي مشابهت موجود دئ؛ مګر مورفيمي تشابه نه سره لري. دغه معنی دا چي د عمده يا نحوي حالاتو مورفيمونه مثلاً د اصلي جمع له پاره /-یi-/ د مغيره جمع له پاره /-وo-/ او د مغيره مفرد له پاره /-ی۲i-/ نخښي ټاکو؛ مګر د فرعي يا سر اوستربليزو حالاتو د مغيره مفرد له پاره /-ی۳i-/ او د مغيره جمع له پاره /-و۲o-/ نخښي ايږدو. د دغه د نخښو توپير د مورفيمو بېلوالی افاده کوي. د ذکر سوو فرعي حالاتو د روستړوني به هر يو د هر حالت له پاره بېل مورفيم وای. يعني د مغيره جمع مورفيمونه به د مثال په توګه د /و۱= و۲- و۰۰۰۰/ يوه سلسله وای. دغه پېښه به هغه مهال ممکنه وای، که فعلي نومونه د سر اوستربلو تابع نه ګرځېدای او يا دوی په خپله موجود وای؛ خو دغه سر اوستربلونه ئې نه لرلای. څرنګه چي اوس له فعلي نومو سره سر اوستربلونه راځي؛ نو د /وo-/ مغيره جمع او د نورو مورفيمو پر ځای باندي په خپله دغه سر اوستربلونه د مورفيموالي حيثيت مومي او دوی ئې توابع دي؛ ځکه چي يو خو دغه وروستړوني مورفيمونه بېله سر اوستربلو څخه و منځ ته نه سي راتلای او بل د دوی موجوديت پرته له سر او ستربلو څخه هيڅ راز حالت نه ښووي؛ نو طبعاً مورفيموالی ئې مستقل نه دئ؛ بلکي تابع دئ. مطلب دا چي سر اوستربلونه د نومونو فرعي حالاتو مورفيمونه او د فعلي نومو مورفوفونيميک morphophonemic وروستړوني ئې توابع دي.

ketabton.com - The Digital Library

۴-۱۸: د دغي موضوع چي موږ ئې په پلټنه او څېړنه بوخت یو، اصلي ټکی د فعلي نومو له جملې څخه په مقایسوي توگه د مصدر ټاکنه او را ایستنه ده. د فعلي نومو هغه مصدري اړخ، چي په (۴،۴ او ۴، ۵) کښې وڅېړل سو، عبارت له اسمي خصوصیاتو څخه ؤ. یعني موږ هڅه کوله څو وپوهیږو، چي کم فعلي نومونه نسبت و نورو ته په اسمي خصوصیاتو ښه مجهز دي. له دمخني څېړني څخه دغه موضوع په لنډه او مقایسوي توگه سره لاندي وړاندي کیږي:

فعلي نومونه	/-ءل/	/-ء/	/-نگ/	/-ښت/	/-نه/	جمله خصوصیات
فاعلي حالت	ج-د	ج-د	الف-ب-د	الف-ج-د	الف-ب-ج-د	۱۴
مفعولي حالت	ج	ج	الف	الف-ج	الف-ج	۷
مفعول اليه (و-ته)	د	د	ب-د	الف-د	ب-د	۸
مفعول منه(له-څخه)	د	د	ب-د	ب	ب-د	۷
سببي حالت(له - څخه)	د	د	ب-د	ب	ب-د	۷
انضماني حالت (له- سره)	د	د	ب-د	ب	ب-د	۷

ketabton.com - The Digital Library

الي حالت(په-سره)	د	د	الف یا ب-د	الف	الف یا ب-د	۷
مکاني حالت(په-کښې)	د	د	الف	الف	الف-د	٦
نسبي حالت(تر-)	د	د	الف-د	الف	ب-د	۷
اتصالي حالت (تر-پوري)	د	د	ب-د	ب	ب-د	۷
الحاقیه حالت(په-پوري)	د	د	د	الف	الف-ب-د	۷
استیلائي حالت(تر-لاندي)	د	د	ب-د	الف-د	ب-د	۸
استعلائي حالت (پر-باندي)	د	د	ب-د	الف	الف-ب-د	۸
اضافي حالت(مضاف الیه)	د	د	ب-د	الف-د	ب-د	۸

ketabton.com - The Digital Library

اضافي حالت(مضاف)	الف- د	الف- د	الف- ج- د	الف- ج- د	الف- ج- د	۱۲
ټول خصوصیتونه	۱۷	۱۷	۲۸	۲۳	۳۵	۱۲۰
په سل کښي	۱۴، ۱۷	۱۴، ۱۷	۲۳، ۳۳	۱۹، ۱٦	۲۹، ۱۷	۱۰۰

له پورتنۍ مقایسې او پرتلني څخه، چي د فعلي نومو اسمي خواص په کښي تر مطالعې لاندي وه، لومړی د /-ءل/ او /-ء/ وروستړونو والا فعلي نومو د خواصو مشابهت ځرګندیږي. یعني سره مشترک او وروستني د لومړي مخفف صورت دئ. دوهم د دغو اسمي خصوصیاتو له مخي څخه /-نه/ وروستړوني والا فعلي نومونه تر متداول مصدر، یعني /-ءل/ والا فعلي نومو مجهز دي. د /-نه/ مورفیم والا فعلي نومو اسمي خصوصیات نسبت و /-ءل/ مورفیمو والا ته پوره دوه ګرایه دي. د دریم چپټر له مخي څخه دا عجیبه نه ده، چي د متداول مصدر اسمي خواص تر نورو ټولو فعلي نومو لړ دئ؛ ځکه چي هورې دی مور ته د یوه محض فعل یا محض اسم په توګه ثابت سو.

ketabton.com - The Digital Library

د مصدر پلټنه

۵، ۱: د مصدر پېژندني له پاره په هره ژبه کښي ځيني مميزه لاري او شرايط سته، چي موږ بايد د هغو له مخي څخه په پښتو کښي هم مصدر وپېژنو او تعين ئې کو. د دغو لارو او شرايطو له جملې څخه ئې زموږ د ګرامريانو په لومړۍ تعريفي څېړنه کښي يوې او بلي ته اشاره کړې ده، چي دلې به د څو نورو په زيادوالي سره ذکر سي؛ څو د هغو په مرسته سره وکولای سو پر هغو صيغو باندي، چي د مصدروالي له پاره کانديد دي، قضاوت وکو.

۵، ۲: د فعلي مادې لرنه.

۵، ۳: د ټاکلي مصدري نخښي لرنه.

۵، ۴: د اسمي خصوصيتو لرنه(۵، ۵).

۵، ۶: جامد او مشتق منه به وي(۵، ۷).

۵، ۸: بايد هر مصدر د خپلو مشتقاتو شامل او مشمول وي.

۵، ۹: ټولي فعلي صرفي او اشتقاقي سلسلې بايد هره يوه خپل مصدر ولري.

۵، ۱۰: د هري ژبي مصدر بايد د هغې کورنۍ ژبو له مصدرو سره تر ممکني اندازې پوري مقايسوي او حتی که کېدای سوای، تاريخي رابطه څرګنده کړي.

پورتني واړه مشخاصت په لاندي ډول يو په بل پسي تر څېړني لاندي نيول کيږي او نتيجه ئې په خپل روڼ سره څرګنديږي.

ketabton.com - The Digital Library

۵، ۲: په پښتو کښي چي هر څه فعلي نومونه سته، هغه زموږ ګرامريانو حاصل مصدر بللي دي. تر حاصل مصدر ئې ښه کره نوم په خپله دغه فعلي اسم يا فعلي نوم دئ؛ ځکه چي د متداول ګرامر له مخي څخه هر فعل او هر فعلي صفت هم حاصل مصدر دئ. دا چي د فعل پر حدوث دلالت او د فعلي مادې لرنه د ټولو فعلي نومو يا حاصل مصدرو تر منځ يوه مشترکه مميزه ده؛ ځکه نو موږ مصدر د دغه خصوصيت له مخي څخه تشخيص او ټاکلای نه سو. د پښتو فعلي نومونه د مثال په ډول داسي پنځګون شکلونه لري: لګېدل، لګېده، لګېدنګ، لګښت او لګېدنه.

فعلي ماده د مصدرو هغه برخه ده، چي پرته له تصريفي او اشتقاقي توړونو څخه د توکي يا آزاد مورفيم په توګه پاتېږي. و دغي برخي ته د ژبو پوهني په اوسنۍ اصطلاح، که بسيطه وي ريښه(root) او که مرکبه وي تنه (stem) ويل کيږي. له معنوي پلوه څخه د دغي اساسي برخي او د دې د لوازمو اطلاق د فعل پر حدوث باندي دئ.

۵، ۳: زه نه پوهېږم چي مصدر بايد د نخښو له مخي څخه وپېژندل سي او که ئې نخښي د ده د مصدريت له مخي څخه وټاکل سي. يعني تر څو چي موږ مصدر نه پېژنو، نخښي به ئې څه وپېژنو. په داسي صورت کښي چي د نخښو څرک ئې هم معلوم نه وي؛ نو د يوې صيغې مصدروالی له دغه پلوه څخه طبعاً نيمګړی پاتيږي.

لومړی به په دغه برخه کښي يوازي د کانديد فعلي نومو وروستړوني و ځان ته معلوم کو. دغه د دې له پاره چي يو خو به په راتلونکو څېړنو کښي استفاده ځني کوو او پېژنو به ئې؛ بل به په دې وپوهېږو چي د دغو پنځو

ketabton.com - The Digital Library

فعلي نومو نخښې څه راز مورفیمونه دي او هم به مو په نورو تحلیلاتو کښې د دوی دغه کاندیدي اړخ تر نظر لاندې وي.

لومړنی فعلي نوم یوه خورا اشنا نخښه ده /-ءل/ لري، چې پخوا مو د مصدري نخښې تر نامه لاندې بحث پر کړی دئ. دغه نخښه زموږ د مخنیو څېړنو په نتیجه کښې د جمع غایب مورفیم دئ او هغه هم فعلي، نه اسمي؛ ځکه چې په پښتو کښې د اسماؤ جمع په /-ل/ سره نه تړله کیږي. له دغه فعلي سببه څخه نو د جمع اسمي شکله مورفیم نه لري. مثالونه ئې داسي دي: وهل، بېرول، بېرېدل، کښېکښل او نور داسي. یا په بل عبارت سره دغه وروستړوني /-ءل ǝl-) د غایب جمع مذکر فعل متصل ضمیر دئ.

دوهم فعلي نوم د /-ء./ زوره‌کي نخښه لري، چې په واقعیت کښې د /-ءل/ نخښې یو تخفیفي صورت دئ. نور کړه وړه ئې هم د وروستني نخښې په دود دي، چې په دمخنیو څېړنو کښې په وضاحت سره مشاهده کړه سول. مثالونه ئې عبارت دي له بېرېده، لیده، تله، کښېکښه او نورو داسو څخه.

درېیم فعلي نوم د /-نګ/ نخښه لري، چې د مورفیموالي له مخي څخه د مفرد مذکر افاده کوي. مثالونه ئې بېرونګ، بېرېدنګ، وهنګ او کښېکښنګ غوندي دي.

څلورم فعلي نوم د /-ښت/ وروستړونی لري. دغه هم د مفرد مذکر مورفیم دئ او مثالونه ئې د غونځښت، اورښت، لګښت په شاني دي.

پنځم فعلي نوم د /-نه/ نخښه لري، چې د فعلي نومو د نورو وروستړونو په برخلافه د دوو ښکاره مورفیمو لرونکې ده. یو مورفیم ئې /-ن-/ دئ او بل ئې وروستی زوره‌کی /-ء/ د مفرد مونث مورفیم دئ.

ketabton.com - The Digital Library

دغه وروستړونې نخښه نسبت و نورو ته له مختلفو لحاظو څخه متکامله ده. مثالونه ئې بېرونه، بېرېدنه، وهنه، کښېکښنه او داسي نور دي.

۵، ۴: د فعلي نومو تر منځ اسمي خصوصیتونه یو مشترک صفت دئ؛ مګر توپیر په کښې سته. یعني ځیني ئې نحوي اسمي خصوصیتونه لري او ځیني ئې صرفي یا کلموي (inflectional or morphological) او حتی دواړه. سربېره پر دغه خصوصیت لرني ئې ځیني مشخصات واضح او ځیني ئې مغشوش وي. دغه صرفي او نحوي اسمي خصوصیتونه د فعلي نومو د تقسیم بندۍ او وېشني له پاره دوه مهم معیارونه تشکیلوي، چي څه نا څه په دې ځای کښې او بالخصوص به ئې په څلرمه برخه کښې نسبتاً په تفصیل سره څېړم.

الف: لومړنی فعلي نوم چي موږ د مصدر په نامه پېژندئ، عبارت له هغې صیغې څخه دئ، چي په وروسته کښې ئې /-ءل/ راغلی وي. لکه لګول، اورېدل او داسي نور. که څه هم دغه صیغه له معنوي لحاظه څخه د جمع معنی افاده کوي؛ مګر له لفظي لحاظ څخه نه د افراد او نه د جمع مورفیم لري. دغه علت وو، چي داسي صیغې محضې فعلي نوم gerund وبللی سوی او له مصدریته څخه مو ایستلی.

له نحوي پلوه څخه دغه راز صیغې نسبتاً محدود اسمي استعمال لري؛ مګر فعلي جنبه ئې پر غالبه ده. سربېره پر دغه باندي مو صرفي صیغې د استمراري جمع غایب فعل اداء هم لري، چي د /-ءل/ مورفیم ئې افاده کوي.

ketabton.com - The Digital Library

ب: د فعلي نومو په سلسله کښي دوهمه صيغه د متداول مصدر يو تخفيفي شکل دئ. لکه لګېده، اورېده او نور داسي له لګلول او اورېدل څخه. په دغو صورتو کښي وروستنی /-ل/ لوېدلی او صيغه تر /-ل/ په دمخه زوره‌کي /-ء/ يا /-ه/ سره مختومه پاتي سوې ده. لکه په دې وروستني مثال کښي: لګېدل، لګېده يا اورېدل، اورېده. بايد له ياده مو ونه وزي، چي دغه راز زوره‌کی مختومه فعلي نومونه په عمومي ډول سره د لازمي صيغو محصول وي.

ځرنګه چي دغه فعلي نوم له متداول مصدره څخه و منځ ته راځي؛ نو له صرفي او نحوي لحاظه څخه هم د هغه په شاني يو محض فعل دئ او طبعاً مصدر کېدلای هم نه سي.

ج: په دغه سلسله کښي درېيمه ډله فعلي نومونه د لګېدنګ او لګونګ په شاني دي. د صرفي اسمي خصوصياتو له مخي څخه نسبتاً بشپړ حالات لري، چي څېړنه ئې زموږ د وړاندي ده.

د: په فعلي نومو کښي څلرم شکل د لګښت او پايښت په دود دئ، چي صرفي اسمي خواس ئې عموميت نه لري؛ مګر د نحوي اسمي استعمال لرونکی وي. تر ښې اندازې پوري دغه فعلي نوم د نحوي خواصو له پلوه و (لګېدنګ) غوندي فعلي نامه ته ورته دئ.

و هغو صيغو ته چي د مفرد او جمع تر مميزاتو لاندي ئې د چا منفي نخښنه(+) ايښوودله سوې ده، معنی ئې دا ده چي دغه د مفرد او جمع اسمي مورفيم نه لري؛ بلکي د فعلي جمع مورفيم لري. چيري چي د (پ) نخښنه پرته ده داسي مفهوم لري، چي دغه د افراد يا جمع مورفيم سته؛ مګر په

ketabton.com - The Digital Library

صيغه کښي پټ پروت دئ او خارجي لفظي وجود نه لري. په وړاندنيو ليکنو کښي مو ليدلي دي، چي د (اوربېدل) غوندي د جمع غايب ماضي استمراري فعل شکلونه هم دي. يعني دغه جمعوالی ئې فعلي دئ نه اسمي. دغه راز صيغې موږ له دې سببه څخه، چي اسمي صرفي شکلونه نه لري، محض اسم وبللې؛ مگر هر څه چي وروستنی فعلي نوم(اوربېدنه) دئ، د نورو مفردو مونثو اسماوو او صفاتو په څېر پر قاعده سم د جمع او افراد شکلونه لري. لکه: سپينه، ډېره؛ سپيني، ډېري.

په (اوربېدنه) غوندي فعلي نومو کښي وروستنی زوره‌کی (a-ء/ يوازي د افراد مورفيم نه دئ؛ بلکي سربېره پر دغه باندي د تانيث مورفيم هم دئ، چي د جمع مونث غبرگ مورفيم ئې معروفه /-ی/ ده. د دغه په پرته د (اوربېدل) او (اوربېده) غوندي صيغو جنسي حالت د اسميت له مخي نه ځرگندېږي؛ مگر په فعليت کښي د جمع مذکر افاده لري؛ خو هر څه چي (اوربېدنگ) او (اوربښت) دئ، د اسميت له پلوه څخه پر مفرد مذکر باندي دلالت کوي، چي د دغه خصوصيت مورفيم ئې پټ يا صفر دئ(نور اسمي مشخاصت ئې په ځلرمه برخه کښي وگورئ).

٥، ٦: د لومړۍ برخي په تعريفاتو کښي او هم په متداولو گرامرو کښي دغه په وضاحت سره کښل سوي دي، چي مصدر به جامد او مشتق منه وي. يعني دی به په خپله قائم بالذات او له بلي کلمې څخه به مشتق نه وي؛ بلکي نوري کلمې به لا له ده (مصدره) څخه اشتقاق مومي. د دغي ادعا دواړه اړخونه کوږتې بې اساسه دي. مصدر نه جامد دئ او نه مشتق منه دئ. جامد ځکه نه دئ، چي په خپله پر تړلو ريښو او تنو سربېره له آزادو اسمو

ketabton.com - The Digital Library

او صفتو څخه هم جوړ سوی وي. دغه واقعیت موږ په ژبه کښې خورا په اسانۍ سره پیداکولای سو. د مثال په توګه ئې څو مثالونه لاندي وړاندي کیږي:

الف: ځیني مصدرونه له اسمه څخه مشتق دي، لکه: له غم څخه غمول یا غمونه؛ له بېري څخه بېرول یا بېرونه؛ له ږغ څخه ږغول یا ږغونه؛ له باد څخه بادول یا بادونه.

ب: ځیني مصدرونه بیا له صفته څخه اشتقاق مومي. لکه: له پوه څخه پوهول یا پوهونه او پوهېدل یا پوهېدنه؛ له وچ څخه وچول یا وچونه او وچېدل یا وچېدنه؛ له کوږ څخه کږول یا کږونه او کږېدل یا کږېدنه؛ له سپین څخه سپینول یا سپینونه او سپینېدل یا سپینېدنه.

ج: نور مصدرونه بیا له ریښې یا تنې څخه، چي تړلي یا اړ مورفیمونه دي، جوړیږي. لکه: له /وژ-/ څخه وژل یا وژنه؛ له /پرېوت-/ څخه پرېوتل یا پرېوتنه؛ له /کښېناست-/ څخه کښېناستل یا کښېناستنه؛ له /سوځ-/ څخه سوځول یا سوځونه او سوځېدل یا سوځېدنه.

د پورتنیو مثالو له مخي څخه موږ داسي حکم نه سو کولای، چي مصدر یو جامد فعلي نوم دئ او له بلي کلمې څخه نه دئ جوړ سوی؛ ځکه چي دی په لومړنیو مثالو کښې له اسمه څخه په دوهمو مثالو کښې له صفته څخه او په درېیمو مثالو کښې له ریښو او تنو څخه جوړ دئ. دغه واقعیت د هغه حکم اساس ور ورانوي، چي وایي مصدر جامد او له بلي کلمې څخه جوړ سوی نه دئ. پس د پورتني بیان په نتیجه کښې مصدر په خپله یوه مشتقه

ketabton.com - The Digital Library

کلمه ده، چې له پورتنیو درو مستقلو او مقیدو مادو څخه ئې جوړښت او اشتقاق موندلی دئ.

۵، ۷: د مصدر په باره کښې دوهم حکم دا وو، چې دی به مشتق منه(زېږنده) وي او اشتقاق به له ده څخه صورت مومي. دا چې مصدر د (۵، ٦) په ثبوت او استناد جامد نه دئ، دغه رنگه مشتق منه(زېږنده) هم نه وي. د دې له پاره چې نوري صیغې له مصدره څخه اشتقاق کیږي، هیڅ قرینه او دلیل نه سته؛ نو دغه حکم چې تر مخه ئې یادونه وسوه، کورټ د منني وړ نه دئ او حتی د امکان موجودیت ئې لا هم نه سته. پر ځای د دې چې مصدر دي مشتق منه وبولو، ښه او واضحه بله لا دا وي، چې په خپله ئې مشتق وبولو؛ ځکه په سرېږن بیان کښې دغه څرگنده سوه، چې مصدر له اسم، صفت، ریښې او تنې څخه اشتقاق کیږي.

دغه اشتباه چې مصدري شکل زېږنده او مشتق منه بولي، اصلي علت ئې د عربي مصدر کلمې اقتباس او د هغې له لغوي معنی څخه استفاده ده. په دغه برخه کښې گرامریان د مصدر د کلمې په لغوي معنی پسې تللي دي، نه د مصدري شکل په واقعیت پسې، چې په ژبه کښې دننه پروت دئ؛ ځکه چې د ژبې په دغو مصدر بلل سوو اشکالو کښې بالذات هیڅ یوه داسې نخښه نه سته؛ څو هغه پر دې دلالت وکړي، چې له دوی څخه نوري کلمې راوزي. پس علت څه دئ چې موږ دغه ژبني شکلونه مصدر بولو او مصدر بیا په هغه معنی سره اخلو، چې د وتلو پر ځای، زېږنده او مشتق منه باندې دلالت کوي. که موږ له هري فعلي سلسلې څخه هر فعلي نوم یا بل هر فعلي شکل راواخلو، کولای سو چې د هغه له مخې څخه د نورو فعلي اشکالو

ketabton.com - The Digital Library

تصریف او اشتقاق بیان کو. د مثال په توګه ډاکټر پنزل (../:۱۹۰۰) د پښتو افعالو صیغې د فعل له ماضي مادې څخه نه بیانوي؛ بلکي د فعل د حال له مادې څخه ئې تصریفوي.[۱] په هره توګه یو ټاکلی کلموي شکل پر دې دلالت نه کوي، چي یوازي ئې دغه صورت مشتق منه یا زېږنده دئ او نوري صیغې ئې په وجود راوړي دي. که چیري دغسي یو شکل د کومي فعلي سلسلې له پاره په ژبه کښي نه وو؛ نو به ئې قیاس داسي وي، چي مورینه ئې مړه او سیه لوښي ئې درګنې پاتي وي. لکه د مړل، ګورل او نورو داسو هغې.

لنډه ئې دا چي له مصدر صیغې څخه هیڅ اشتقاق نه کیږي. حتی له ده پرته دوهم کلموي شکل لا هم نه سته، چي له ده څخه دي مشتق وي. پس مصدر یعني څه؟

مصدر په ژبه کښي هغه کلموي شکل دئ، چي د فعلي اداء اسمي ښودني په ناټاکلي ډول سره کوي. نواصحه ئې دا ده، چي مجرد او ناټاکلی فعلي نوم infinitive وبلل سي. یا دی مصدر په دغه صفت سره وپېژندل سي، نه د زېږنده او مشتق منه په صفت سره. دغه مجرد او ناټاکلی کلموي شکل، چي مصدر بلل کیږي له موږ سره دوې عملي مرستي کوي. لومړی ئې خپل اصلي وظیفه، یعني د ټاکلو ژبنیو مفاهیمو افاده ده. دغه وظیفه ئې په ژبه کښي د بلي هري صیغې د وظیفې په تناسب مهمه ده. دوهمه مرسته ئې ثانوي وظیفه ده، چي په وضعي ډول سره ورته ټاکله سوې ده او ګرامریان ئې په خپلو ژبنیو څېړنو او مباحثو کښي د افادې او استفادې د

---

[۱] Herbertpenzl, a grammar of Pashto. Washington, dc. ۱۹۵۵, p. ۱۰۰.

ketabton.com - The Digital Library

اسانتیا له پاره استعمالوي. یعني مصدري صیغه د مختلفو فعلي اشکالو ممثل او ښکارندوی ګرځول کیږي. دغه ځکه چي مصدر د ځینو داسو خصوصیاتو لرونکی دئ، چي هغوی دی د دغي تمثیلي وظیفې وړ ګرځوي. دغه خصوصیتونه تر مخه بیان سوي او هم پسي بیانیږي. د دغي وضعي وظیفې له مخي څخه مصدر داسي تصور کړه سوی دئ، چي بویه زیږنده او مشتق منه به وي.

د متداول ګرامر له بیانه سره سم د مصدري نخښي په الیشیدنه سره له مصدره څخه نوري مربوطي صیغې تصریف او اشتقاق مومي. دغه پیژندنه ئې ډېر ساده او و ذهن ته نژدې ده؛ ځکه چي ډېرو پخوانیو او حتی ابتدائي ګرامریانو له مصدر و موږ ته په دغه صفت را معرفي کړی دئ. له دغي موضوع سره یو بل واقعیت هم اړه لري، چي هغه د پخواني ذهن یوه خاصه، رشه او غریزه ده. هغه داسي چي هر څه باید و ځان ته یوه ټاکلې منبع یا مبدأ ولري. دغه منبع باید بشپړه، متکامله او قائم بالذات وي. بشپړوالی خو به ئې ښایي له دې پلوه څخه وي، چي غیرمتکامل ذهن غیرمتکامل مصداقونه، نه درک کولای او نه ساتلای سي؛ مګر پر متکاملو اشکالو باندي ئې هم د ادراک او هم د حافظې قوه غښتلې ده؛ خو متکامل ذهن دواړه راز مفاهیم درک او خوندي کولای سي. په دغه وروستني صورت کښي نو موږ مصدر هغه ریښه یا تنه، چي د فعل اساسي ماده ده، بولو. په ننني ژبپوهنه کښي د فعل یا بلي هري کلمې اساسي ماده د هغې او مربوطو صیغو مصدر (د کلمې په لغوي معنی) بلل کیږي؛ مګر په تدریسي لحاظ د

ketabton.com - The Digital Library

افادې او استفادې د سووانۍ له پاره هره موزونه او بشپړه کلمه په وضعي ډول سره دغه وظیفه تر سره کولای سي.

نتیجه ئې داسي ده، که مصدر په ابتدائي سویه یعني د ژبې د ښووني او تدریس له پاره کار ځني اخستل کېدئ؛ نو ښه او غوره دا ده، چي په ژبه کښې یو عمومیت لرونکی فعلي نوم په خپله بشپړه بڼه سره د نورو مربوط کلموي اشکالو نماینده او ښکارندوی وګرځول سي. دغه د دې له پاره چي د وروستنۍ نخښې یا تبادلوي مورفیم په الیشېدو سره ئې د نورو صیغو په ګردان کښې سووانې پېښه سي؛ مګر مصدر په لوړه سویه سره یعني د ژبني تحقیق او مطالعې په لار کښې عبارت د صیغې له اساسي مادې څخه دئ. و دغې برخې ته د نورو وروستړونو یا سرتړونو په اضافه‌توب سره صیغې تصریفي او اشتقاقي تشکل پیداکوي. پس د پخواني خصوصیت پر اساس باندې ئې چي مصدر به جامد او مشتق منه وي، څه مثبته نتیجه بنا نه ده؛ بلکي فهم ئې له واقعیته څخه لیري او موږ د ژبې په جوړښت او ساختمان غلط پوهوي؛ ځکه چي دغه خصوصیت ئې وضعي دئ، نه ذاتي. له دغه پلوه څخه نو پر هیڅ فعلي نامه باندې نوموړی خصوصیت د مصدریت صدق نه پیداکوي.

۵، ۸: مصدر باید د خپلو ټولو تصریفي او اشتقاقي اشکالو شامل او مشمول وي. پورتنی حکم دوه بېل اړخونه لري. یو ئې دا دئ چي مصدر او په هغه پوري مربوطي صیغې باید د یوې مشترکي مادې(ریښې یا تنې) لرونکې وي. دغه حکم په ژبه کښې د یوه عمومي واقعیت په توګه صدق مومي؛ مګر جامع نه دئ؛ ځکه چي پښتو او ځیني نوري ژبې یوه سلسله

ketabton.com - The Digital Library

داسي صيغې لري، چي ريښه يا تنه ئې په ماضي کښي يو راز وي؛ خو په حال کښي ئې يوې برخي تغير خوړلی وي يا شاؤخوا. (دغه پېښه موږ له يوه بل واقعيته سره هم مخامخ کوي او هغه دا دئ، چي د پښتو افعالو اصلي يا بسيطي صيغې فقط دوې زمانې ښووي، چي هغه دغه اوسنۍ او تېري زمانې دي. نور زماني حالات هيڅ نه لري؛ مگر په مرکب ډول له مرستيزو افعالو سره.) زموږ د مصدري شموليت تر لاس لاندي موضوع مثالونه داسي دي:

متداول مصدر	ماضي صيغه	حال صيغه		
اغوستل	اغوستئ	اغوندي	مفرد غايب	مذکر
غوښتل	غوښتئ	غواړي	مفرد غايب	مذکر
موندل	موندئ	مومي	مفرد غايب	مذکر

له پورتنيو مثالو څخه دغه له ورايه څرگنديږي، چي عنعنوي مصدري نخښه /-ءل/ په ماضي صيغو کښي له يوه ټاکلي مورفيمه /-ئ/ سره اليشه سوې ده؛ مگر په حال صيغو کښي سربېره پر وروستړوني مورفيم باندي نور تغيرات هم ليدل کيږي، چي مصدر د هغو حاوي نه دئ او يا مصدر د هغو مشمول نه دئ. سره له دې هم د ماضي او حال صيغو تر منځ ځيني مشترک عناصر ليدل کيږي.

ketabton.com - The Digital Library

دوهم اړخ ئې تر لومړني ډېر کره دئ. په دغه باره کښي فقط دونه توقع ساتله کيږي، چي يوه ټاکلې ډله category صيغې، چي مربوط مفاهيم افاده کوي، بايد له مصدره سره خو لږ تر لږه څه لفظي مناسبت او اړيکي ولري. په وړاندنيو مثالو کښي مو وليدل، چي د فعلي مادې د يوې برخي اشتراک بيا هم د ماضي او حال صيغو تر منځ موجود وو؛ مگر په موجوده اړخ کښي دغه لږ اشتراک ئې لا هم له منځه ځي. داسي چي له مصدره څخه د متصرفه صيغو شکلونه په ماضي کښي يو راز او په حال کښي کوږټ بل راز وي. يعني د دغو افعالو د ماضي او حال صيغې هيڅ لفظي رابطه نه ښکاره کوي. لکه:

متداول مصدر	ماضي صيغې	حال صيغې		
تلل	تلئ	ځي	مفرد غايب	مذکر
ليدل	ليدئ	ويني	مفرد غايب	مذکر
کتل	کتئ	گوري	مفرد غايب	مذکر

په لوړو مثالو کښي دغه واقعيت، چي د حال زمانې صيغې له مصدره سره هيڅ لفظي اړه او مناسبت نه لري؛ نو هغه حکم چي مصدر زېږنده او مشتق منه دئ، بيا هم ترديدوي. دغه پېښه له وړاندني انتقاده څخه په دې ډول ژغورل کېدای سي، چي ووايو نوموړی اختلاف او بې ارتباطي د تاريخي جريان او شرايطو مولود ده. که څه هم د ژوندۍ ژبي په تشريحي مطالعه

ketabton.com - The Digital Library

کښي د دغه راز حوالو مراعات نه کیږي؛ مګر بیا هم په واقعیت کښي ژبه د تاریخي سیر مولود او په دغه جریان کښي تحول او تکامل مومي. په هره توګه دغه حکم چي مصدر باید د خپلو مربوطو صیغو شامل او مشمول وي، جامع نه دئ؛ مګر عمومیت لري. دغه پېښه د فعلي نومو په کاندیدوالي کښي څه اغېزه هم نه ښندي؛ ځکه چي تقریباً ټول متشابه شرایط لري.

۵، ۹: مصدري شکل باید په ژبه کښي تعمیم ولري. یعني ټولي فعلي تصریفي او اشتقاقي سلسلې باید هره یوه و ځان ته بېل مصدر ولري. په دغه نیامت موږ د پښتو هغه پنځګون فعلي نومونه، چي د مصدروالي له پاره کاندید دي، لاندي تر کتني لاندي نیسو.

۵، ۹، ۱، ۱: متداول مصدر چي مختوم په /-ءل/ سره دئ، پرته له څو استثنائي صورتو څخه نور په ټولو فعلي سلسلو کښي وجود لري. معنی دا چي پوره عمومیت ئې موندلی دئ او علت ئې هم دا دئ، چي دغه شکل یا وروستړونی مورفیم ئې ذاتاً د جمع مذکر غایب استمراري فعل وظیفه لري. یوه ژبه چي هر رنګه سي، باید د خپلو افعالو د تکمیل ضرورت ئې رفع کړی وي؛ څو د ژبنۍ افادې اساسي وظیفه ئې و سر ته رسولې وي؛ نو د غایب مذکر جمع استمراري فعل موجودیت په ژبه کښي حتمي دئ، که نه د فعل تصریفي ګردان او ژبنۍ افاده به ئې نیمه خوا او ګونګه وي.

۵، ۹، ۱، ۲: که څه هم دغه فعلي نومونه چي د /ء-ل/ وروستړونی مورفیم لري، په هره فعلي سلسله کښي راځي؛ مګر سره له دې ئې هم د (ویاړل) او (مړل) صورتونه نامانوس یا خو په اوسنۍ ژوندۍ ژبه کښي وجود نه لري.(۲۵۹۵ووینئ).

ketabton.com - The Digital Library

۵، ۹، ۱، ۳: ځینو گرامر پوهانو په پښتو کښي داسي صیغې لکه: بوتلل، یووړل، ولاړل او سول هم مصدرونه گڼلي دي، چي واقعیت داسي نه دئ. د دغي اشتباه یوازنی علت د جمع مذکر غایب فعل مورفیم /-ءل/ موجودیت دئ. د دغو صیغو په باره کښي تر مخه (۳، ۳- ۳، ۱۲) او هم وروسته په تفصیل سره رږغېدلی یم. دلې ئې تش دونه یادونه کوم، چي د نوموړو صیغو متناظر شکلونه په ژبه کښي په ترتیب سره: بېول، وړل، تلل او کېدل دي. د دوی تر منځ شکلي توپیر د داسي معنوي توپیر سبب گرځي، چي وروستی استمراري او دمخني شکلونه مطلق یا بشپړ حالت افاده کوي، چي په عمومي ډول سره د/-و/ سرتړونی مورفیم لري. لکه: ولیدل، وبخښل، وسوځل او نوري یا دغه رنگه نوري خج والا صیغې. د پخوا په شاني که چیري بوتلل، یووړل، ولاړل او سول جمع مذکر غایب بشپړي ماضي صیغې مصدرونه سي؛ نو ئې الومورفیک alomorphic /-و/ سرتړونی والا صیغې هم پر خپل سر باندي مصدرونه گرځي؛ مگر د متداول گرامر لیکوالو و دغي موضوع ته څه اشاره نه ده کړې، یعني په مصدروالي سره ئې نه دي منلي. په دغه صورت کښي نو د دوی د موقف په استناد بوتلل، یووړل، ولاړل او سول صیغې کورټ نه سي مصدر کېدلای.

۵، ۹، ۱، ۴: څو نوري صیغې چي داسي استعمال ئې شخصاً و ما ته سره له دې چي له ډېرو لهجو سره مي تماس نیولی دئ، خورا نامانوسي ایسي. مطلب دا چي دغه راز استعمال به ئې په خورا یوه کوچینۍ محدوده لهجه پوري اړه لري. دغه صیغې عبارت دي له: نیسل، باسل، زمویل(زمولل) او

ketabton.com - The Digital Library

موومل څخه، چي واقعي مصدرونه ئې داسي دي: نيول، ايستل، زمولول، زموليدل(زمولنه، زموليدنه) وموندل.

يو بل اساسي اعتراض و دغو نومولو مصدرو ته متوجه کېداى سي. هغه دا دئ چي زموږ گرامرپوهانو خو په خپله د يوه اصل په توگه راته ويل دي، چي مصدر د ماضي فعلي مادې لرونکی وي. که د دوی د قول په استناد سره دغه اصل رشتيا وي؛ نو تر بحث لاندي صيغې مصدر کېدلاى نه سي؛ ځکه چي په نيسل، باسل، زمويل يا مولل او موومل کي د ماضي فعل ماده چيري ده؟ ټولي صيغې ئې د حال زمانې سره اړه لري: نيسي، باسي، زمولي او مومي.

۵، ۹، ۱، ۵: په ژبه کښي داسي کلمې پيداکيږي، چي کړه وړه ئې د مصدر په دود وي او کله کله د اشتباه باعث هم گرځي؛ مگر په واقعيت کښي هغه اسمونه وي. لکه: درمل، گومل، لرمل، کچل، کجل....

۵، ۹، ۲: بل فعلي نوم چي په وروسته کښي ئې /-ء/ راځي، په واقعيت کښي د /-ءل/ وروستړوني يو مخفف شکل دئ؛ مگر عموميت ئې د هغه په اندازه سره نه دئ. لږ لږ له ريښه والا مصدرو لکه تلل، کتل، بازل څخه تله، کاته، بازه جوړيږي؛ خو په عمومي ډول سره له لازمي فعلي نومو څخه منځ ته راځي. لکه له خوږېدل، بهېدل او پوهېدل څخه خوږېده، بهېده او پوهېده؛ مگر له خوږول، بهول او پوهول متعدي صيغو څخه بيا نه جوړيږي. يعني دغه مشکل په ټولو فعلي سلسلو کښي وجود نه لري او تعميم ئې نه دئ موندلئ.

ketabton.com - The Digital Library

۵، ۹، ۳: درېيمه ډله فعلي نومونه چي د /-نګ/ وروستړوني لري او بالعموم د /-ېو-/ متعدي او /-يد-/ لازمي صيغو څخه تشکيل مومي. لکه خوښونګ او خوښېدنګ غوندي. په ريښه ايزو افعالو کښي تام عموميت نه لري. سربېره پر دغه باندي /-نګ/ والا فعلي نومونه په ژبه کښي لهجوي موقف لري او عموميت ئې نه دئ موندلئ او يا ئې نه دئ ساتلئ.

۵، ۹، ۴: هغه فعلي نومونه چي په /-ښت/ سره دي، د فعل له ريښې سره نه له تنې سره فعلي نومونه جوړوي؛ مګر پېښه داسي ده، چي دغه نخښه له يو محدود شمېر ريښو سره تړله کيږي. يعني په هره فعلي سلسله کښي وجود نه لري او عموميت ئې نيمګړی دئ.

۵، ۹، ۵، ۱: د پنځګونو کانديد فعلي نومو له ډلي څخه /-نه/ وروستړوني والا فعلي نوم نسبت و بل هر فعلي نامه ته تام عموميت لري. يعني په هره فعلي تصريفي او اشتقاقي سلسله کي ئې خپل کور ډک کړی دئ. مهمه ئې لا دا ده، چي بله اصلي يا ثانوي وظيفه لا هم نه لري. لکه /-ېل/ نخښه والا فعلي نومو چي لرله.

۵، ۹، ۵، ۲: /-نه/ وروستړوني والا فعلي نومونه په خندل او ژړل سلسلو کلماتو کښي نه جوړيږي. دغه نقيصه دوه علته لري. يو دا چي د خندا او ژړا فعلي نومو ئې ځای نيولئ دئ او د دوی د ضرورت تلافي ئې کړې ده. بل دا چي (خندل) او (ژړل) هغه فعلي سلسلې دي، چي له (خندېدل) او (ژړېدل) څخه ئې نسبتاً نوی انکشاف کړی دئ. د مثال په توګه د ښايېدل او ښکارېدل د ښايېري او ښکاريږي پر ځای باندي موږ نن ښايي او ښکاري هم وايو او حتی تر اصلي شکلو ئې استعمال هم ډېر دئ. دغه رنګه

ketabton.com - The Digital Library

هم د خنديږي او ژړيږي پر ځای باندي نن خاندي او ژاړي رواج لري، چي خندا او ژړا ئې فعلي نومونه دي؛ خو خندنه او ژړنه ئې تر قياس و ها خوا ته څه مانوسيت نه لري.

دغه يوازي داسي نه چي له خندل او ژړل فعلي سلسلو څخه خندنه او ژړنه فعلي نومونه نه جوړيږي؛ بلکي نور فعلي نومونه او فعلي صفتونه ئې هم ناموج او نامانوس دي. لکه: خندنگ او ژړنگ؛ خندښت او ژړښت؛ خنده(خندا) او ژړه(ژړا)؛ خندوني او ژړوني؛ خندونکی او ژړونکی؛ خندلی او ژړلی؛ ځکه چي اصلي شکلونه ئې له خندونه او خندېدنه څخه داسي جوړيږي: خندونگ او خندېدنگ؛ ژړونگ او ژړېدنگ؛ خندېده او ژړېده؛ خندوني او خندېدوني؛ ژړوني او ژړېدوني؛ خندونکي او خندېدونکی؛ ژړوونکی او ژړېدونکی؛ خندولی او خندېدلی؛ ژړولی او ژړېدلی.

په (۲۱۵۵) کښي مو وليدل، چي د وياړل او مړل مصدرونه هم په متداول ډول سره په دغو سلسلو افعالو کښي نامانوس دي؛ خو که د /-نه/ وروستړونی ور واچول سي؛ نو خپل خورا مانوس اشکال په لاس راکوي. لکه: وياړنه او مړنه.

۵، ۹، ۵، ۳: هغه فعلي نومونه چي د /-نه/ وروستړونی لري، په هره فعلي سلسله کي ئې يو واحد شکل موندلای سو. يعني يو دا چي موجوديت ئې عموميت لري او بل کوم سيل او ساری يا په بله اداء سره څه داسي غبرگولي فعلي اسمي شکل نه لري، چي څوک دي ئې په ده سره اشتباء کړي. لکه

ketabton.com - The Digital Library

په /-ءل/ مختومه فعلي نومو کښي چي له دغسي يو راز التباسي اشکالو سره مخامخ وو (۳۱۹۵).

۵، ۹، ۵، ۴: د /-نه/ وروستړوني والا مصدرونه له خپلو مربوطو واړو فعلي نومو او صفاتو بالعموم له ټولو منظمو فعلي اشکالو سره او د نامنظمو فعلي اشکالو له ماضي برخي سره ئې د ريښې يا تنې ماده مشترکه ده.

/-نه/ والا فعلي نومونه کوم داسي شکل نه لري، چي هغه دي د نامنظمو افعالو له حاليه صيغې سره اړه ولري؛ څو د دغي سلسلې افعالو له پاره دوه مصدرونه منځ ته راولي. لکه نيول او نيسل يا ايستل او باسل، چي ترمخه ئې په (۴۱۹۵) کښي يادونه سوې ده. که چيري مونږ په ژبه کښي د غبرګو مصدرو موجوديت ومنو، له ګډوډتيا او مشکلاتو سره مخامخ کيږو؛ ځکه داسي ډېري نامنظمي فعلي سلسلې سته، چي حتی د مترادف مصدر تصور ئې لا هم نه سو کولای. مثلاً د تلل او ځل چي په حال زمانه د ځم، ځي غوندي اشکال لري. يا د وړل او ايوسل هغې، چي د يوسه او يوسي په څېر صورتونه و منځ ته راولي. دغسي ډېر نور مثالونه سته، چي و ژبپوهانو ته د څېړني په زړه پورې موضوع جوړوي.

۵، ۹، ۵، ۵: لکه په (۵۱۹۵) کي چي د /-ءل/ وروستړوني والا فعلي نومو غوندي مطلق اسمونه په ژبه کښي پيداسول، دغه رنګه د /-نه/ وروستړوني والا فعلي نومو په شان هم مطلق اسمونه او صفتونه په ژبه کښي موندل کيږي. لکه: پوهنه، وښنه او ځيني نور داسي. دري ژبه هم داسي اسمونه لري، چي د هغې د مصدر غوندي ايسي. لکه: ګردن، بدن، ګرګدن، ختن، خفتن او خويشتن؛ مګر په واقعيت کښي مطلق اسمونه دي.

ketabton.com - The Digital Library

له پورتنيو څېړنو او خصوصاً د (۵، ۹) د (۱۱، ۵۵) له مطالعې څخه دا په وضاحت سره څرګنديږي، چي په پښتو کي مصدرونه د سوځل، سوځول او سوځېدل په شاني نه؛ بلکي د سوځنه، سوځونه او سوځېدنه غوندي دي، چي مصدري نخښه ئې د /-نه/ وروستړونی مورفيم دئ. اوس چي نسبتاً پس له يوې اوږدې څېړني څخه د /-ءل/ پر ځای باندي /-نه/ د مصدري نخښي په توګه په لاس راکښېوته؛ نو ئې په دې پسې بيان کښي د ګاونډو ژبو له مصدري نخښو سره مقايسه کوو.

۵، ۱۰: پښتو يوازي د خپلي آرياني کورنۍ ژبو څخه ډېري ګاونډۍ ژبي لري، چي اکثره ئې خورا نژدې د خورګلوۍ او خورلني رابطې ورسره ساتي. لکه منجي، سنګليچي، اشکاشمي، واخي، شغني، اورمړي، پراچي او بلوڅي ژبي؛ مګر په يوه اوږده اسويلي سره ئې بايد مننه وکم، چي تر يوې ژوري مطالعې دمخه د دغو ژبو پر هر فعلي اسمي شکل باندي د مصدر نوم ايښودنه به يوه علمي ګناه وي. زه اوس د يوې داسي ژبي د مصدري شکل په پېژندنه پسې يم، چي هغه د پېړيو پېړيو ادبي تاريخ لري؛ نو چيري هغه ژبي چي تر اوسه پوري لا د قلمه غاښې نه دئ په جګ سوی؛ ځکه نو د دوی د مصدري اشکالو له مقايسې څخه بخښنه غواړم او دغه هيله مي يوازي په هغو ژبو کښي لکه دري او هندي، چي د ادبياتو او ګرامر اوږده سابقه لري، تر سره کوم.

د دري ژبي مصدري نخښي د پخواني صرف و نحو پر اساس د عربي د ضربا(ضربن) په تقليد له (-تن) او (-دن) څخه دي. د توضيح له پاره ئې داسي تبصره پر کيږي، چي که مصدري علامه له مصدره څخه ايسته سي؛

ketabton.com - The Digital Library

نو د (ضرب) په شاني ئې د مفرد غایب مطلق ماضي شکل پاتېږي. لکه (گفت) او (کرد) له گفتن او کردن څخه. د اوسنۍ ژبپوهني پر اساس که پورتني ښکارندوی مثالونه وکتل سي، په تصریف کښي ئې له دواړو څخه یوازې د /-ءن/ برخه ایسته سوې ده؛ خو (ت) او (د) دواړه له فعلي مادو سره د اصلي اجزاوو په شاني پاتي سوي دي؛ نو که د یوه مورفیم ذاتي عناصر پرې کړل سي او له بله مورفیمه سره خوشي وتړل سي، د دواړو مورفیمو له پاره به ئې نتیجه بې معنی توب وي. کله چي د دري ژبي له مصدرو څخه تصریف او اشتقاق صورت نیسي؛ نو (ت) او د (د) د فعلي مادې د اساسي اجزاوو په شاني په ټولو صورتو کښي خپله حال زماني څخه لکه په پښتو کي ثابت پاته کېږي. یعني (-تن) او (-دن) ئې تصریف نه مومي؛ بلکي هغه یوازې د مصدر /-ءن/ جزء وروستړونی دئ، چي صرفي یا تبادلوي وظیفه تر سره کوي.

په هندي ژبه کښي مصدري نخښه عبارت له /-نا/ څخه ده. دغه نخښه د پښتو د مصدري نخښي په شاني یوه واحده هجا یا سیلابه ده؛ مگر د دري ژبي مصدري نخښه /-ءن/ د فعلي مادې له وروستني فونیم او د هغه له الوفون سره یو ځای یو واحده سیلابه جوړوي. د عربي گرامر پر تقلید سربېره دغه اشتراکي یو سیلابه والی ښایي بل مگر عمده علت وو، چي (-تن) او (-دن) د هغه له مخي څخه مصدري علامې بلل سوي دي؛ مگر د سیلابي یووالی دا معنی نه ورکوي، چي خود به نو هغه سیلابه یو مورفیم یا یوه نخښه هم وي؛ ځکه چي مورفیموالی او سیلابه والی څه ذاتي اړه نه سره لري. کېدای سي چي یو مورفیم دي او یا څو سیلابي وي. لکه خروړک(یو

ketabton.com - The Digital Library

راز نبات دئ) یا دي یوه سیلابه اوز مورفیمه وي. لکه تلم، چي د تګ مورفیم، د ماضي مورفیم او د متکلم ضمیر درې سره په کښي یو ځای سوي دي. که څه هم د پښتو او هندي ژبو مصدري مورفیمونه له فعلي مادې څخه بېلي بېلي سیلابي دي او دغه خصوصیت ئې سره مشترک دئ؛ مګر بیا هم توپیري په کښي لیدل کیږي. د هندي ژبي په فعلي مادې پسي ږوغ یا فونیم د دغي فعلي مادې اصلي جزء دئ، چي کله ساکن کانسوننټ او کله اوږد واول وي. ولي په پښتو کښي دغه یو لنډ واول وي، چي نه د فعلي مادې جزء دئ او نه د مصدري مورفیم؛ بلکي د دوی دواړو تر منځ اتصالي وظیفه لري. لکه د عطف conjunction توری په جمله کښي. د پښتو دغه اتصالي خصوصیت د دري ژبي له هغې سره اشتراک لري؛ مګر توپیر ئې دا دئ، چي په پښتو کي د فعلي مادې او مصدري مورفیم د سیلابو د بېلوالي فاصل ګرځي؛ مګر په دري کښي ئې د یووالي عامل ګرځي. دغه اتصالي فونیم یا که له نحوي عطفي شکله څخه استفاده وکو؛ نو به وویلای سو، چي تشکلي مورفیم structure formative په پښتو کي عبارت له زورکي او په دري کښي عبارت له زور څخه دئ. په دې لحاظ نو د پښتو او دري ژبو مصدري شکلونه داسي نه دي لکه /-ءنه/ او /-ءن/؛ بلکي د /-نه/ او /-ن/ په څېر دي.

/-n/ /-na/ /-an/ /-ana/

د پښتو مصدري نخښه لکه ترمخه چي ئې یادونه سوې ده، یو مورفیم نه؛ بلکي دوه مورفیمه ده. یو ئې مصدري مورفیم چي عبارت له /-ن-/ څخه دئ او بل ئې د مفرد مونث وروستړوني مورفیم د /-ء/ یا /-a/ /-ه/ زوره‌کی دئ.

ketabton.com - The Digital Library

اوس چي ئې د مصدر نخښي را معلومي سوې؛ نو له درو سترو ژبو څخه یو څو مصدري مثالونه د مقایسې په توگه وړاندي کوم؛ څو ئې لوستونکو ته مناسبت ور څرگند سي:

پښتو	غوښتنه	لیدنه	وړنه	خندېدنه	سوځونه	سوځېدنه	سوځنه
دري	خواستن	دیدن	بردن	خندیدن	سوزاندن	سوزانیدن	سوختن
پښتو	پالنه	تلنه	څیرنه	بلېدنه	بلونه	مسېدنه	بلنه
هندي	پالنا	تولنا	چیرنا	بلنا	بالنا	مسکانا	بلانا

دري	پښتو	هندي
پخته شدن	پخېدنه	پکنا
پختن	پخونه	پکانا
کردن	کړنه	کرنا
پرسیدن	پوښتنه	پوچهنا
چلیدن	چلېدنه	چلنا
چلاندن	چلونه	چلانا
بسته شدن	بندېدنه	بندهنا
بستن	بندونه	بندهوانا
چشیدن	څکنه	چکهنا

ketabton.com - The Digital Library

لنډیز او نتیجه

پر ځای د دې چې و یوې ټاکلي نتیجې ته دي رسېدلي یو، ضمناً ځیني نوري منفي او مثبتي نتیجې هم په لاس راغلي دي. دغه مختلفي نتیجې له سر څخه تر پایه پوري ستاسو تر نظر تېري سوي دي؛ مګر د دوی ضمنیت به د یوه لنډیز صراحت په شاني لاندي بیان سي.

۶(۱۱- ۱۷): مصدر په ژبه کښي د کلمې یو واحد شکل دئ. کلمه چي ئې موږ و چا ته ور پېژنو، هم باید دغه یوازنی شکل ور وښوو؛ مګر د (۱، ۱، ۱، ۷) له تعریفاتو څخه دا را څرګنده سوه، چي مصدر یوه واحدشکله صیغه نه؛ بلکي مخمس شکله ده. یعني له پنځو زاویو څخه ورته کتل سوي او د هغو له مخي څخه بېل بېل تعریف سوي دي. دغه پنځګون اړخونه ئې داسي وه: (۱، ۲) د مصدر کلمې د لغوي معنی له پلوه، (۱، ۳) له اصطلاحي پلوه څخه، (۱، ۴) د مصدر کلمې د لفظي شکل له پلوه څخه، (۱، ۵) د مصدر له اصطلاحي او لفظي دواړو پلوو څخه په ګډه او (۱، ۶) د مصدر کلمې د لغوي معنی او اصطلاحي فهم له مخي څخه په ګډه تعریفونه وه. له دغو پنځګونو زاویو څخه د مصدر لیدنه او په نتیجه کښي د ګرامریانو اختلاف موندنه زموږ په ګټه دي. ځکه چي د دوی مختلف نظرونه د یووالي په نیامت سره یو ځای کونه، د غل و غشي یا خلي او خاشې ځني ایستنه ئې موږ ته د مصدر هغه ګډتوب اصلي شکل په لاس راکوي: مصدر هغه ټاکلی نخښي لرونکی فعلي نوم دئ، چي په ژبه کښي د استعمال ټاکي اسمي خواوي او فعلي اداء ولري.

ketabton.com - The Digital Library

۶(۱، ۸): په غربي ادبیاتو کښي چي د تقلید منبع ئې یوناني او لاتیني ادبیات وه(لکه زموږ هغې چي عربي وه)، د مصدر له پاره یو بېل نظر لري. هغه دا دئ چي دوی مصدر د یوه ناټاکلي فعلي نامه په شاني پېژني؛ مګر سره له دې کله چي و یوه خاص فعلي شکل ته د تعیین اشاره کوي؛ نو وایي چي له اینیفینتیو څخه دئ.

۶(۱۲، ۵۲): د مصدر یوازنی نخښه هم په متداول ګرامر کښي پر پنځه ډوله وه. دغه پنځګوني نخښي عبارت وې له: /-ءل/، /-یدل/، /-ول/، (کېدل) او (کول) څخه. د (۲، ۲) په څېړنه کښي موږ په دې وپوهېدو، چي په لومړنیو درو نخښو کي یوازي /-ل/ متداوله مصدري نخښه ده، چي تصریف مومي او هر څه چي /-و-/ او /-ید-/ نخښي دي، دواړي بېل بېل د تعدي او لزوم مورفیمونه دي. یعني دوی د مصدري مورفیمو اجزا نه دي؛ بلکي و خپل ځان ته هر یو بېله وظیفه او معنی لري. په (۲، ۵) کښي موږ و دې نتیجې ته ورسېدو، چي پښتو د (کول) او (کېدل) غوندي مصدري نخښي نه لري. دغه دواړي صیغې په خپله مستقل مصدرونه دي، چي فعلي ماده، تنه ایز یا د لزوم او تعدي مورفیمونه او هم هغه یوازنی مصدري نخښه لري؛ خو څرنګه چي د مرستیزو افعالو یوه نوعه ده؛ ځکه نو له نورو صفاتو او اسماوو سره ترکیبونه جوړوي. د ترکیبو جوړونه ئې په هیڅ ګون او دوی ته د مصدري نخښي حیثیت نه ورکوي. که پېښه چیري داسي وي، چي د ترکیبي شکل مثلاً (پرېکول) سرتړونی اصلي برخه او (کول) ئې مصدري نخښه وبلل سي؛ نو به په قیاسي ډول سره د (پرېوتل) او (پرېښوول) په صیغو کښي هم (ولل او ښوول) مصدري نخښي وي؛ مګر زموږ ګرامر پوهانو هیڅ

ketabton.com - The Digital Library

اشاره لا هم نه ده ورته کړې. دا چي ولي ئې نو (کول) او (کېدل) مصدري نخښي بللي دي، علت ئې د ترکيبي خصوصيت لرنه ده. دغه خصوصيت په(ولل) او (ايښوول) مصدرو کښي عموميت نه لري؛ ځکه چي دوی د مرستيزو افعالو له ډلي څخه نه دي؛ مگر (کول) او (کېدل) مصدرونه بيا دغه اړخ لري، چي نور مرستيز فعلونه په اصطلاحي معنی سره ځني تصريفيږي. په دغه برخه کښي و موږ ته له پنځو مصدري نخښو څخه يوه په مثبت ډول را پاته سوه او د نورو نتيجه منفي ده.

٦(۱۳، ۱۴۳): په دغه برخه کښي و موږ ته په عمومي ډول سره دغه لاندي نتيجې په لاس راغلې. که چيري څوک مصدر په وروستړوني نخښه سره پېژني؛ نو به له يو راز مغشوش حالته سره مخامخ وي او همېشه به په دوو زړونو کي وي، چي د مثال په توگه وتل او وليدل کلمې مصدرونه دي که نه دي. ولي چي دی به دغه صيغې د ژبي په يوه داسي ځای کښي ووينې، چي د ده به گمان نه پر راځي. لکه: زه وتم، زلمی وتئ، دوی وتل. په دغو جملو کښي /وت-/ فعلي ماده ده او /-م/ مفرد متکلم ضمير /-ئ/ مفرد غايب مذکر ضمير او /-ل/ هم د نورو وروستړونو مورفيمو په توگه د خپل مبتداء ښکارندوی، يعني د جمع غايب مذکر ضمير دئ. اوس موږ په دوو زړو کي سوو، چي /-ل/ وروستړونې نخښه کله مصدري مورفيم وي او کله بيا د جمع غايب مذکر ضمير وي په استمراري حالت کښي.

اوس که نو د (وليدل) صيغې تصريفي اشکال دمخني مثال په توگه وگورو(زه وليدم، زلمی وليدئ، دوی وليدل)؛ نو به وپوهېږو، چي /-م-ئ-ل/ هغه د دمخني مثال مورفيمونه دي؛ مگر معنی ئې ولي اوښتې ده. کله

ketabton.com - The Digital Library

چي په ژبه کښې پسي وگورو، و موږ ته به د (ولیدل) سره سم یو بل شکل د (لیدل) هم په لاس راسي، چي مثالونه ئې داسي دي: زه لیدم، زلمی لیدئی، دوی لیدل. دغه معنی دا چي لیدل او ولیدل غبرگ مصدرونه دي او دواړه تصریفي اشکال لري؛ مگر یو د مطلق حالت او بل د استمراري حالت هغې؛ خو دغه د غبرگو مصدرو پېښه په عمومي ډول سره زموږ گرامرپوهانو نه ده منلې؛ خو ځیني ئې سهواً مصدرونه بللي دي. لکه: بوتلل، یووړل او یو څو نور داسي. مطلب دا چي (لیدل) استمراري جمع غایب مذکر فعل دئ او (ولیدل) ئې متناظر مطلق جمع غایب مذکر فعل کیږي. په دغه صورت کښې نو نه لیدل او نه ولیدل مصدري شکلونه دي.

د مطلق حالت سرتړونی /و-/ ځیني نور الومورفونه هم لري، چي هغه د خج په تغیر سره له وروستني سیلابي څخه و لومړني ته له استمراره څخه فعل و مطلق حالت ته تبدیلوي. دوهم الومورف ئې د کړنه تصریفي اشکال دي، چي په مرکب ډول سره د مطلق حالت جوړونه کوي. دریيم ډول الومورفونه ئې د استمرار صیغې متناظري جوړې له بلي فعلي مادې څخه ورته راځي. لکه: تلل، ولاړل، بېول، بوتلل او نور.

په (۳، ۱۳) کي موږ و یوې داسي نتیجې ته ورسېدو، که په نحوي صورتو کي چیري /-ل/ وروسترړوني والا صیغو د بشپړ حالت /و-/ سرتړونی یا ئې الومورفونه نه اخستل؛ نو معنی دا چي نوموړې صیغه استمراري جمع غایب مذکر فعل نه دئ؛ بلکي په خپله مصدر دئ. مثلاً پاسته ویل اغېزناک دي. په دغه جمله کښې (ویل) د (وویل) په مقابل کښې نه سي راتلای؛ ځکه نو دغه ئې مصدري شکل دئ؛ مگر پوښتنه پیداسوه، چي صفت او

ketabton.com - The Digital Library

فعل ئې ولي جمع دئ. يعني د پښتو مصدر په خپل ذات کښي جمع دئ که مفرد؟ که مفرد وي، جمع شکل ئې څه راز دئ او که جمع وي، مفرد ئې په څه شاني جوړيږي. حال دا چي د لومړي چپټر د تعريفاتو له مخي څخه مصدر فعلي اسم دئ او د اسميت مشخصات بايد ولري؛ مګر زموږ مصدري شکلونه د اسميت له مخي څخه د مفرد صورت لري؛ خو د جمع معنی او استعمال يا په واقعيت کښي دواړه خصوصيتونه فعلي دي، نه اسمي. ځکه نو مصدرونه د استمراري جمع غايبو افعالو انتقالي اشکال وبلل سول؛ نو دوی هغه اشکال دي، چي له فعله څخه ئې وده کړې ده. يعني نه جامد دي او نه مشتق منه؛ بلکي جيرنډ gerund يا تقريباً صرف فعلي نومونه دي، چي له فعله څخه ئې تکامل کړی دئ نه مصدر.

٦(۱۴، ۱۸۴): دا چي متداول مصدر يو صرف فعلي اسم دئ، زموږ حکم مطلق نه بلکي نسبي دئ. د دغه واقعيت د موندني له پاره موږ د پښتو نور فعلي نومونه له مصدره سره د مقايسې له پاره په پنځلسو حالاتو کښي مقايسه کړل. يوازي په فاعلي او مضاف حالاتو کښي زموږ متداول مصدر اصلي او مغيره جمع حالتونه اخلي. په نورو ديارلسو حالاتو کښي يوازي د مغيره جمع شکل پيداکوي. په مقابل کښي ئې /-نه/ وروستړوني والا فعل نوم د مقايسې له مخي څخه په فاعلي حالت کي څلور ځايونه نيسي او په الحاقيه حالت، استعلائي حالت او مضاف حالت هر يوه کښي درې درې صورته اختياروي. نورو پاتو حالاتو کښي غبرګ صورتونه نيسي. دا /-نه/ وروستړونی والا فعلي نوم نسبت و /-ل/ وروستړوني والا فعل نامه ته دوه ګرايه ډېر اسمي خصوصيتونه لري. نتيجه دا چي په لومړني کښي د فعليت خاصه غښتلې ده، چي صرف فعلي نوم ځني جوړوي

ketabton.com - The Digital Library

او په اوستري کښې د اسميت خاصه بارزه ده؛ څو دی د ثانوي يا وضعي وظيفې، چې هغه مصدريت دئ، ور گرځوي.

٦(۱۵، ۱۰۵): د لومړني مبحث له تعريفاتو څخه موږ يو شمېر مصدري مشخصات وموندل، چې د دوی اجماع د مصدر اکمال څرگندوي. هر څونه چې دغه مشخاصت بشپړه او پوره برخه ولري، هغوني د مصدر په پېژندنه کې سوواني پېښيږي؛ ځکه مو ئې هغه عمده خصوصيتونه د پښتو د فعلي نومو په برخه کښې تر کتنې لاندې ونيول. ځيني خصوصيتونه د ټولو فعلي نومو تر منځ يو شاني او مشترک دي؛ مگر نور ئې له يوه څخه و بل ته لږ و ډېر توپير پيداکوي. مثلاً لکه تر مخه چې مو ئې يادونه وکړه، اسمي خصوصيتونه په /-ل/وروستړوني والا صيغو کښې نسبت و /-نه/ وروستړوني والا صيغو ته بې سېکه او کاواکه دي. يعني لومړني د مفرد او جمع شکلونه يا نخښې نه لري؛ خو اوستری په دواړو مجهز دئ. په (٦،۵) کې و موږ ته دا ثابته سوه، چې مصدر هره صيغه چې وي نه جامد دئ او نه مشتق منه دئ. جامد ځکه نه دئ چې په خپله له اسم او صفته څخه جوړ سوی وي. مشتق منه هم نه دئ؛ ځکه چې داسي کم دليل ئې د ښودني او ثبوت له پاره نه سته. په ننني ژبپوهنه کې مشتق منه د يوې صيغې ريښوي برخه پېژندله سوې ده؛ خو په تدريسي چارو کښې د فعلي نامه يو بشپړ شکل، چې د افهام او تفهيم په خواوو کښې سوواني پېښوي، د مصدر تر نامه لاندې په وضعي ډول ټاکل کيږي. په (۵، ۱۰) کې و موږ ته دا را معلومه سوه، چې يوازې /-نه/ وروستړوني والا فعلي نوم په مقايسوي ډول د نورو گاونډو ژبو له مصدري اشکالو سره مشابهت او حتی يو موقعيت لري؛ ځکه نو دغه نخښې لرونکي فعلي نومونه په پښتو کې هم مصدرونه دي.

ketabton.com - The Digital Library

کتلي کتابونه

۱. ابو عبدالله و محمد السورتي: قواعد عبري. هند ۱۳۴۲.

۲. اصفهانی، ضیاء الدین: ضیاء الصرف. تهران ۱۳۴۳.

۳. آموزگار، حبیب الله: صرف نحو آموزگار تهران ۱۳۵۲.

٤. ایازي، محمد اعظم: د پښتو قواعد. کابل ۱۳۲۴.

۵. بیتاب، صوفي عبدالحق (مترجم): دروس نحوی کابل. ۱۳۰۵.

٦. پښتو مرکه: د پښتو پښویه(صرف و نحو افغانی) کابل ۱۳۰۲.

۷. دین محمد: دستور پهلوی(قواعد دستور زبان پهلوی و مقایسه آن با قواعد صرف و نحوی فارسی) پنجاب، حال بازار.

۸. ډارمستېټر: د پښتو څېړني(مترجمین: رښتیا، حبیبي او بېنوا) کابل ۱۳۲٦.

۹. رشتین، صدیق الله: پښتو گرامر. کابل ۱۳۲۷.

۱۰. رشتین، صدیق الله: د پښتو اشتقاقونه. کابل ۱۳۲۷.

۱۱. رشتین، صدیق الله: ژب ښودنه. کابل ۱۳۴۱.

۱۲. رشتین، صدیق الله: د پښتو مصدرونو لارښود. کابل ۱۳۴۴.

۱۳. قاري عبدالله: قواعد فارسی. کابل ۱۳۰۵.

١٤. مفضور، مولینا علاوالدین احمد: شرح فصول اکبری نولکشور ۱۸۸۴ع.

١٥. مومند، محمد گل خان: د پښتو ژبي لیاره. لاهور ۱۳۱۷.

١٦. وزارت فرهنگ: صرف و نحو قرائت عربی. تهران ۱۳۱۹.

ketabton.com - The Digital Library

۱۷. همایون فرخ، عبدالرحیم: دستور جامع زبان فارسی. تهران، علمی ۱۳۳۸.

۱۸. .... اردو گریمر.

۱۹. .... اردو صرف و نحو.

۲۰. عبدالرحمن الانباری النحوی الانصاف فی مسایل الخلاف(بین النحوین البصرین و الکوفین) قاهره: طبع ثالث ۱۳۷۵ق و ۱۹۵۵ع.

۲۱. Baloch, Bernard and trager, geerge. Outline of linguistic analysis, baltimere, md. The waverly press, inc ۱۹٤۲.

۲۲. Bloomfield, leonard ۱۹۳۳, language, newyork: holt, rine-hart and Winston ۱۹٦۱.

۲۳. Gleason, H.A.jr. ۱۹۵۵, An Introduction to Descriptive Linguistics, New York: Holt, Rinchart and Winston, ۱۹٦۱.

۲٤. Hocket, Charles F. ۱۹۵۸, A Course in Modern Linguistics, New York: The Macmillan Company, ۱۹۵۹.

۲۵. Hall, Robert A.Jr. ۱۹۵۰, Linguistics and Your Language, New York: Doubleday& Company, Inc. ۱۹٦۰.

۲٦. Morgenstierne, Georg. Pashto Etemology, Oslo:

۲۷. Nida, Eugene A. ۱۹٤٦, Morphology(The Descriptive Analysis of Werds), Ann Arbor: The University of Michigan press ۱۹٦۱.

ketabton.com - The Digital Library

۲۸. Pike, Kenneth L. ۱۹٤۷, Phonemics(A Technique for Reducing Language to Writing), Ann Arbor: The University of Michigan press ۱۹٦۱.

۲۹. .... English Grammer,

۳۰. Wren, p.c. High School English Grammer, Bombay: K.&J. Cooper, ۱۸ h. ed.

۳۱. Encylopedia Britannica, ۱۹٦۲.

۳۲. Websters Now International Dictionary, ۲nd. Ed. And Websters New Collegiate Dictionary, ۱۹٦۱.

۳۳. Penzl, Hebert A Grammer of Pashto: A Descriptive study of the Dialect of Kandahar, Afghanistan, American Council of learned Societies, Washington, D.C. ۱۹۵۵.

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

www.ketabton.com

Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English